# د افغانانو تاریخ

د افغانانو تاریخ په نړۍ کي له نورو قامونو سره توپير لري دا ځکه چي افغانستان د جغرافيه په داسي علاقه دی چي له پخوا زماني څه بيا تر اوسنۍ زماني پوري د ډېر زورور ملکونو او قومونو د خپلو ګټو او مفاداتو لپاره دځته سترګي خړي کړي دي، او تر اوسه ورته محتاجه دي، خو پښتنو تل د خپل ناموس او د خاوري تحفظ ډېر په مېړانه کړی دی. د دې صورت حال په نتيجه کي پښتون بحېثيت قوم له علمه او ترقۍ لېري پاتي شو . کمال خان شېراني په دې اړه په يو مضمون کي خپل تاثرات داسي کاږي "ځکه پښتنو د قلم څښتن کم او د توري خاوندان ، سالاران زيات پيدا کړي دي".

په دې قسمه ټولنه کي زموږ تاريخ د دوو طبقو ذکر هر وخت کړی دی، څوک هغه اتلان دي چا چي د قام رهنمائي کړې ده او په دغه طبقه کي ډېرو خپل سرونه شيندلي دي چي نن هم هر پښتون افغان په هغو فخر کوي، خو څه داسي وګړي هم په دې دوران کي موجود وو چي هغو د قام په ناموس او د وطن په آزادۍ سترګي پټي کړي وې او هغه وخت يې د حکمرانانو خطابات او مراعات وظائف وغيره د ځاني ګټو لپاره بهتر ګڼلو، په تاريخ کي دا طبقه ډېره په سپکه نامه يادېږي، دا ځکه چي تاريخ د چا کردار نهٔ پټوي. افسوس دا چي دا صورت حال نن هم روان دی. له تېرو څلوېښتو کلو راهيسې په لر او بر پښتون افغان وطن کي اور بل دی. اختلافات د نورو قامونو تر منځ دي د هغو په خپلو مفاداتو سره جنګ دی خو د جنګ ميدان د پښتنو وطن دی. هغه دلته کي سره وژني، ګټه او سود د هغو دی، تاوان بې پښتانه قام دی، هم پښتانه په دې جنګ

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي لـه يـوه بـل سـره لاس او ګرېـوان دي. کېفيت دې تـه راورسـېدو چـي قاتـل د مقتـول پـه غـاړه چـاړه ايښـي ده او د تکبيـر ږغونـه کـوي او مقتـول د شـهادت کليمـه وايـي، نتيجـه دې تـه ورسـېده چـي نـن د زوی او پـلار ،د ښـځي او خاونـد او د ورور لـه وروړ سـره فکرونـه او لاري بيلي بيلي دي، چـا چـي دا اوربـل کـړی دی هغـه تـه تـول بـد وايـي، او څـوک چـي دا اور وژنـي هغـه تـه هـم خلـک بـد وايـي، د ښـځاو بـد تميـز سـمه لانجـه جـوړه کـړې ده. نـړۍ پکـي مـداخلت شـروع کـړی دی، د انـارکي دا منظـر يـو تـاريخي پـس منظـر لـري .نـن د ويـاړ خبـره دا ده چـي د پښـتو ادب لمـن دومـره پراخـه شـوه چـي د تـاريخي پېښـو منظـر يـا د خيالي تصوراتو اظهار په ښکلي انداز د ناول په شکل کي بيانوي.

د بر کلـي؛ پـه نامـه دې نـاول کـي د وړومبـي انګرېـز افغـان جنـګ پـه اخـري مرحلـې کـي د يـوه کلـي او د هغـه د ګـړو کـردار پـه خيـالي انـداز او پـه دې دوران پـه کلـي کـي د پېښـي عکاسـي پـه ادبـي انـداز فرضـي نومونـو سـره کـوي چـي پکـي د دې ځـای واقعـه کښـلې ده، او د ځينـو افرادو خصوصـاً د "مـلا زمـري" پـه نامـه کـردار ښـودلی دی. ريښـتيا هـم دا ده چـي پـه دې قسـمه پـه درجنـو کسـان د لنـدن پـه خصوصـي اداره کـي تربيـت کېـدو او بيـا بـه زمـوږ وطـن تـه د ملايـانو، روحـانينو او د مشـائخو پـه جـامو کـي را لېـږل کېـدو او هغـو بـه پـه دې اړه جاسوسـي کولـه، پـه اولـس کـي بـه يـې رشـوتونه وېشـل، د پښـتنو پـه مـنځ کـي د نفـاق او انتشـار پيـدا کولـو کـار کـړو. پـه دې لـړ کـي "لارنـس اف عربيـه" ډېـر شـهرت لـري چـي د ډېـره اسـماعيل خـان پـه سـيمه کـي د پاونـده پښـتنو سـره پـه پټيالـه نـومي يـو کلـي کـي مېشـته شـو. ښـه لمونځونـه بـه يـې کـول، تـل بـه يـې د قـرآن مجيـد تـلاوت کـاوه، ناروغـانو تـه بـه يـې تعويذونـه ورليکـل، دم او درود بـه يـې پـه چوکلـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځان يې د پير کرم شاه په نامه معرفي کړی ؤ. بيا هغه ؤ چې د دې جعلي انګرېز پير د افغانستان وطن دوست قام پرسته باچا امان الله خان باندې د کفر تور ولګاوه او په افغانستان کې يې داسي اور بل کړو چې په نتيجه کې امان الله خان له تخته لاس واخست. کله چې لارنس ډېره اسماعيل خان ته راتلو په دې دوران کې د نوشهره په سيمه کې د عيسی خېلو کلي ته د "ولهن" په نامه يو بل انګرېز د جاسوسي لپاره راغلو. هغه ځلور کاله دلته په مسجد کې امام ؤ، "اسلام او ميډيکل سائنس" نامي کتاب چې له لاهور څخه "مکتبه معراج انسانيت" اداري له خوا چاپ شوی دی د ولهن په اره ډېر د خوند مضمون شائع کړی دی. ليکي چې ولهن وايي "ما دلته يو کس پير جوړ کړو په علاقه کې د دې پير شهرت ويړولو لپاره حکومت د کلي وګړو ته د کلي خالي کولو التهي ميتهم ورکړو. خلک د دې پير خوا له راغلو، پير صاحب خلک له کلي خالي کولو منع کړو او ورته يې وويل که جهازونه بمباري وهم کړي د خدای په فضل به دا بمان ځای په ځای خاوري شي، چا ته به نقصان نهٔ رسيږي. هم دا وشو په مقرره ورځ حکومت په دې کلي د کاغذونو بمباري وکړه چا ته نقصان نهٔ ورسېدو، د پير صاحب مقبوليت او احترام زيات شو". هغه په مخ کاږي چې "ولهن وايي د افغانستان د باچا امان الله خان خلاف موږ ډېر دا شان کسان تيار کړل په هغو کې يو "ملا شور بازار" هم شامل ؤ".

دې کې شک نشته چې د دې جنګ په دوران کې هم ګڼ شمېر انګرېزانو د پښتنو قبائلو، مشائخو او د روحانينو په جامو کې په فرضي نومانو جاسوسي کوله چې په هغو کې "اليګزنډر برنس" د سکندر خان او د هغه هندو النسل سېکرټري "موهن لال" د اغا حسن

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نامه په پښتون افغان وطن کي ډېر په چالاکي سره بې خطره د جاسوسي سفر هر تاريخ دان بيان کړی دی. هو موهن لال د دې اقرار په خپل کتاب کي کړې. هم دا شان "ميجر پوټنګر" د روحانينو په جامو کي د خليفه پائينده خان په نامه او "کپتان انډرميسن" د مشائخو په جامو کي. د جاسوسي سفر تذکره دوی په خپلو ليکونو کي په ډېر فخر او ښکلي انداز سره کړې ده. هم د دې جاسوسانو پاشلی تخم پښتنو ته تر ير غلګر انګرېزانو لښکر دومره زيات سياسي نقصان ورساوو چي تر اوسه هغه کنډَو نه ډکېږي.

افسوس دا چي دا عمل اوس هم دغه شان روان دی. د اسلام په سپېڅلي نامه په زرګونو کسان پښتون افغان وطن ته راغلي دي، ۱۹۷۸ کال کي په افغانستان کي د سياسي بدلون سره په زرګونه امريکايي او يورپي عيسائيان او يهوديان د مسلمان مجاهدينو په جامو کي راغلو هم دوی سره عرب راغلو او په مختلفو سيمو کي دا خلک مېشته شو. بيا يې ځايي وګړي له خپلو مېنو بې دخله کړل، د بل ځای کسان دلته کي اباد شول او لر او بر پښتانه يې په داسي مصيبت اخته کړو چي د پښتنو ځُله تر اوسه ترخه ده.

د "بر کلي" په نامه دا ناول ليکونکی ځوان ليکوال زړ ګي عليخېل په دې کرښو کي د دې منظر عکاسي چي په کوم انداز کي کړې ده د سياست او د تاريخ د طالب علمانو لپاره ښه با اثر زيار او د ستايني وړ کار دی. د کاميابۍ په هيله.

عبدالعلي غورغشتی
۶ جون ۲۰۱۵ کراچي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زرګي "بر کلی"

ناول پښتو ژبي سره سل کاله اګاهو پېژندګلو وکړه او د اردو ژبي ورومبی ناول پښتو ته هم په هغه زمانه کي ترجمه شو. ولي ناول چي څومره په يورپي نړۍ کي وده وکړه او په اولس کښي مقبول شو، دومره دلته په پښتنو کي مقبول نۀ شو- بيا په اردو ژبه کي ناول ډېره په ټُندۍ سره ترقي وکړه او په اولس کي يې ځانته مقام پيدا کړو. په يورپ او اردو دانه طبقه کي د ناول وده او د هغې ترقي د ناول په تکنيکي ساخت کي ده. ناول په اسانه او امروزه ژبه کي ليکلی شي. د ناول مثال د ستېج دی چي مکالمه هم لري، شعرونه لري او سندري پکښي راځايولی شي. د دې نه علاوه د ناول په اولس کي ځانته مقام پيدا کولو کي يوه لويه وجه دا ده چي ناول د حقيقي خلګو حقيقي واقعات په افسانوي ډول وړاندي کوي. د روس په انقلاب او د يورپي قامونو په فکري انقلاب کي ناول لوی کردار ادا کړی دی. ناول د ښځو د فکري ودي مخکښ هم دی. په يورپ کښي ښځو په ورومبي ځل ناولونه وليکل او د ليکوالو په قطار کي او درېدلې.

د ناول په قسمونو کي يو مهم او غوره قسم تاريخي ناولونه دي. تاريخي ناول تاريخ خو نۀ وي، ولي د تاريخ حقيقي واقعات د کيسې په ډول لوستونکو ته وړاندي کوي. هسي خو پوهان وايي چي هر ناول تاريخي وي. ځکه چي د ناول د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکیسې اوپلاټ سره سره زمان او مکان هم ضروري وي او په هر ناول کې چې کوم واقعات بیان شوي وي، هغه دخپل وخت کلتور، کړۀ وړۀ، ژبه، فکر، ادب او د اولسي ژوند ژواک هنداره وي. ځکه چې دغه حالات دومره په تفصیل سره د تاریخ په کتابونو کي نۀ شي موندلی.

تاریخي ناولونه د یو خاص مقصد لپاره لیکلی شي او په تېره زمانه کې پېښ شوي ریښتوني پېښې په افسانوي ډول وړاندې کوي. په پښتو ژبه کې هسې خو ناولونه ډېر کم لیکلی شوي دي او بیا تاریخي ناولونه خو دنیشت برابر دي، په وړو کي دمالګي برابر هم نۀ دي. لکه د ښاغلي رحیم شاه رحیم ناولونه "بي بي مبارکه، غازي پیر خوشحال، سکندر اعظم" د ښاغلي غوث خېبري ناولونه "داور لمبې" او "د ابدالي توره" او اوس ددې لړۍ یوه بله کړۍ د زړګي علیخېل ناول "بر کلی" زموږ په لاسونو کښې دی.

زړګي علیخېل د وړو مبې افغان جنګ د زمانې یوه کیسه وړاندې کړې ده. په دې ناول کې د دوو کلیو د اوسېدونکو پښتنو خانانو، زمیندارو او ملایانو واقعات بیان شوي دي چې ځنګه ځیني خلک د انګرېزانو مرستیال وو او د انګرېزنه د مراعاتو او روپو پیسو دپاره یې خپل اولس په انګرېزانو وځپلو او تباه برباد کړو. موږ وینو چې دغه مراعات یافته طبقه نن هم د قام سره ټګي برګي کوي او د تور

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین مالکان دي. بل اړخ ته د انګرېزانو هغه چالونه يې هم برسېره کړي دي چې خپل جاسوسان يې د ملايانو او عالمانو په جامه کې رالېږلي وو. نن هم که څېړي موږ د انګرېزانو خپلي روزنامچې ولولو نو هم دغه څهري راښکاره کېږي چې د پیرا او ملا په جامه کي يې د پښتون قام سره کومي لوبي اوکړې. د زړګي علیخېل په "برکلي" کي موږ ته د غه عکس ښکاره کېږي. داسي ډېر واقعات دي چې د انګرېزانو جاسوسان دې سیمي ته د ملا او عالم په جامه کي راغلي وو. لکه د سوات په "علي ګرامه" کلي کي يو فرنګي يو ولس(۱۱) کاله د جومات امامتي کړې وه او کله چې بېرته انګلستان ته لاړو نو هلته يوه ورځ د يو سواتي (قمرګل) سره اتفاقي ملاؤ شو او ورته يې ويلي وو چې د علي ګرامي خلګو ته او وايه چې خپل لمونځونه را وګرځوي. دغه انګرېز به انګرېزانو ته د دې سیمي په هکله معلومات رسول. نو په دې ناول کي د ملا زمري کردار هم د داسي يو انګرېز دی. هم دغه رنګ د انګرېزانو ملګري خانان ئې هم ښودلي دي.

چونکې د ناول تقاضه وي چې حالات که ريښتوني هم وي په افسانوي ډول به وړاندي کېږي. نو زړګي هم ريښتوني واقعات په افسانوي انداز کي وړاندي کړي دي. د زمان او مکان خيال يې هم ساتلی دی او لوستونکی د تېري زماني حالاتويني. په دې ناول کي ښاغلي زړګي د ډېر تفصيل نه ډډه کړې ده او په واقعاتو يې زور راوړی دی. په دې ناول کي که د خان جهان غوندي د مال دولت لالچي شته نو هم د هغهٔ په کور کي يو وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــال او قـــام پرســـت هـــم شـــته چـــي د وطـــن لپـــاره د هـــر رنـــګ قربـــانۍ ورکولـو تـه تيـار وي. ګـوا کې داسي کردارونـه مـوږ تـه ډېر کـم پـه نظـر راځــي او مــوږ وينــو چــي کومــو خلګــو دفرنګــي ســره مرســته کــړې وه هغـــه قـــام پلـــوره خلـــک نـــن هـــم د ښـــيرازۍ ژونـــد تېـــروي او چـــاچي دفرنګـــي ســـره ډغـــره وهلـــې وه هغـــه دفرنګـــي او دهغـــه د بـــادارانو د لاسه نن هم خوار دي.

ښـــاغلي زړګـــي چـــي پـــه کومـــه موضـــوع قلـــم پورتـــه کـــړی دی دا نـــن هـــم هغـــه هـــومره اهميـــت لـــري. د پښـــتون قـــام او زلمـــي فکـــر توجـــه هـــم دې اړخ تـــه راګرځـــول د وخـــت مهمـــه تقاضـــه ده چـــي هغـــه د حـــالاتو او د وخـــت د غوښـــتنو ادراک وکـــړي. د وخـــت او زمـــانې ســـره ځـــان هـــم اهنـــګ کـــړي او خپـــل اولـــس د دې نـــاورين نـــه د ويســـتلو هڅـــي وکـــړي. د ښـــاغلي زړګـــي دا هڅـــه اوس ستاســـو پـــه لاســـو کـــي ده. هيلـــه ده چـــي زمـــوږ نـــور ليکـوال بـه هـم دې اړخ تـه پـام وکـړي او پـه دې لـړۍ کـي بـه خپلـي کـړۍ او پيئيلی شي.

رشيد احمد
پروګرام منېجر
ريډيو پاکستان مظفرآباد، آزاد کشمير

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې خبرې

پیل کوم د لوی متعال ښتن په سپیڅلي نامه چې د ارض و سماء مالک او خالق دی.

د ملګرو پښتنو په مرسته دا دی ناول ستاسو تر لاسو ورسېدی. زۀ د دې ناول په هکله هیڅ هم ویل نۀ غواړم، تاسو خپله دا ناول مطالعه کړئ او د خپل علمي شعور په رڼا کې د دې ناول د ښۀ او بد پرېکړه وکړئ. هو، دا ضرور ویل غواړم چې په دې ناول کې چې کومه واقعه بیان شوې ده هغه د افغان وطن او د پښتنو سره په تاریخ کې په بېلو بېلو ځایونو کې داسې پېښې شوي دي، او لا دوام لري. خو هغو حقائقو او ځایونو ته ما د ناول (اوږدې کیسې) څهره ورکړې ده چې زموږ نوی ځوان ادبي کهول له خپل تاریخ نه د کیسې په انداز خبر شي.

هر کیسه لیکونکی لیکوال دا هڅه کوي چې هغۀ یو خاص مقصد و خپلو لوستونکو ته د لیک په بڼه کې وړاندې کړي. په هره کیسه کې ځای نا ځای نیمګړتیاوې وي. هو دا منم چې په دې ناول کې به هم خامخا څۀ نا څۀ نیمګړتیاوې وي، خو هغه نیمګړتیاوې باید چې نظرانداز کړل شي او د ناول و کیسې ته پام وکړل شي چې څۀ مقصد لري. او زۀ د خپلو لوستونکو نه په لوی زړۀ دا هیله کوم چې د ناول په نیمګړتیاوُ پسې نۀ شي ولاړ، بلکې د ناول و مقصد ته ځیر شي.

زۀ او ښاد څېړونکي، لیکوال عبدالعلي غورغشتي صاحب ته لاس په دعا یم چې پر دې ناول یې د مینې ډک او تاریخي لیک ولیکلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـي دا وخـت لاژونـدی ؤ او د دې نـاول د چـاپ پـه انتظـار ؤ. (روح يــې ښاده، پر ګورېې نُور شه)

د دغـو ملګـرو د زړۀ لـه تلـه کـورودانی وايـم چـي پـه دې کتـاب کـي راسـره سـترې شـو لکـه محتـرم درونـد ليکـوال محتـرم رشــيد احمد صـاحب، محتـرم سـليم بـنګښ صـاحب، ګـران خليـل الله تصـميم، محمـود رشــي صـاحب او د سـباوون پښـتو ادبـي ټـولني کـوټي ټـول ملګـري چـي د دې کتـاب پـه خپرولـو کـي يـې ډېـر پـه مينـه او خلـوص کومک راکړ، يو وار بيا د زړۀ له تله مننه کوم.

نور تاسو کتاب لوستلو ته پرېږدم. په مينه او درنښت

زړګی علیخېل
سهېلي پښتونخوا کوټه اولس والي
۰۲،۰۳،۲۰۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېبــــل

○

مـازديګر، لمر پټېدو تـه نـيم سـاعت پاتـه ؤ. د كـوز كلـي د خـان جهـان زوی بازيـد خـان د پټـي پـه پولـه ګرځېـدی، يـوه نـری لښـته يـې پـه لاس كـي كلـه يـو بـوټی پـه ووهـي او كـل بـل، د ځانـه سـره كلـه كلـه يـوه سـندره هـم زمزمـه كـړي. هـم پـه دغـه پولـه د لـږ لېـري نـه دوې زنـاني پـه ټكريـو كـي پټـي د دهٔ پـه خـوا را روانـي وې. د دهٔ چـي ځنګـه پـه زنـانو نظر ولګېـدی نـو د پـولي نـه شـېوه شـو او لاره يـې بدلـه كـړه، زنـاني راغلـې د دهٔ پـه څنـګ كـي تېـري شـوې، د يـوې زنـاني مـخ لـږ ښـكاره ؤ ، د بازيـد خان سـترګي ناڅاپـه پـرې ولګېـدې، څـهٔ ګـوري چـي د ښائسـت يـوه ملكـه ده، تـوري غټـې سـترګي، تكـه سـپينه لكـه سـپوږمۍ، د حيـا نـه يـې سـترګي كښـته ګـوري د خپلـي ملګـري سـره روانـه ده. بازيـد د يـوې لحظـې د پـاره ورتـه هـك پـك شـو. دهٔ كلـه هـم داسـي حسـن و جمـال پـه خپـل ژونـد نـهٔ ؤ ليـدلی. دی لـږ پـه شـك كـي شـو چـي دا خـو تـا يـو ځـای ليـدلې ده خـو چېـري دي ليـدلې ده. خـو بېرتـه زر يـې سـترګي كښـته كـړې، زنـاني تېـري شـوې خـو د بازيـد خـان زړهٔ د هغـې ښائسـتې نـازنيني سـره ولاړی. زنـاني مـخ پـه وړانـدي روانـې وې او بازيـد د شـا نـه ورتـه كتـل، پـه زړهٔ كـي يـې راغلـل چـي پسـې روان شـي او وګـوري چـي د چـا د كـور دي. هـم د زړهٔ يې ومنل او پسې روان شو.

زنـاني نـهٔ وې خبـري چـي يـو څـوك را پسـې دی. زنـاني لـه مخـه او بازيد پـه ښـه فاصـله پـه پسـې ؤ. زنـاني د كـوز كلـي نـه ووتلـې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـخ پـه بـر کلـي روانـي وې. بازيـد هـم پسـې روان ؤ، مئينتـوب ستر گي ور ړنـدې کـړي وې، دا يـې هـم پـه سـوچ کـي نـهٔ ؤ چـي د کـوز کلي او بر کلي تر منځ اړيکي ښې نهٔ دي، خو بيا هم پسې روان ؤ.

دلتـه نـو وخـت هـم د ماښـام د لمانځـه شـو. د بازيـد بخـت کـار وکـړو، خلـک لمانځـه تـه تللـي وو. زنانـه پـه بـر کلـي کـي يـو کـور چـي د کـلا (قلعـه) غونـدي ؤ ننـوتلې. بازيـد تـه څرگنـده شـو چـي دا زنـاني د بهادرخـان د کـور دي. بېرتـه د خپـل کلـي پـه خـوا راسـتون شـو. زړهٔ يـې ولگېـدو چـي کـور خـو مـې يـې معلـوم کـړی او س نـو درځـه بېرتـه د خپـل کلـي پـه خـوا. څنگـه چـي د خپـل کلـي پـه خـوا روان شـو نـو وريـاد شـو چـي دا خـو بـر کلـی دی او د دې کلـي سـره زمـوږ د کلي اړيکـي ښـې نـهٔ دې نـو يـې زړ د وږې نـه څـادر پـر خپـل مـخ را تـاؤ کـړو، مـخ يـې پـټ کـړو چـي داسـي نـهٔ څـوک مـې ونـهٔ پېژنـي. زر زر يـې گامونه لوی کړل او د خپل کلي په خوا روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

دا د کال ۱۸۴۱ء خبره ده چې انګرېز سامراج د لوی پښتون افغانستان ټاټوبي په هکله يې د راتلونکي سباوون پاليسۍ ترتيب کړي وې. په کال ۱۸۳۹ء کې يې د لوی او تاريخي وطن د ننګياليو پښتنو څخه زخم خوړلی ؤ. د دهٔ زخم ورو ورو په جوړېدو ؤ او ځان يې د غچ اخستلو د پاره چمتو کړی ؤ. وسلې او نفري ته يې زور ورکړی ؤ چې څومره زياتېدی شي زياته يې کړي.د هندوستان د بېلا بېلو سيمو څخه يې نفري يعنې پنجابي سکهان، هندوان، زرخريد مسلمانان او خپل انګرېزي فوځيان پېښور ته راوغوښتل او جنګي تياري ته يې دوام ورکړو. دهٔ خپله جنګي پاليسي په دوو برخو وېشلې وه، يوه ښکاره او مخامخ جنګي پاليسي او بله پټه جنګي پاليسي چې د ملا، پير، خان، نواب، سردار، ملک په شکل کې وه. دهٔ دې ځل په پښتنو کې خپل زرخريد ملايان، خانان او نام نهاده پيران پرېښي وو چې هغوی د دوی د راتګ او د پښتنو د زړونو نه د وطن او دين اسلام جذبه وباسي او انګرېز سرکار ته لاره هواره کړي.

بر کلی (کلی بهادرخان) د جلال اباد د ښار څخه مخ په لوېديځ تقريباً اتلس ميله لېري په سرخرود اولسوالۍ کې د غرهٔ په دامان کې اباد ؤ. د دې کلي ابادي تقريباً نر او ښځه، ماشوم او زوړ ۳۰۰ ته رسېدله. بهادرخان د دې کلي خان ؤ. د دې کلي خلک د بهادرخان په خانۍ ډېر خوشحال وو. ولې چې د بهادرخان دسترخوان، سخا، مېړانه او انصاف تر لېري لېري رسېدلی ؤ. د دهٔ په دسترخوان به و هر غريب مسکين ته دوه وخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړي، د دهٔ په در به و هر مظلوم ته انصاف که څه به هغه هندو ؤ تر لاسه کېدو.

دي خان زوی نهٔ درلود. جائیداد یې تر حساب ‌ به تېر ؤ. بې شمېره بزګران، په کور کې یې نوکران هر هغه نعمت الله پاک ورکړی ؤ چې یو انسان یې تصور کولای شي، خو دهٔ به دا هیڅکله هم نهٔ ځر ګندوله چې زهٔ زوی نهٔ لرم، بلکې دهٔ به خپله لور زوی ګڼله. د دهٔ دا لور چې نوم یې پښتنه وه په دهٔ ډېره زیاته ګرانه وه. پښتنه چې نوم یې پښتنه وه هم دغسې په عمل هم پښتنه وه. دي پښتنې د کلي د ملا څخه ډېره زدکړه کړې وه. کله چې دا د پنځو یا شپږو کلو وه نو دا به جوماتته د درس د پاره تلهٔ. بیا چې کله دا د لسو یا دوولسو کلونو شوه نو د کلي ملا دا د جوماته څخه بنده کړه او ملا به پخپله د خان و کور ته ورتلو او پښتنې ته به یې درس ورکولو.

هم په دغه شپو کې یوه ورځ علي ګل اکا د بهادر خان مېلمستون (حجرې) ته راغی. خان د نورو مېلمنو سره په حجره کې ناست ؤ، چې پر علي ګل اکا یې سترګې ولګېدې نو وروړ شو او پر غږ یې کړو.

راځه راځه علي ګل اکا خدای دي راوله. خان ورمخ ته شو او روغبړ یې ورسره اوکړو.

علي ګل اکا د روغبړ نه پس و ټولو ناستو مېلمنو ته سلام وویلو ،په ځواب کې ټولو وعلیکم ورته وویل.

علي ګل اکا خپله لکړه یوې خوا ته کېښښوده او د خان په څنګ کې کېښېنستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایه علي ګل اکا چېري وې، خو هيڅ درک دي نۀ ؤ؟ خان پوښتنه ئني وکړه.

بهادرخانه څۀ درته ووايم. تللی وم د لور کورته. علي ګل اکا په سړه اسوېلي ورته وويل.

دا خو ډېره ښۀ خبره ده،نو کله له خېره راغلې ؟

پرون ماخوستن راغلم.

ښه نو څنګه وه لواړګه[1] ؟خېر خېريت ؤ پکې ؟لور او زوم دي څنګه وو ؟

ښه ؤ... علي ګل اکا د مايوسۍ په انداز کي ورته وويل.

علي ګل اکا يا خو ډېر ستړی يې او يا خو يوه کيسه ضرور شته چي دا سي ځواب دي راکړو. خان په تجسس کي پوښتنه ئني وکړه.

بهادرخانه څۀ درته ووايم،هلته مي عجيبه خبري واورېدې..... علي ګل اکا ورته وويل.

څنګه عجيبه خبري ؟ خېر خو دی، هغه لور خو دي خوشحاله ده ؟ خان بيا پوښتنه ئني وکړه.

هو شکر هغه ډېره خوشحاله وه، خبره بله ده.

څۀ خبره ؟

ما هلته د خلګو د خُلې واورېدل چي انګرېزان بيا راروان دي او د دې واره هغوی ډېره ښۀ تياري هم نيولې ده، هغوی د کرنل ونډ، د سکهانو (پنجابيانو) او انګرېزانو مړو د بدل پسې راروان دي....علي ګل اکا ورته وويل.

[1]: لواړګه په خيبر ايجنسۍ، خيبر پښتونخوا کي د تورخم سره تړلې علاقه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي ګل اکا کـه داسـي وي نـو مـوږ هـم څـه بنګړي نـهٔ دي پـه لاس کـړي. هـم هغسـي بـه يـې ذليـل کـړو لکـه اوس اوس پـه دې کـال کـي مـو ذليله کـړل، او بلـه دا چـي کـه دا خبـره رښـتيا وي نـو انګرېز بـه دې واره ښـهٔ پـه طاقـت سـره ميـدان تـه را دانګـي. خـان پـه ځـواب کـي ورتـه وويل.

د کـوټـې پـه کـونج کـي ناسـت د کلـي يـو سـپين ږيـري پـر خـان غـږ کړو چي؛

بهادرخانـه! دا خبـره تېـره مياشـت هـم علـي ګـل کـړې وه خـو انګرېز خو پرېږده د انګرېز سپی مي هم لا نهٔ وليدو.

جـانو اکـا! تـهٔ نـهٔ يـې خبر کـه دي ځـان اچـولی دی. کلـه چـي زمـوږ د ازادۍ تحريـک پيـل شـو نـو دې علـي ګـل اکـا بـه د دې تحريـک تبليغـات کولـو. بيـا چـي کلـه مـوږ پـه کابـل کـي د شـجاع الملـک او انګرېزانـو غاښـونه ورمـات کـړل نـو هـم دې علـي ګـل اکـا زمـوږ د غازيـانو پـر زخمونـو مـرهم ايښـودو. د علـي ګـل اکـا خبـره زهٔ هيڅکلـه هم نهٔ شم غور ځولی.

زمـا پـه يـاد دي چـي کله د انګرېزانـو فـوځ پـه دې لاره تېښـته کولـه نـو زمـوږ مجاهـدينو هغـه ټـول مـړهٔ کـړل. پـه شـمېر اوولـس (۱۷) زره کسـان وو، جـانو اکـا! اورې اوولـس زره کسـان. خـان، جـانو اکـا تـه پـه ډاډ دا خبره وکړه.

نـو پـه هغـو کـي مـو يـو څـو کسـان ولـي پرېښـودو؟ جـانو اکـا سوال ځني وکړ.

هـو پـه هغـو کـي مـو لـس وو کـه دوولـس ژونـدي پرېښـودل. پـه هغـو کـي يـو ډاکټر برائيـډن ؤ او يو څـو نـور کسـان، دا مـوږ تـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبرخان (وزیر اکبرخان) له خوا امر ؤ. خان په ځواب کې ورته وویل.

د دې وجه څهٔ وه؟ یو چا د بلي خوا سوال وکړ.

د دې وجه دا وه چې انګرېزانو ته دا څرګنده شي چې موږ د دې خاورې د پاره څهٔ څهٔ نهٔ شو کولای او دوی ته زموږ د طاقت عیني شاهد هم ضروري ؤ چې افغانان څومره غیرت مند دي او بله دا چې افغان هیڅوک نهٔ شي غلامولای، هان زموږ بد قسمتي دا ده چې زموږ واکداران صحیح خلک نهٔ دي راغلي.

تا نهٔ وکتل کله چې موږ کابل فتح کړ نو شجاع الملک ورک شو. موږ د هغه زوی فتح جنګ د وطن پر تخت کښېناؤ خو هغه هم د انګرېز غلام وختو او په شپه شپه کې د شپنو په جامه کې له کابله وتښتېدو او دلته جلال اباد ته راغلو. دا زموږ بد بختي ده چې موږ یو صحیح مسلمان باچا نهٔ کړو پیدا چې د دې انګرېز سامراج غاښونه یې ورمات کړي وای. هان اکبرخان د دې وطن په صحیح معنا بچی دی. هغه د وطن د ازادۍ بېرغ جګ ساتلی دی. باید چې موږ د اکبرخان ملاتړي شو او د دې وطن په ننګ کې وړه په وړه د اکبرخان سره روان شو. علي ګل اکا چې کومه خبره راوړې ده هغه کېدای شي چې سل په سله صحیح وي. باید چې موږ له ننه څخه تیاري ورته ونیسو. خان و ټولو ته د نصیحت په توګه وویل.

بهادرخانه! تهٔ یو کار وکړه. علي ګل اکا ورته وویل

هغه لکه څنګه؟

هغه لکه داسي تهٔ یو څوک جلال اباد ښار ته ولیږه هغه دي هلته ټول حال معلوم کړي. بیا تهٔ داسي وکړه چې اکبرخان ته یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خط ولېږه. په هغه کي ټول تفصيل بيان کړه او د هغه ځواب طلب کړه چي څۀ کول پکار دي. علي ګل اکا ورته مشوره ورکړه.

دا خو دي ډېر ښه راته وويل. علي ګل اکا زۀ به انشاﺀالله هم دا اوس يو څوک ولېږم. څنګه دي خوښه ده؟ خان ورته وويل.

زما خود خوښه ده. او بايد چي د دې خلګو هم پوښتنه وشي. علي ګل اکا د ناستو خلګو خوا ته اشاره وکړه.

زموږ خو خود خوښه ده. بايد دا کار يو داسي زمه وار ته وسپارل شي چي هغه موږ ته صحيح معلومات را ورسوي. په ناستو خلګو کي يو سپينږيري دا خبره وکړه.

نو سمه ده، زۀ به د حاجي غلام و زوی ته دا کار ورسپارم که د حاجي غلام دا خوښه وي. څنګه حاجي صاحب خوښه دي ده که نۀ؟ خان د حاجي غلام اکا و خوا ته په کتو کي دا خبره وکړه. کوم چي د کوټې د دروازې سره ناست ؤ.

د خير کار او پوښتنه؟ زۀ څه مجال لرم چي خپله خوښه نا خوښه ووايم. زۀ به خپل زوی انشاﺀالله خامخا د رالېږم، تۀ بې غمه اوسه، هغه ډېر بېداره عسکر دی، که پوهه شوې. حاجي غلام اکا د خپل ځای څخه راجست شو، په دوو تلو کښېنستی او په ډېر ډاډ يې و خان ته دا خبره وکړه.

خوشحاله اوسې ستاغم دي خدای نۀ رابانډي ويني. هو دا منم چي زوی دي ډېر هوشياره او باتوره ځوان دی، په دې خو مي د هغه خبره وکړه، تۀ ورشه او زوی دي زر تر زره راولېږه، وخت نۀ لرو بايد چي د وخت له مخه موږ تياري ونيسو. خان حاجي غلام اکا ته ځواب ورکړ او نورو خلګو يې هم تائيد وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

د غرمې وخت ؤ، ګرمي هم دومره زياته نهٔ وه، ولې چې تېر ماخوستن باران شوی ؤ، هوا لږ غوندي خونکه وه، په کوز کلي کې د کلا په څېر د يوه غټ کور په يوه کوټه کې بازيد خان پر بستره ستوني ستخ پروت پورته چت ته يې ځير ځير کتل او د خيالونو پر نيلي سپور يوه دنيا يې جوړه کړي وه. په دې دنيا کې دی او د دهٔ سره يوه نازنينه وه چې دهٔ په خپل ژوند کې صرف دوه واره ليدلې وه. دهٔ ته ورپه ياد شو چې دا خو هغهٔ پېغله ده چې دهٔ دوه کاله مخ کې د انګرېز سامراج خلاف په جنګ کې ليدلې وه. اول وار يې په جنګ کې هغه وخت ليدلې وه کله چې دې نازنينې و ټپيانو ته پټۍ ورلګولې. دا ځوان هم لږ غوندي زخمي شوی ؤ، دې نازنينې دهٔ ته پټۍ لګولې وه، دهٔ چې کله دا نازنينه وليدله نو خپل معمولي زخم يې هېر شو. دې نازنينې د دهٔ په زړهٔ کې ځای جوړ کړو او دی دا وخت د هغې نازنينې په خيالونو کې ورک ؤ چا چې د دهٔ پر زخم مرهم لګولی ؤ. دوې ورځې مخ کې يې بيا په خپل کلي کې اوليدله او ځان ته يې معلومه کړه چې د چا د کور ده. دا مينه د يوې خوا مينه وه. د آبلې خوا خو هيڅ اشاره هم نهٔ وه. بازيد د ځان سره سوچ کاوه چې څنګه به خپل د مينې اظهار ورته کوم؟ څنګه به يې خپلوم؟ دا سوچونه وو چې شپه او ورځ يې وهل.

بازيد خان د کوز کلي د خان، خان جهان زوی ؤ. پلار د دهٔ د پاره هر نعمت راوړی ؤ، هر نازيې اخستی ؤ، صرف دومره به يې ځنې غوښتو چې له جنګه لېرې شي. خو دا ځوان چېري له جنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېـري کېـداى شـو. د دۀ پـه زړۀ کـې د وطـن او سـپېڅلي ديـن جذبـه وه. دا جذبه چېري سرېدى شوه.

بازيـد پـه خپلـو سـوچونو كـې غـرق ؤ چـې پـلار خـان جهـان كوټې ته را ننوتى. پر بازيد يې غږ كړو چې؛

بازيده، او بازيده

جـج، جي بابـا. بازيـد يـودم د خپلـو سـوچو څـه و اصـلي دنيـا تـه راغى.

څـۀ سـوچونه وهـې. خـان جهـان لـږ پـه تُنـده لهجـه كـې ځنـې وپوښتل.

هيڅ نۀ بابا. دغسي پروت وم.

نـن ماخوسـتن څـه مېلمانـه دي. يـو پسـه حـلال كـړه او صـادين اشپز ته حال وركړه چې راشي او ښه كبابونه پاخه كړي.

سمه ده، بازيد خان جهان ته ځواب وركړو.

خـان جهـان هـم د دې خبـري سـره سـم ولاړى. بازيـد بيـا سـوچونو تـه دام ور واچـوى خـو سـوچونه يـې پـه دام كـې نـۀ شـو راګيـر، دى هـم ولاړ شـو او د كـور و هغـه څنـډې تـه ولاړى چېـري چـې پسـونه ولاړ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

مازدیګری ؤ......

پښتنې د کور د کاره ځان خلاص کړی ؤ، هغه په خپله کوټه کې ناسته په رخت یې ګل دوزي کوله، په کوټه کې د ډیوې رڼا د پښتنې په مرسته کې ځان داسې روښانه ساتلی ؤ لکه د څوارلسمې سپوږمۍ چې و یوه مسافر ته د خپل منزل لار ورښیي.

دا خپل په کار کې دومره مصروفه وه چې د کوټې و دروازې ته یې هم پام نهٔ ؤ. پلار بهادرخان په دروازه کې ولاړ په ډېر ناز یې خپلې لور پښتنې ته کتل. دهٔ ته د پښتنې د ماشوم توب هغه وخت ورپیاد شو کله چې به دا د مور په غېږ کې وه او هغه به هم دغسې د پښتنې په ناز کې مصروفه وه. خپل په چاپېریال به هیڅ نهٔ وه خبره. هم دغسې به بهادرخان خپلې ګرانې مېرمنې ته ولاړ په مینه کتل. د دهٔ مېرمن تېر کال د یوې ناروغۍ له ستمه د دې دنیا څخه کوچ کړی ؤ. د هغې بېلتون بهادرخان او پښتنې ته ډېر زیان رسولی ؤ. بهادرخان چې به کله یوازې شو نو د خپلې ګرانې مېرمنې په یادونو به یې ځان غولولو. خو چې کله به یې پر پښتنې سترګې ولګېدې نو به یې زړهٔ بېرته خوشحاله شو. د مېرمنې غمجن یادونه به ترېنه لاړو او د لور پښتنې خوږه خندا به ورته په مخ کې خوره شوه.

بهادرخان له ډېره وخته په دروازه کې ولاړ لور ته کتل، اخر یې خپلې غاړې تازه کړې.

پښتنې چې کله د خان غږ واورېدو نو جسته راپورته شوه

خان لاله تهٔ؟ راځه. پښتنې زر قالین ورته سم کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـهٔ نـهٔ بچیـه خپـل کـار کـوه، ناحقـه مـي لـه کـاره وباسـلې. خـان پـه هغه ځای ولاړ ځواب ورکړو.

کارونـه خـو هـر وخـت کېـږي خـو د خـان لالـه سـره مجلـس کلـه کلـه. ولـي خـان لالـه مـوږ تـه دومـره نـهٔ دی خـلاص لکـه چـي دې کلـي ته خلاص دی. پښتنې په مسکا کي ورته وویل.

نـهٔ بچیـه داسـي نـهٔ ده، تـهٔ زمـا د وجـود برخـه یـې، زمـا روح یـې، روح او وجـود هیڅکلـه هـم نـهٔ شـي جـلا کېـدای، چپ لـه مرګـه. خـان په ځواب کي ورته وویل.

خـان لالـه زهٔ مـنم چـي زهٔ او تـهٔ یـو ځـان او دوه وجـوده یـو، هسـي مـي ټـوکي درسـره کـولې، تـهٔ راشـه دلتـه کښـېنه، لـږ مجلس راسـره وکړه. پښتنې بیا په مسکا ورته وویل.

خان راغی او د دې په څنګ کي په قالین کښېنستی.

بچیـه تـهٔ ډېـره لـه کـوره مـهٔ وزه، حـالات ټهیـک نـهٔ دي، خـان د نصیحت په توګه ورته وویل.

ولــي خــان لالــه! خیــر خــو دی، تــهٔ ماتــه پرېشــان غونــدي ښکارې.

هیڅ خبره نهٔ ده، هسي مي تاته ویل چي ډېره مهٔ وزه.

ټهیـک دی تـهٔ چـي څنګـه وایـې هغسـي بـه کېـږي، خـو زهٔ ګـودر او د ګل میني کره ضرور ځم، زما هلته ښه سات تېرېږي.

سـمه ده هلتـه د تلـو اجـازه تاتـه شـته. خـان پـه مسـکا کـي ورتـه وویل.

پښتنه هم خوشحاله شوه او له ځایه ولاړه شوه.

زهٔ ځـم تالـه مـرۍ را اخلـم، ټولـه ورځ دي د خلکـو پـه خدمت کـي تېره کړې ده. پښتنې د ولاړېدو سره سره ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـا بچیـه ! زۀ مـو ړیـم، زمـا خـوا تـه هـیڅ نـۀ کېـږي....... تـۀ داسـي وکـړه چـي یـوه پیالـه ترخـې چـای راجـوړي کـړه، لـږ بـه مـي سـتړیا پـرې وسـا شـي. خـان پـه مینـه پښـتنې تـه وویـل او د کـوټې و دېوال ته یې ډډه ایله کړه.

سـمه ده خـان لالـه اوس بـه یـې زغـرد درتـه پخـې کـړم. پښـتنې دا خبـره وکـړه او د اشـپز خـانې خـوا تـه روانـه شـوه. خـان هـم خـدای خبـر چې د کومو سوچونو و سمندر ته لاهو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

د خـان جهـان پـه حجـره کـې يـو مـلا ناسـت ؤ او ګېـر چـاپېره د کلـي علاقـې خلـګ راغلـي ناسـت وو. دې مـلا تـه نـزدې مخـامخ يـو سـپين ږيـرى ناست ؤ او ملا ته ګويان ؤ چې؛

مـلا صـاحب! زمـا غـړي خـوږيږي، څـۀ پـه وکـړم خـو د لمانځـه يـې لا ايسـتلى يـم. تـۀ يـو دم يـا تعويـذ راکـړه چـې دا خپـل لمـونځ خـو پـه کـراره ځـنې وکړم له دې ميرات مړي دړده.

کاکـا! خـود بـه دې غـړي خـوږيږي. جنـګ د باچهـانو تـر منـځ دى او پـه کـې غـورځې تـۀ، کـرار پـر کـور کښـېنه، تسـبې راواخلـه او الله الله کـوه، دا دنيا به دې هم سمه شي او هغه دنيا هم، پوه شوې.

تۀ يا هم يو دم راباندې وکړه. سپين ږيري ورته وويل.

سمه ده و به يې کړم خو زما پر خبره به هم عمل کېږي.

خود به يې کوم. ملا خو د خداى د لاري تر موږ ښه خبر وي.

مـلا صـاحب پـه سـپين ږيـري دم وکـړى. سـپين ږيـرى ولاړ شـو او ولاړى. يو ځوان ورانږدې شو او ملا ته يې وويل چې؛

مـلا صـاحب اولاد نـۀ لـرم، تـۀ يـو تعويـذ راکـړه چـې خـداى اولاد راکړي.

اولاد بـه دې څنګـه کېـږي چـې نفـس دې د باچـا د غنمـو پـه خوړلـو سـوړ دى. د باچـا غـنم سـاړه دي سـاړه، او د خپلـي بـاچهي د پـاره يـې سـتا سـو پـر وجودونـو خپلـه مـانۍ جګـه درولـې ده. دى لګيـا دى د انګرېـز سـره جګـړه کـې هغـه هم ستاسو د بـازو پـه زور. کلـه يـې دا پو ښتلي دي چې اولس مې څـۀ مجبـورى، نـاروغۍ او سـتونزي لـري. بـس خپلـه بـاچهي دربانـدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوري او ته لالګيا يې د هغه د باچهي د ساتلو د پاره بچې غواړې هان. ملا ډېر په تُند لهجه دا خبري وکړې. ځوان حيران شو چي په ملا څه وشو.

ملا صاحب د باچا او د انګرېز د جنګه مي توبه ده، ته ما ته تعويذ راکړه چي خدای اولاد راکړي. د وادهٔ مي ۵ کاله شوي دي. ستا نوم مي واورېدی چي ستا په خُله او دم کي شفا ده نو درته راغلم. بس ته به يې کېږې خدای به يې کيي. ځوان ورته په زاری شو.

تعويذ درکوم خو د جنګه به ډډه کيږې، کنې تعويذ کار نهٔ کيي.

درته ومي ويل چي د آپلار مي لا توبه ده چي د باچا د پاره به جنګ کوم.

سمه ده، آن دا واخله، دې ته به دري سپين او دوه تور پوښونه ورکړې، بيا به د څرمن يو پوښ ورکړې او په غاړه به يې کړې. خدای به اولاد درکړي.

ملا صاحب ستا يې کوروډان، څو شکرانه دي شوه؟ ځوان ورته وويل.

زما شکرانه دا ده چي جنګ به نهٔ کيږې بس.

ته بېغمه شه ملا صاحب. چي يو وار مي وويل بيا نو د چا پلار هم په ما جنګ نهٔ شي کولای.

ځه ورځه په مخه دي ښه. ملا صاحب ځوان رخصت کړو. ملا صاحب ژر تنګ ته ناست خان جهان ته ستر ګه وو هله هغه پوه شو چي ملا صاحب څهٔ ويل غواړي نو يې پر خلکو ږغ کړو چي؛

ورونو! ملا صاحب ډېر ستړی دی تاسو داسي وکړی چي سبا له خېره راشئ. نن به ملا صاحب لږ آرام وکړي. خلک هم ولاړ شول او ولاړل. په کوټه کي يو ملا صاحب او بل خان جهان پاته شول دواړو يو بل ته وکتل او ويې خندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

انګرېـزدې ځلـې پـه ډېـر لـوى طاقـت او جنګـي سازوسـامان سـره پـه کابـل د بريـد کولـو تيـاري کـړې وه. د ازادۍ د تحريـک مشـر وزير اکبرخـان هـم هـري خـوا تـه قاصدان استول. هغـه دې ځلـې انګرېزانــو تــه ډېــر ښــه دام جــوړکړی ؤ. د انګرېزانــو بــې شــمېره فوځيـان دځ پـه تېـر جنـګ کـې بنـديان کـړي وو. د کابـل د شـاوخوا سـيمو خلـګ پـه ګـڼ شـمېر تعـداد کـې د تحريـکِ ازادۍ پـه لښـکر کـې شـاملېدو. کلـه چې انګرېزانـو دا وليـدو نـو يـې پـه تېښـته کـې د ځان خير وګڼلو.

د جنـرل پالـک پـه مشـرۍ کـې انګرېـز لـه کابلـه وتښـتېدو. دلتـه پـه جـلال اباد کـې انګرېزانـو خپـل ظلـم تـه دوام ورکـړو. پـه ښـار او شـاوخوا سـيمو کـې د تحريـکِ ازادۍ د مجاهـدينو او د انګرېزانـو ترمنځ پـه وار وار جنګونه روان وو.

دا د کــال ۱۸۴۲ء د مئــۍ مياشــت وه. پــه کلــي بهادرخــان بانـدې د انګرېزانـو (بشـمول پنجـابي سکهـ) يـو ډېـر لـوى ريجمنـټ (د فـوځ دسـتې) حملـه وکـړه. د کلـي خلګـو پـه مېړانـه د کلـي دفـاع وکـړه. بهادرخـان د کلـي د لښـکر سـالار ؤ، د کلـي مـلا چـې پـه اخونـدزاده مشــهور ؤ وړه پــه وړه يــې د بهادرخــان سـره د جنــګ سنګر تـود سـاتلى ؤ. علي ګـل اکـا، جـانو اکـا، غـلام اکـا ټـول پـه دې ننـګ کـې شـامل وو. ځوانـان يـو تـر بلـه د مېړانـي او د غېـرت تـاج پـر سر د ايښولو هڅه کوله.

پښـتنه د ګـل مينـې او نـورو پښـتني مېرمنـو پـه مرسـته د سـنګر د ټپيـانو پـه ټپونـو يـې ملهـم لګـاؤ، کلـه بـه يـې مجاهـدينو تـه اوبـه ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورلېږي، کله به يې له خپله کوره د توپک کارتوس که د کوم چا سره به توپک ؤ ورسوو. د پلار سره سمه ورېه پوره د وطن د ازادۍ په ننګ کي ولاړوه.

بازيد په نقاب کي پټ د بر کلي د مجاهدينو سره په دې ستر کار کي شريک ؤ، دی د پلار د نظريې مخالف ؤ، دهٔ د پلار توپک راپټ کړی ؤ، کارتوس د خان د کوره ور رارسېدل، خو په دې ټول واقعه کي د دهٔ سترګي پر هغه چا برابري وې د کوم چا د پاره چي دهٔ د پلار توپک راپټ کړی ؤ. حالانکې د دهٔ پلار خان جهان د انګرېزانو سره صلح کړې وه. هغه خپل کلی انګرېزانو ته سپارلی ؤ. انګرېزانو د دهٔ د کلي د هر کور څخه خپلي ارام ګاوي جوړي کړي وې. د کلي په شاوخوا کي يې پوستې (مورچي) جوړي کړي وې.

د جنګ څخه دوې اوونۍ مخ کي بهادرخان و خان جهان ته حال لېږلی ؤ او ورته يې ويلي ؤ چي جهاد ته ځان تيار کړه. اول خو خان جهان هو ورته وکړه خو بيا وروسته د دهٔ کره څه مېلمانه وليدل شول. په هغو کي يو ملاهم ؤ. دا ملا، ملا زمری نومېدو. دې ملا د کلي په جوماتونو کي لمونځ ورکول پيل کړو. زوړ ملا خدای خبر چي چېري ورک شو. دې ملا به د غازي وزير اکبرخان خلاف خبري کولې. انګرېزان به يې انسان دوسته، امن پسنده، انصاف داره او د دې وطن دوستان ګڼل.

دغه دوران روان ؤ چي يوه ورځ بهادرخان علي ګل اکا او اخوندزاده صاحب و خان جهان ته ولېږل. دوی خان جهان د جنګ له پاره نهٔ کړو قائل. د خان جهان په مېلمستون کي دا بحث

(c) ketabton.com: The Digital Library



شروع ؤ چي ملا زمری راغی. خدای خبر چي چا خبر کړی ؤ چي د خان جهان په مېلمستون کي داسي کیسه شروع ده.

د سلام و دعا نه پس خان جهان د علي ګل اکا او اخوندزاده صاحب تعارف ورته وکړو او هغه خبره یې هم ورته وکړه د کومي خبري د پاره چي دوی دواړه راغلي وو.

ملا زمري چي دا واورېدل نو یې په ډېر ادب او احترام خپلي هغۀ خبري پیل کړې د کومو خبرو چي دی دې کلي ته راغلی ؤ.

علي ګل اکا او محترم اخوندزاده صاحب! تاسو به خبر یاست یا نۀ یاست خبر چي دا خلک زما مطلب انګرېزان د څۀ د پاره دلته راغلي دي. انګرېزان څۀ وحشیان نۀ دي چي خلک خوري، هغوی د انسانانو تر منځ دوستي جوړوي، دلته به پاخه پاخه سړکونه جوړ شي، خلکو ته به روزګار تر لاسه شي، تۀ ورشه په هندوستان کي وګوره څومره امن، خوشحالي، ورورګلوي او ترقي روانه ده، باید چي موږ و انګرېزانو ته څه ضرر ونۀ رسوو، دا جنګ د باچهانو دی، هغوی د خپل تخت د پاره ما و تا جنګوي، خپله د کلا په څیر په غټه ماڼۍ کي ناست وي، مرو موږ، تپیان کېږو موږ، زموږ بچیان یتیمان کېږي، لاکن ګټه و دوی ته رسي، د دوی بچیانو ته رسي، باید چي موږ په دې خبرو سر سره خلاص کړو، باید چي موږ او لس په دې غوبل کي ځان نۀ کړو شریک.

د دې خبرو اورېدلو سره اخوندزاده صاحب ولاړ شو او علي ګل اکا ته یې وویل؛ راځه علي ګل اکا، خان جهانه موږ ته اجازه راکړه، موږ به ستا او د زمري ملا په خبرو غور وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ولي نۀ خود، که څه ضرورت وي موږ به پخپله ستاسو کلي ته در شو، که څنګه خان جهانه. ملا زمري د خوشحالۍ په اندازکي وويل او بيا يې خان جهان ته مخ را واړوی.

هو هو بالکل دا خو د خير کار دی، خلک له مرګه ساتل خو ډېر لوی کار دی. خان جهان ورته وويل.

موږ ته راکړئ اجازه موږ ولاړو، تاسو خپل مجلس وکړئ، د خدای په امان. اخوندزاده صاحب دا خبره پوره کړه او روان شو.

سمه ده په مخه مو ښه، بيا موږ ته حال راکړئ. ملا زمري ورته وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

یعنـي انګرېـز خپـل زار پـه دې علاقـه کـي پاشـلي دي. خـان و اخوندزاده صاحب ته د سوچ وهلو پس دا وویل.

هـو خانـه ! دا سـړی ډېـر زیـات مشـکوک دی، یـوه میاشـت مـخ کـي زۀ د خـان جهـان د مـور فاتحـه تـه تللـی وم نـو د خـان پـه مېلمسـتون کـي زاړۀ قالینـان هـوار ول، اوس چـي مـو وکتـل نـو یـې قالینـان، د دربچـو پـړدې هغـه هـم هندوسـتانۍ، د خـان جـامې، څادر، لونګۍ هر څه نوي وو. اخوندزاده صاحب ورته وویل.

اخونـدزاده صـاحب دا د انګرېـز زرخریـد دي، لـه دوی څخـه بـه ځـان او د کلـي علاقـې هـر سـړی هـر ځـوان حتـی چـي ماشـومان بـه لا هم ځنـي سـاتو، د دغسـي خلګـو لـه لاسـه د اسـلام او د دې لـوی تـاریخي قـام نـوم بـدنام دی، یـو مـوږ یـو چـي د وطـن او دیـن دفـاع کـوو او بـل د دوی رنګـه خلـګ دي چـي د دیـن او د وطـن د دښـمنانو سـره د څـو پیسـو او اسائشـو پـه خـاطر تـول ایمـان نـاموس او ننـګ خـرڅ کـړي، خیـر ښـه شـو چـي د خـان جهـان څهـره رامعلومـه شـوه، اوس نـو بایـد چـي مـوږ خپله تیاري ونیسو. خان ورته وویل.

دا د هغـه وخـت کیسـه ده چـي انګرېـز لا دې کلـي تـه نـه ؤ راغلـی. خـو انګرېـز خپـل زرخریـد خلـګ پـه دې علاقـو کـي د مـلا او پیـر پـه جـامو کـي خپـاره کـړي وو. انګرېـز د مـلا او پیـر سـره سـره د کلـي علاقـو بـا اثره خلـګ هـم د ځـان ملګـري کـړي وو. خـان، ملـک، سـردار، نـواب رنګـه خلـګ یـې د ځـان غلامـان کـړي وو. د ډېـرو خلګـو خواهشـات یـې ورپـوره کـړي وو. نـام نهـاده نوابـان، سـرداران، ملکـان او خانـان یـې د خپلـو ګټـو د پـاره جـوړ کـړي وو. د پښـتانه قـام

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصل نوابان، سرداران، ملکان او خانان یې د دغسې بې ناموسه مشرانو په لاس ورو ورو ختمول پیل کړي وو. ملا په هغه وخت کې د یو باچا حېثیت درلود. د دۀ خبره بلا تحقیق د قران توری بلل کېدی. ساده پښتون اولس د داسې ملایانو د ضمیر فروشۍ نه خبر نۀ وو. خبرېدو به څنګه؟ که چا رښتیا خبره کوله نو هغه به مرتد او کافر ګڼل کېدو. ساده پښتون په دې څۀ خبر ؤ چې د ملا په جامه کې ماته د انګرېز روزلی جاسوس یا تنخوادار راغلی دی. هغه په دې څۀ خبر ؤ چې د دې ملا په اوږه انګرېز توپک ایښی دی. هغه ملایان او بزرګان څوک چې د تحریک ازادۍ په لار کې دننګ ولاړ وو هغه به یې په څۀ نا څۀ پلمه یا طرِیقه ختمول د دوی مقدس مقصد او دنده وه. هم په دې مقدسه خلګو کې یو ملا زمری هم ؤ چې انګرېز سامراج د وطن د وګړو د غلامولو د پاره د ځان سره په دې مقدسه کار کې شریک کړی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

مازدیگر لمر پټېدو ته نیم ساعت پاتې ؤ چې سخي بزگر د خان د ځمکو نه د کور په خوا روان شو. هغه د پټو په پوله بیلچه په اوږه روان ؤ چې د شا د خوا غږ په او شو،

سخي، آ سخي،

دۀ چې شا ته وکتل نو د کلي ملا اخوندزاده صاحب یې تر سترگو شو نو ورته ودرېدی.

اخوندزاده صاحب هم ورته راغی او د سلام نه وروستو هم په هغه خوا ورسره روان شو په کومه خوا چې سخي بزگر روان ؤ.

اخوندزاده صاحب څنگه یې او دې خوا ته څنگه را چکر شوې؟ سخي ښه په مسکا ځني پوښتنه وکړه.

سخي جانه ستا پسې راغلی یم، د یوې خبرې معلومات مې درڅخه کوی؟ اخوندزاده صاحب په ځواب کې ورته وویل.

خیر څنگه معلومات؟

هغه داسې چې ستا په خیال د کلي څو ځوانان داسې شته چې په دې کلي قربان شي؟ اخوندزاده صاحب سوال ځني وکړ.

اخوندزاده صاحب زۀ ستا په خبره نۀ شوم پوه؟

زما د خبرې مطلب دا دی چې د انگرېز سترگې بیا سرې شوې دي، هغه د غچ اخستلو له پاره تیاری نیولې ده او موږ هم د تېر وار رنگه د دۀ سترگې ویستل غواړو. اخوندزاده صاحب په ځواب کې ورته وویل.

اخوندزاده صاحب تۀ هم باچا سړی یې، څوک د دې طوفان مخ ته ودرېدای شي. سخي ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولـي مـوږ د دې باطـل طوفـان مـخ تـه مخکـي نـهٔ یـو ودرېـدلي ؟ ایـا دا زمـوږ اول وار دی ؟ اخونـدزاده صـاحب پـه ځـواب کـي ورتـه وویل.

هغـه خـو ټهیـک دی، لاکـن مـا خـو اورېـدلي دي چـي دې ځلـي انګرېـزپـه ډېـر لـوی طاقـت او قـوت سـره پېشـقدمي کـوي. سـخي ورتـه وویل.

باطـل چـي هـر څـو مره طـاقتور شـي د حق مـخ تـه هیڅ نـهٔ دی، او بلـه دا چـي د حق کو مـک الله پخپلـه کـوي، تـهٔ دا راتـه ووایـه چـي دا ځلـي بـه څـو مره ځوانـان د ننـګ و سـنګر تـه را تیـار کـړې؟ اخونـدزاده صـاحب سوال ځني وکړ.

اخونـدزاده صـاحب تـرا وسـه مـي هیڅـوک لا هـم نـهٔ دي لیـدلي چـي پـه دې هکلـه دي سـنجیده وي، زمـا پـه خیـال چـي دې ځلـي بـه دا کلـی د انګرېزانـو خـلاف نـهٔ ودرېـږي. سـخي پـه ځـواب کـي ورتـه وویل.

سـخي تـهٔ معلومـات وکـړه او سـهار د خـان کـوټې تـه راشـه. اخوندزاده صاحب ورته وویل.

اخوندزاده صاحب که خفه کېږې نهٔ زهٔ دا کار نهٔ شم کولی.

ولي ؟

د ولـي خبـره نـهٔ ده، خبـره دا ده چـي زهٔ د دې ځمکـو نـه یـوه خـوا تـه هم نـهٔ شـم تـلای، زهٔ دو مـره مصـروف یـم چـي خپـل ماشـومان پـه اوونـۍ ( هفتـه ) کـي یـو واریـا دوه وار وینـم، دې ځلـي مـي معـاف کـړه، کـه موقـع پـه لاس راغلـه نـو ضـرور بـه سـتا پـه ښـه درشـم. سـخي پـه ځـواب کـي ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پـه ښـه نـهٔ، د دیـن او د وطـن پـه ښـه ورشـه، زهٔ سـتا پـه خبـره پـوه شـوم ماتـه اجـازه راکـړه چـي د ماښـام د لمانځـه وخـت راقریـب دی،زهٔ درنـه ځـم جومـات تـه،خو کـه فرصـت دي ومونـدو نـو یـو وار د خان کوټې ته راشه. اخوندزاده په تلوکي دا خبره ورته وکړه.

بالکـل اخونـدزاده صـاحب خـود بـه درځـم، دا هـم د خـان کـار دی،څـه وکـړم دې ځلـي زهٔ خـان پـه دې کـار سـخت مـامور کـړی یـم، خفه نهٔ شې. سخي پسې غږ کړو.

ســمه ده زهٔ درنــه لاړم، د جومــات وخــت نــزدې دی. اخونــدزاده صاحب یوې خوا ته روان شو او دا یې وویل.

د اخونـدزاده صـاحب د تلـو نـه پـس سـخي پـه مسـکي کـي د ځـان سـره وویـل چـي، اخونـدزاده صـاحب تـهٔ څـهٔ خبـر یـې چـي څـهٔ کېږي.....

د دې ویلو سره سم سخي د پټو په پولو د کور په خوا روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

بازيد د کلي په پټو کي د يوې وني و ډډ ته ښنګ وهلی د کلي نه لېري يوازي ناست د خپلي نازنيني په ياد کي شپېلۍ يې غږوله. دۀ په شپېلۍ يو داسي غمګين سُر چېړلی ۀ چي انسان يې بې خوده کوو. دۀ هم دغه سُر اخستی ۀ چي د شا له خوا د دۀ ملګری فضل چي د دوی د بزګر زوی هم ۀ راغی او د دۀ شاته پټه خُله ودرېدی. دۀ هم د بازيد د شپېلۍ په په خوږ غږ غوږ نيولی ۀ. فکر يې وکړو چي بازيد خو د دې له مخه داسي خوږه شپېلۍ نۀ وهله نن ولي داسي بدلون په کي راغلی دی نو يې پر بازيد غږ وکړو.

واه واه ماشاالله، ډېره ښکلې شپېلۍ واه خان واه.

بازيد زر شاته وکتو او پر فضل يې سترګي ونښتې.

فضليه! تۀ کله راغلې؟

زما په خيال شل کاله مخ کي.

مطلب دلته کله راغلې؟

لږ وخت مخ کي. د دې خبري سره ورسره په ښنګ کي کښېنستی.

خانه! څو مره ښکلې شپېلۍ دي غږوله. تا خو مخ کي په دې شپېلۍ ګوتي هم سمي نۀ شوې ايښودی، دا انقلاب څنګه راغی؟

دا د ميني برکت دی فضليه د ميني. بازيد د اسمان خوا ته وکتل او دا خبره يې ورته وکړه.

د ميني برکت؟ په څه ګډو وډو سر يې خانه، تۀ او مينه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي زهٔ مينه نهٔ شم کولای؟

نـا کـولای شـې خـو دا راتـه ووايـه چـي د کلـه راهيســې، څنګـه او څـوک ده هغـه خـوش نصـيبه چي زمـا خـان زړهٔ پـرې بـائيللی دی.

فضليه ! د بر کلي ده.

د بر کلي؟

هو د بر کلي.

وا خاننــه! دا پــه کــوز کلــي کــي ولــي د نجونــو کــاختي راغلې ده چي تهٔ په بر کلي کي مئين شوې؟

ياره بس زړهٔ دی چي پرې راغی. نوري خبري پرېږده.

ښه څوک ده او چېري دي ليدلې ده؟

بازيـد يـوه سـړه اسـوېلي وکـړه او د اسـمان خـوا تـه يـې بيـا وکتل.

يـاره درتـه وايـم چـي نـوري پوښـتني مـهٔ کـوه. پـرې مـي ږده چي خپل زړهٔ لږ په قرار کړم. ډېر ورپسې ناقرار دی.

سـمه ده مـهٔ يـې راتــه وايـه زهٔ درنـه لاړم، دې تـه راغلـی وم چـي خـان جـي غوښـتې، ويـل چـي دهٔ تـه وايـه چـي راشـي کـار ورسـره لرم. فضل ولاړ شو او دا خبره يې ورته وکړه.

فضـليه! دا خبـره چـي چاتـه ونـهٔ کـړې ښـه. بازيـد پسـې غـږ کړو.

بېغمه شه خانه.

تهٔ درځه زهٔ درپسې درځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خبرې سره فضل د هغه ځای نه روان شو او بازید بیا په خپلو سوچونو کې ډوب شو. یو وار بیا یې شپېلۍ پر خپلو شونډو کېښوده او هغه غمګین سُریې وچېړلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

د خـان جهـان پـه مېلمسـتون کـي د کلـي سـاده خلـک راټـول ول، ملا زمري د دوی و مخ ته وعظ کوی او دا يې ويل

زمـا مسـلمانانو ورونـو ! لکـه تاسـو تـه چـي پتـه ده چـي انګرېـزان بيـا يـو ځـل پـه دې خـوا مخـه را کـوي، دې ځلـي انګرېـزان د جنـګ پـه نيـت نـهٔ بلکـې د دوسـتۍ پـه نيـت راروان دي. انګرېـزان څـه واحشـيان نـهٔ دي چـي خلـک حلالـوي، هغـه خـو انسـان دوسـته، امـن پسـنده او د ترقـۍ خواهـان دي، پـه تاسـو کـي بـه ډېـرو خلګـو هندوسـتان ليـدلی وي، هلتـه پـو مره ترقـي شـوې ده، پاخـه سـړکونه، بـرق، اورګـاډي، خـدای خبـر نـور يـې څـه څـه کـړي دي، هغـوی غـواړي چـي پـه دې هېـواد کـي هـم هغسـي کارونـه وشـي کـوم چـي پـه هندوسـتان کـي شـوي دي. ستاسـو د روزګـار مسـئلې بـه ټـولي حـل شـي. کـوم جنـګ چـي اوس روان دی دا د باچاهـانو او د انګرېزانـو تـر مـنځ پـر تخـت بانـدي دی. اول خـو بـه زهٔ لـه تاسودا پوښـتنه وکـړم چـي مـوږ تـه زمـوږ باچاهـانو څـهٔ راکـړي دي؟ تـول عمـر جنګونـه. مـرو مـوږ، تپيـان کېـږو مـوږ، خـو ګټـه، ګټـه د دوی وي. د دوی د بچـو وي، زمـوږ پـه برخـه صـرف مـړي او ټپيـان وي. دا جنـګ زمـوږ نـهٔ دی، دا د دوو باچاهـانو دی. زمـوږ جنـګ لـه غربـت سـره دی چـي بريـا يـې د انګرېـز سـره ده. انګرېـز مـوږ لـه دې بـلاؤ خلاصـول غـواړي او يـو مـوږ يـو چـي د بـلا ملګرتيـا مـو خوښـه کـړې ده. تاسـو مهربـاني وکـړئ او د انګرېـز خـلاف جنګېـدل پرېـږدئ. کـه څـوک تاسـو د ديـن يـا د وطـن پـه نامـهٔ غولـوي نـو رادي شـي ماتـه چـي زهٔ يـې پـر ديـن او وطـن ښـهٔ سـر ورخـلاص کـړم. دا د نـن سـبا ملايـان تاسـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطاباسي، د دين په نامه، د وطن په نامه، تاسو د خپلو مقاصدو د پاره استعمالوي، خو تاسو به ډېر خيال کوئ چي د دوی په خبرو کي رانشئ. خپل د کار سره کار لرئ او که انګرېز دلته دې علاقې ته راغی هم نو موږ به ورسره خبره وکړو او دا سيمه به د تباهي څه وساتو. که بيا هم تاسو ته د څهٔ شي ضرورت وي نو زهٔ حاضر يم، دا دی خان جهان ناست دی، دی حاضر دی. تاسو په نيمه شپه موږ ته غږ کولای شئ.

د دې خبرو سره ملا زمری کښېنستی او خلکو ګډې وډې پوښتني ځني شروع کړې، دهٔ هم په ډېره مينه او نرمي هر يوه ته ځواب ورکولو. لږ سات پس خلک ولاړ شول او ولاړل. په کوټه کي خان جهان ملا زمری پاته شول. خان جهان و ملا زمري ته په مسکا کي وويل چي؛

واه ملا ځواب دي نشته. خلک کاني کول دي څوک له تاڅه ايزده کړي. ملا هم په ډېره لاس را تېر کړو او و خان جهان ته يې په ځواب کي وويل چي؛

خان جهانه! مخته ګوره چي زهٔ څهٔ کوم. دوی دا خبري کولې چي سخي حاضر شو، د سلام دعا نه پس يو خوا ته په کوټه کي کښېنستی، خان جهان چي ورته وکتل نو يې پوښتنه ځني وکړه چي؛

سخي جانه څه کيسه ده چي د مخ بڼه دي بدله ده؟

سخي په ځواب کي ورته وويل چي؛

نن ماله اخوندزاده راغلی ؤ؟

ښه نو بيا ، څهٔ يې درته ويل؟ خان جهان پوښتنه ځني وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له ما د جنګ د پاره مجاهدین غوښتو.

نو تا څه ځواب ورکړو. ملا زمري دا وار پوښتنه ځني وکړه.

ما څه ورته ویل، ما ځواب ورکړو چي زه نه یم خلاص.

ته بې غمه شه سخي جانه فکر مه کوه. خان جهان ورته وویل.

زه رښتیا وایم، اخوندزاده خان په کلاره نه پرېږدي، هغه به اوس کوڅه په کوڅه کور په کور ګرځي او ملګري به جوړوي.

ته څه پکي وایې ملا صاحب؟ د دې مخ نیوی څنګه کېدای شي، وخت هم نشته. خان جهان و ملا زمري ته وویل.

خانه ته بې غمه شه، زموږ اچولی دام دوی نه ویني، دوی به پخپله په دې دام کي راګیر شي، بیا ته تماشه ګوره.

سخي د ځانه نه غږېږي، دی تر ما او تر تا د خان په کور ښه خبر دی، لږ دې خبرو ته غوږ شه، داسي نه چي موږ یو څه کوو او هغه خان بهادر بل څه وکړي. خان جهان و ملا زمري ته په فکرمند انداز کي وویل.

ملا زمري خپل په رېره لاس را تېر کړ او په مسکا یې وویل، خانه د شنبې په ورځ به ته تماشه وینې.

څنګه تماشه؟ تر شنبې خو ډېري ورځي شته. سخي د ملا زمري څخه سوال وکړ.

سخي ته نه پوهېږې، ته صرف ګوره، خُله مه سپړه. ملا زمري په ځواب کي ورته وویل.

لږ خو موږ هم په خبر کړه چي څه تماشه کېدونکي ده. خان جهان هم پوښتنه ځني وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خانـه تـر شـنبې پـوري انتظـار وکـړئ، تاسـو تـه بـه خپـل ځلانـد سباوون خپله ښکاره شي.

سـتا خوښـه ده مـلا صـاحب، چـي نـهٔ يـې راتـه وايـې نـو مـهٔ يـې راته وايه. سخي په خفه لهجه کي ورته وويل.

سـخي جانـه مـهٔ خفـه کېـږه، دا د راز خبـري دي، دېوالونـه هـم غوږونه لري. ملا په مسکا کي ورته وويل او په سوچ کي شو.

مـلا صـاحب د مـړی بـه ورتـه ووايـم، ناوختـه شـو، سـخي وږی دی. خان جهان ملا ته وويل.

هـو هـو خـود، زهٔ هـم نـن سـتړی شـوی يـم، د مـړی پـس بـه ارام وکړم، تهٔ ورشه د مړی ورته ووايه.

مـلا چـي د مـړی واورېـدو نـو د مـخ بڼـه يـې بدلـه شـوه، سـم دستي يې د مړی د راوړلو اظهار وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

سهار وختي د لمانځه په وخت پښتني منګی په ښنګ کړو او د ګودر خوا ته روانه شوه. ګودر د خان کور ته نزدې ؤ. د کلي نوري ښځي هم دې ګودر ته راتلې، او هلته به يې بانډار تازه کوو. چا به د بلي ښځي غيبت کولو، چا به بيا د يو چا د کور د ځيزونو صفت کولو، چا به د خپلو خپلو خاوندانو په هکله خبري کولې، چا به د خوابني بد ويل، چا به ځهٔ چا به څهٔ.

پښتني به د دوی خبري اورېدې،د هري ښځي سره به يې په ښه نياز خبري کولې، د ښځو په مسئلو کي به سمه ورسره ولاړه وه، د ښځو هم عجيبه فطرت وي، که دي ښه ورسره کول نو به دي ښه يادوي، او که لږ هم درنه غلطي وشوه نو به دي په ټول کلي کي رسوا کړي.

نن پر ګودر د ښځو د مجلس عنوان د سخي کورودانه وه، يوې ښځي و بلي ښځي ته ويل چي؛

خوره! ما د نازکو سره هر وخت ښه کړي ؤ، د دې ما ډېر احترام کولو، پرون زهٔ کورته ورغلم نو دې تريو تندی نيولی ؤ، د چای ست يې هم نهٔ دی راته کړی، د مخه چي به ورغلم نو به يې ډېر عزت راکوو، خدای خبر چي په څه يې داسي رويه راسره وکړه.

ابلي ښځي پر غږ کړو چي؛

آخوري، له ما سره يې هم دغسي وکړو، پرون غرمه زهٔ کورته د شلومبو (شوملو) د پاره ورغلم نو يې د دروازې څخه راځواب کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغــه خبــري شــروع وې چــې پښــتنه هــم ګــودر تــه را ورســېده. ټولــو ناســتو ښــځو تــه يــې ســتړي مشــئ وويلــه. ټولــو خيــر يوســې ورته وويلو.

يوې ښځې په غبرګ کړو چې؛

پښتنې د نازکو ستاسره څنګه رويه ده ؟

لــه ماســره يــې ښــه رويــه ده، ولــې څــۀ پېښــه ده ؟ پښــتنې منګــی په ځمکه کښېښود او دا هم کښېنسته.

يوې سپين سري چې جامې يې وينځلې ورته وويل چې؛

پښــتنې بچــې! د ســورکي لــور وايــي چــې نــازکو ډېــره بدلــه شوې ده، نن سبا خورا د چاسره په سم تندي نۀ غږېږي.

څنګه زۀ پوهي نۀ شوم؟ پښتنې بيا پوښتنه ځني وکړه.

د سورکي لور چې منګی يې له اوبو ډکوو ورته وويل چې؛

پښــتنې خــوري! زۀ پــرون د شــلومبو (شــوملو) د پــاره ورغلــې وم، دې تريــو تنــدی نيــولی ؤ او د دروازې څخــه يــې ځــواب کــړم، ويــل يــې چــې يــو خــو ستاســو د راتــګ وخــت نــۀ دی معلــوم چــې ګــورې بــه يــوه نــه يــوه بــه د څــۀ نــا څــۀ پســې راروانــه يــي. زۀ هــم بېرتــه ځنــي کورتــه راغلــم، او هــان د ګــوډ اکــا لــوريــې هــم پــرون مــازديګر د کــوره شــړلې وه. دې ښــځې چــې خبــره پــوره کــړه نــو د ګــوډ اکــا لــور دســتي د دې د خبرو تسلسل جاري کړو.

هــو زرکــه ټهيــک وايــي، زۀ ګــل مينــي لــه ورغلــم هغــه خــو مــي نــۀ وليده خو موريې را ځواب کړم.

دا څنګــه کېــدای شــي، نــازکو خالــه خــو ډېــره ښــه ښــځه ده، پښتنې په ځواب کې ورته وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آ لوري، ښه دي په بلا پسې شي، يوې به غلط ويل دلته خو ټولي د دې په تريو تندي غږېږي. يوې ښځي چي منګی يې پر سر کوو نو يې دا خبره وکړه.

خير زۀ به يې معلومات وکړم، کېدای شي چي بله خبره وي. پښتنې دې ښځو ته وويل.

ښځو همدا ورسره ومنله او بېرته په خپلو خپلو کارونو بوختي شوې.

پښتنې هم منګی د اوبو را ډک کړو او د کور په خوا رارونه شوه.

داسي نۀ ؤ چي د خان په کور کي څه نوکر چاکر نۀ وو، يا پښتنه او به را وړلو ته احتياجه وه، بلکې داسي ؤ چي پښتنه به له کسته سهار وختي ګودر ته تلۀ. هلته به دې د کلي د نورو ښځو سره ليدل کتل کول. د دوی مرسته او کومک يې د پلار رنګه د ځان افتخار ګڼلو.

ټوله ورځ تېره شوه، ماز دیګر شو، پښتنې ټکری په سر کړو او د ګل ميني يعني د سخي بزګر د کور په خوا روانه شوه. د سخي بزګر و کور ته چي رسېدله نو سخي بزګر د کور د دروازې څخه راووتی، څنګه چي يې پر پښتنې سترګي ولګېدې نو يې د مخ بڼه بدله شوه. غږيې په وکړو چي

پښتنې بچی! تۀ..... تۀ څنګه دلته راغلې ؟

ولي زۀ خپلي خاله او خور ته نۀ شم راتلی ؟ پښتنې په مسکا کي ورته وويل.

خود، ولي نۀ شې راتلای،تۀ ورځه خاله او خور دي کور کي دي، زۀ لږ کار لرم، سخي د شرمندګۍ په اندازکي ورته وويل او يوې خوا ته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنه هم کور ته ننوته او ګل میني ته یې غږ وکړو.

ګـل میني، ګـل میـني، چېـرې یـې ؟ پښـتنه د کـور پـه غـولي کـي ولاړه ګل میني ته یې نارې وهلې.

د یـوې کـوټې څخـه ګـل مینـه راووتـه او پـه خنـدا خنـدا یـې غېـږه ورکړه.

پـه خـدای چـي اوس مـي پـه زړه کـي یـادولې،عمر دي ډېـر شـه، پـه ښـه وخـت راغلـې. ګـل مینـي پښـتنه د لاسـه ونیولـه او د کـوټې خـوا تـه روانه شوه.

خالـه څنګـه ده؟ تـهٔ څنګـه یـې؟ ګرسـره راګرځـې لا نـهٔ ؟ پښـتنې په تلو تلو کي دا پوښتني ځني وکړې.

هـو، امـې ښـه ده، زهٔ هـم ښـه یـم، راځـه دلتـه پـه کوټـه کـي ده. ګـل مینه او پښتنه کوټې ته ننوتو.

دلتـه پـه کوټـه کـي نـازکو خالـه پـر کټ پرتـه وه. پښـتنې تـه چـي یـې پـام شـو نـو ور راپورتـه شـوه. پښـتنه یـې پـه مینـه ښـکل کـړه او خپل څنګ ته یې کښېنوله.

څنګـه یـې بچـې؟ خـان لالـه دي څنګـه دی؟ ولـې دومـره بـې وفـا یـې ګرسره دي خپلـه خالـه هېـره کـړې ده. نـازکو خالـه پـه یـوه سـاه پوښـتنه ځنـي وکړه.

ښـه یـم، خـان لالـه هـم شـکر ښـه دی. پښـتنې پـه ځـواب کـي ورتـه وویـل او د سـر ټکـری یـې د سـره لـري کـړو . بـل ټکـری یـې پـه غـاړه کي ؤ هغه یې په سر سم کړو.

خالـه خـو ګرسـره دي خپلـه خورځـه هېـره کـړې ده، نـهٔ تـهٔ راځـې، نـهٔ ګـل مینـه راځـي، لـه پـرون راهیسـې مـي اراده کـړې وه، مـا ویـل کـه دوی نهٔ راځي نو به زهٔ خپله ورشم. پښتنې په خندا ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه دي وکړو چې راغلې، ګل میني ته ورشه زر چای جوړ کړه، نازکو خاله پښتنې ته وویل او بیا یې ګل میني ته مخ راواړوئ.

نا تکلیف مه کوئ. پښتنې په انکاري انداز کې ورته وویل.

د څه تکلیف، ګل میني ته داسې وکړه چې ته د پښتنې سره کښېنه زه به ورشم او چای به جوړ کړم.

نازکو له کټه راولاړه شوه او ګل مینه یې د پښتنې سره په کوټه کې پرېښوله، دا خپله د کوټې څخه ووته.

ښه نو پښتنې بې بې څنګه یې. ګل مینه راغله او د پښتنې سره په څنګ کې په کټ کښېنسته.

زه خو ښه یم، تا ولې شا راګرځولې ده؟ څو ورځې وشوې چې نه یې راغلې. پښتنې په ګیله کې ورته وویل.

څه درته ووایم، د بابا دومره مېلمانه دي چې یو ساعت هم نه یم خلاصه، امی هم دا څو ورځې کېږي چې ناروغه ده، نن یې څه طبیعت برابر دی. ګل میني خپله مجبوري ورته بیان کړه.

نو بیا خو ملامته یې، ما ته به دې حال راکړی وای، ما به څه دارو درمل ورته کړې وای. پښتنې په ګیله کې ورته وویل.

هو هغه خو ؤ، خو بابا د کوز کلي ملا ورته راوستو، د هغه دم او څابښتو څه امی جوړه شوه. ګل میني په ځواب کې ورته وویل.

ښه، دا خو ښه خبره ده. خو عجیبه نه ده؟ ما خو اورېدلي ؤ چې د کوز کلي ملا تاویزونه او څابښتونه نه کوي؟ پښتنې په حیرانګي کې سوال ځني وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل مینه په دې سوال لږ غوندې پرېشانه شوه خو بیا یې زر خبره بدله کړه، نا زهٔ د جومات ملا نهٔ بښیم، زهٔ هغه ملا بښیم کوم چې د خان جهان په کور کې مېلمه دی، ډېر خلک ور روان دي، ډېرو ناروغو ته الله شفاء ځنې ورکړې ده. ګل مینې زر زر خپله خبره پوره کړه.

د خان جهان په کور کې ؟ پښتنې په شکي انداز کې پوښتنه ځنې وکړه.

هو د خان جهان په کور کې ، ها څه خیر تهٔ دا خبرې پرېږده،دا راته ووایه چې د ستني کار دي څنګه روان دی؟ څه نوی ټکری یا قمیض دې جوړ کړی دی که نا ؟ ګل مینې زر خپله خبره واړوله.

هو ، یو نوی ټکری مې نښلولی دی، بس په ختمېدو دی، تا څهٔ تیار کړي دي که لا په هغه قمیض لګیا یې ؟ پښتنې د خپل ځواب پسې پوښتنه ځنې وکړه.

هو ماهم یو ټکری نښلولی دی،تهٔ ودرېږه زهٔ یې درته را اخلم، په ابله کوټه کې پروت دی. ګل مینې په ځواب کې ورته وویل او ابلې کوټې ته ځنې ولاړه شوه.

کله چې ګل مینه د کوټې څخه ووتله نو پښتنې په کوټه کې څه بدلون ولیدو. د یوې اوونۍ مخ کې چې دا راغلې وه نو دا کوټه ډېره سپېره سپېره وه. اوس په کوټه کې نوې توشکې ( نیالیاني ) بالښتان، نیوې پرډې، قسم قسم څیزونه او خاص کر نوې قالینه چې د کوټې په غولي کې اواره وه، ډېره ښائسته او ګران قیمته معلومېده. په دې وخت کې ګل مینه هم راغله. د هغې په لاس کې ډېر ښکلی سور ټکری ؤ چې د لاس کار پرې شوی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنې چې دا ولیدو نو حېرانه پاتې شوه. دا ډېر ګران قیمته کار ؤ. دا تارونه (سپنسي) په کوم چې د ټکري کار شوی ؤ ډېر ګران قیمته وو. پښتنې په ټول ژوند کې چې د یوه خان لور هم وه دا نهٔ ؤ استعمال کړي.

دا خو ډېر ښکلی دی، دا دومره ګران قیمته کار؟ پښتنې په حېرانۍ کې د ګل مینې څخه پوښتنه وکړه.

ګل مینه هم پریشانه غوندې شوه، په دې حال کې د ګل مینې مور نازکو خاله چې د چای پسې تللې وه و کوټې ته را ننوته. په یوه لاس کې یې چا جوشه (چای دانه) او په بل لاس کې یې د چای پیالې راختې کښېنسته.

څنګه چې یې وه ټکري ته پام شو نو وار خطا شوه او ګل مینې ته یې په خشم وکتل.

خاله دا څومره ښائسته کار پرې شوی دی او دا څومره ګران قیمته تارونه یې په کې استعمال کړي دي؟ پښتنې دا ځل د نازکو خاله څخه پوښتنه وکړه.

دا د ګل مینې خاله و ګل مینې ته د کابل څخه راستولی دی او دا تارونه هم هغې ورسره راستولي دي، نازکو خاله خپله خبره په داسې انداز کې وکړه چې د انسان شک په یقین بدلېدلای شو.

ډېر ښائسته دی خاله، الله دې یې په ګل مینې دا زوړ کړي، د ګل مینې سره به دا ډېر خوند وکړي. پښتنې خپل شک نهٔ کړو ظاهر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ساعت د اخوا او دې خوا خبرې وشوې. پښتنې د چای پیاله یو خوا ته کېښوده او ټکری یې په څنګ کې پروت را واخست پر سر یې کړو.

زه ځم خاله، ناوخته شو، ما ښام کېږي، بیا به ځم تلی. پښتنه ولاړه شوه او د رخصت د پاره و نازکو خاله ته ورنږدې شوه.

ښه نو ځې، آځه په مخه دې ښه. نازکو هم سم د لاسه رخصت ورکړو لکه چې هم دې خبرې ته دا انتظار وه.

ګل مینه لا د کور تر دروازې ورسره راغله. پښتنې د ګل مینې څخه په دروازه کې رخصت واخست او د کور په خوا روانه شوه.

په ټوله لار کې یې سوچونه وهل چې د سخي ماما کره دا څېزونه څنګه راغلل؟ هغه خو زمونږ بزګر دی او د دې څیزونو د پاره د خان لاله غوندې خان لا هم وس نه لري..... دا به د کوم ځایه ده کړي وي؟ هم په دې سوچ کې کورته راورسېده. د کور په دروازه چې ننوتله نو یې په خپل پلار باندې سترګې ولګېدې.

هغه چې دا ولیده نو یې غږ په وکړو.

پښتنې بچی، چېرې تللې وې؟

پښتنې و خان ته سترې مشې ورکړه او ورته وویل چې، خان لاله ته ځکه راغله کوټې ته زه یوه خبره درته کوم.

بچیه څه خبره ده؟ خان پو ښتنه ځنې وکړه او ورسره د کوټې خوا ته روان شو.

کوټې ته چې ننوتلو نو یې خان ته وویل چې، خان لاله زه چې سهار ګودر ته ولاړم نو هلته مې د کلي د ښځو څخه دا واورېدل چې د سخي ماما کورودانه نن سبا ډېره بدله شوې ده. هر څوک چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورشـي نـو دا تريـو تنـدی ورتـه ونسـي. د دې خبـرې د معلومولـو د پـاره زۀ اوس د سـخي مامـا کـره ورغلـم. د کـور د دروازې سـره مـې سـخي مامـا وليـدو چـې ډېـر پـه تازيلـه کـې ؤ صـرف سترې مشـې يـې راکـړه، ستا پوښتنه يـې هـم نـۀ وکـړه. کلـه چـې کورتـه ورغلـم نـو څـۀ مـې ليـدل چـې پـه کوټـه کـې يـې رنګارنـګ څيزونـه، نـوې قالينـه، پـردې، توشـکان (نياليـاني) بالښـتونه قسـم قسـم څيزونـه پراتـه وو او هـان ګـل مينـي هـم ډېرګـران قيمتـه د لاس کـار پيـل کـړی ؤ. مـا چـې کلـه پوښتنه ځنـې وکـړه نـو يـې مـور راتـه ويـل چـې دا د ګـل مينـي خالـه د کابل څخه ورا ليږلی دی. د مور د مخ بڼه يې هم بدله وه.

او هـان ګـل مينـي ويـل چـې امـی مـې د څـو ورځـو راهيسـې ناروغـه وه بيـا بابـا د کـوز کلـي خـان جهـان پـه کـور کـې مېلمـه مـلا وراوسـتو او د هغـه د دم او څانښـتونو څخـه امـی جـوړه شـوه. پښتنې په يوه ساه خان ته ټول حال وويلو.

خان فکرمند شو چې دا څۀ کيسه کېدای شي؟

لـږ سـاعت وروسـته يـې پښـتنې تـه د نصـيحت پـه توګـه وويـل چې؛

بچيـه دا حـال چاتـه مـۀ وايـه. زۀ د څـو ورځـو راهيسـې دا محسوسـوم چـې سـخي کـوز کلـي تـه ډېـر تـګ راتـګ شـروع کـړی دی. خان په ځواب کې ورته وويل.

خـان لالـه، تـۀ څـه پکـې وايـې چـې سـخي دا دومـره ګـران قيمتـه څيزونه د کومه خوا کړو ؟

پـه دې هکلـه زۀ هيـڅ نـۀ شـم ويـلای، بـس تـۀ خيـال کـوه چـې چـا تـه دې د خُلې نه دا خبره ونوزي. خان بيا خپله خبره راغبرګه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې غمه شه ستا لورد نورو غوندي نۀده چې د کور حال و پردیو ته بیان کړي.

شاباس زما ګرانې بچې، هم په دې خبره خوزۀ پرتا فخر کوم، په دې کار کې تۀ بالکل خپلې اروا ښادې مور ته شوې یې، هغې به هم د کور خبره په کور کې ساتله د کور دباندې یې نۀ باسله. خان د پښتنې پر سر لاس کښېښودو او دا خبره یې ورته وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

هم دغـه شـپه سـخي بزګـر د خـان جهـان پـه مېلمسـتون کـي د مـلا زمري سره ناست ؤ. ملا زمري ورته ويل چي؛

سخي جانه يوه خبره درته وکړم، خفه کېږې خو به نهٔ ؟

نـا ولـي بـه خفـه کېږم، تـهٔ زمـوږ سـر سـتر ګـي يـې، سـتا څخـه خفـه کېـده داسـي دی لکـه د خـدای څخـه چـي خفـه شـې. سـخي پـه ځـواب کـي ورتـه وويل.

نـو کـه خـدای نـهٔ خفـه کـوې نـو دا لـور دي وماتـه پـه حلالـه نکـاح راکـړه. زمـا او سـتا دوسـتي بـه پـه رشـته سـره بدلـه شـي، کـه څنګـه ؟ ملا زمري د خپل زړهٔ خبره وسخي ته وکړه.

هغـه خـو تهيـک دی، خـو زمـا لـور د وادهٔ لا نـهٔ ده، هغـه تـر اوسـه د څوارلسو (۱۴) کلو ده. سخي په ځواب کي ورته وويل.

تـا د پيغمبـر عليـه السـلام دا حـديث نـهٔ دی اورېـدلی چـي کلـه هلـک او جينـۍ و بلـوغ تـه ورسـېږي نـو يـې زر تـر زره نکـاح ور وتـړئ، ايـا سـتا لـور و بلـوغ تـه نـهٔ ده رسـېدلې ؟ مـلا زمـري سـخي پـه خپلو خبرو کي راګېر کړی.

بالکـل مـي دا حـديث اورېـدلی دی. د حـديث منکـر خـو کـافر وي، سخي په ځواب کي ورته وويل.

بـس کـه د دې کفـره ځـان سـاتل غـواړې نـو بسـم الله کـړه. خـان جهـان دا دی ناسـت دی زمـا پـر ځـای يـې دی ګـواه او سـتا دلـور پـر ځای يې تهٔ ګواه. که څنګه ؟ ملا په مسکي کي ورته وويل.

زهٔ بـه د خپلـي مېرمنـي څخـه پوښـتنه وکـړم بيـا بـه تـا ته..........

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخي چي دا خبره کوله خان جهان په غږ کړو چي؛
اې سړيه، سړی شه، د نارينوو په فېصلو کي چا ښځي پو ښتلي دي؟ سړی شه، د سړيو غوندي فېصلې کوه، دا د ښځو خبري پرېږده، بسم الله کړه تر ملا زمري ښه عالم سړی پيدا کوي ؟ که زما لور وای نو ما به د دۀ د ويلو مخ کي دۀ ته په نکاح کړې وای، خان جهان و ملا زمري ته ستر ګه کښېکاږله او دا خبره يې و سخي ته وکړه.
هغه خو ټهيک ده خو زۀ........
ملا زمری يې په خبره کي وروختی او ورته يې وويل چي؛
سخي جانه لور به دي ټول عمر لکه شهزادګۍ داسي اوسي. زۀ نۀ ورور لرم او نۀ خور، مور او پلار مي په وړوکوالي کي لا مړۀ شوي دي. په جلال اباد ښار کي مي يوه غټه مېنه ده. زۀ او ستا لور به هلته خوشحاله خوشحاله ژوند تېروو. په کال کي به يې درې ځلور واره درته راولم. د ژوند هر ارمان به يې ور پوره کړم لکه ستا چي مو در پوره کړی، که څنګه؟ ملا زمري په داسي اندازکي ورته وويل چي سخي انکار نۀ شو کولای.
سمه ده څنګه چي ستاسو خوښه وي، په سخي سر ځړېدو او دا خبره يې ورته وکړه.
نو بس مبارک مو شه، سبا ماخوستن له خيره زۀ او ملا صاحب درځو او خپل امانت يعني ناوې راوړو. څنګه ملا صاحب. خان جهان په غږ کړو.
هو څنګه چي د سخي او ستا خوښه وي.ملا زمري په ځواب کي ورته وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان جي يو څو ورځي راکړه، زۀ به هم تياري نيسم، د خوراک څښاک بند وبست به کوم، خپلو خپلوانو ته به ست کوم، دومره زر خو نۀشي کېداى. سخي عرض ورته وکړو.

د خوراک څښاک، رنګارنګ جامې، خلګ راټولول دا ټول په اصراف کي راځي.دا بد خرڅي مۀ کوه. ساده نکاح ده هغه که د میاشت پس وي او که سبا څۀ فرق يې دى. که څنګه خانه ؟ ملا زمري په سخي نور هم زور واچوو.

هو هو بالکل، که د خوراک څښاک مسئله وي هغه به زۀ د وادۀ پس وکړم، تا ته څه حاجت نشته، او پاته شوه د جينۍ د رنګارنګ جامو مسئله نو هغه چي دلته راشي نو لکه زما خپله لور زۀ به يې ورته وکړم، تۀ د هغې خوا بې غمه اوسه. تۀ د سبا ماخوستن تياري ونيسه بس. خان په فېصله کن انداز کي ورته وويل.

تاسو مهرباني وکړئ ماته يوه اوونۍ وخت راکړئ. سخي ورته وويل.

سخي جانه د خير په کار کي ځنډ ګناه ده، دا ګناه پر سر مۀ اخله. خان جهان په ځواب کي ورته وويل.

بيا هم لږ وخت غواړم. سخي په عاجزۍ ورته وويل.

سمه ده دريږ ورځي، څلورمه شپه مو بږ درغلو، که څنګه؟ ملا زمري ورته وويل.

خوښه مي ده. سخي په ځواب کي ورته وويل او راولاړ شو.

څۀ کوې کښېنه. خان په غږ کړو.

نا خانه ! ځم ناوخته شو او که چا دلته وليدم نو به بل غم جوړ شي. سخي په ځواب کي ورته وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی صحیح وایي ته دی پرېږده چي ولاړ شي، ځکه سخي جانه په مخه دي ښه. ملا، خان ته د ویلو وروسته سم و سخي بزګر ته د رخصت ورکولو د پاره را ولاړ شو. خان جهان هم را ولاړ شو او د سخي سره تر دروازي راغی. ملا زمری هلته په کوټه کي پاته شو.

په دروازه کي د رخصت ورکولو په وخت خام جهان و سخي بزګر ته وویل چي، خیال کوه سخي جانه چي په دې هکله د ښځي دي ونه مني، د ملا زمري غوندي عالم او مور سړی بیا نه شي پیدا کوی.

سمه ده خان جي، اوس ماته را کړه اجازه، د خدای په امان.

په مخه دي ښه، د دې خبري سره سخي رخصت شو. خان جهان بېرته کوټې ته راغی. څنګه چي کوټې ته رانوت نو یې په زوره وخندل او په خندا خندا کي یې ملا زمري ته وویل!

واه زمریه واه! اوس مو نو کار سم برابر شو، اوس دي نو تا څوک د دې کلي پسې واخلي، یقین نه راځي چي سخي دومره کم عقل دی.

ملا زمري هم په خندا کي ورته وویل.

ستا غوندي یاران چي د دې ځمکي پر سر وي نو زموږ رنګه ملایانو د نس او نفس مسئله به هیڅ کله هم نه شي پیدا.

ځکه ته به هم څه یاد ساتې زمریه! د نس غم دي انګرېز بابا او د نفس غم دي خان جهان خان وخوړی.

د دې خبري سره سم دواړه کټ کټ په خندا شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

انګرېز سامراج د لښکر کشۍ د پاره د اپرېل میاشت منتخبه کړه. ولې چې د اپرېل په میاشت کې به په کابل کې ډېر ښکلی موسم ؤ. نهٔ به ډېره زیاته ګرمي او نهٔ به ډېره زیاته یخني وه.

د جنرل پالک په مشرۍ کې انګرېز فوځ په کابل کې د شکست غچ اخستلو د پاره ډېر بې تاب ؤ. جنرل پالک یو ډېر لوی فوځ تیار کړی ؤ. دا فوځ واقعي د جنګي سازوسامان سره سره د لوی او اوږد جنګ کولو اهل ؤ.

کله چې جنرل پالک ته په کابل کې د خپل بندي شوو ملګرو حال معلوم شو نو جنرل پالک ډېر پرېشان شو. هغه ته دا احساس وشو چې که ما په دې ازادي غوښتونکو برید وکړ نو زما بې شمېره ملګري کوم چې ازادي غوښتونکو پښتنو په تېر جنګ کې بندیان کړي دي په هغو کې فوځي افسران، د هغو ښځې، ماشومان او د انګرېزانو زرخرید پښتانه او فارسي ویونکي ملګري شامل وو او هغو ته د سر خطره ده.

جنرل پالک په هم دې وجه په کابل برید ونهٔ کړ او سیدها د خپل فوځ سره جلال اباد ته را وتښتېدو. دلته په جلال اباد کې د دهٔ روزل شوي ملایان، او خانان د دهٔ په استقبال کې ولاړ وو. د جلال اباد نه وروستو جنرل پالک د پېښور په خوا مخه وکړه خو د تلو نه مخ کې دهٔ وخپل زرخرید ملایانو او خانانو ته د ساده پښتنو په منځ کې د انتشار اچولو کار ته د دوام ورکولو حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو. او ډېر ګران قیمته تحائف او روپۍ یې ورکړې. چې په وخت د ضرورت به یې نوري هم ورالېږلې.

د خان جهان زوی بازید خان د پلار په دې کارونو خفه ؤ. هره ورځ به یې په کور کي ورسره جګړه وه. هغه به هر وخت و پلار ته د بهادر خان غوندي خلګو وطن دوستو صفتونه کول. پلار به یې په دې خبرو نور هم غصه شو. په هغه شپه په کومه چې سخي خپله لور و ملا زمري ته ورکړه بازید دا ټولي خبري واورېدې. هغه غوښتل چې د ملا زمري سخي بزګر او خپل د پلار خان جهان مخ و بهادر خان ته ښکاره کړي. خو دی نهٔ پوهېدی چې دا کار به څنګه وکړي؟ ولي چې په دهٔ باندي د کوره څخه د وتلو پابندي وه.

دهٔ خپل مور ته ټول حال وویلو خو هغې هم دی مایوسه کړو. او ورته یې وویل چې؛

په خُله دي لاس ونیسه، که پلار در خبر شو نو سر به دي له تنه جلا کړي.

د مور څخه د مایوسه کېدو پس هغه د ځان سره دا فېصله وکړه چې هر څه وي زهٔ به بهادر خان په دې کیسه خبروم چې ستا بزګر سخي، ملا زمری او زما پلار د انګرېزانو ډوډۍ خواره دي. د دوی مخ نیوی زر تر زره پکار دی.

نیمه شپه وه، سپوږمۍ هم د خپل جمال د ښائست پوره پوره رڼا خورولې وه. کله نزدې کله لېري د سپو غپا به وشوه. بازید په کلاره د خپلي بستري څخه راپورته شو او د کوټې څخه راووتی، څپلۍ یې په لاس کي راواخستې او د کوټې د شا د دېوال خوا ته روان شو. کله چې دېوال ته ورسېدی نو یې غټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرګی راواخستو او د ېوال ته یې کښېښنودو. په هغه لرګي په کراره کراره وختو او د دېوال و سر ته ورسېدو. د دېوال په اخوا ځوړند شو او سیدها مخ په بر کلي روان شو.

د شپې درېیمه برخه وه، سپوږمۍ خپله رڼا په ټول وطن خوره کړې وه. هري خوا ته چپه چپتیا وه. کله کله به له لېري یو سپي وغپل. بازید د دې غپا پرته صرف خپل د پښو غږ اورېدو. دی د خان د کور و دروازې ته ورسېدو. هلته په دروازه کې یو سپی غلی ناست ؤ. دۀ هغه نۀ لیدو. خو چې کله و دروازې ته ورنږدې شو نو سپي دی د پائڅې نه را ټینګ کړو. بازید چغې شروع کړې. په دې چغو کې به یې کله د خان نوم واخست او کله به یې په سپي چغه کړه.

پرېږده، چغه، چغه شه، خان جي، خان جي، چغه شه، پرېږده، چغه......

سپي هم داسې ټینګې داړې نیولې وې چې هیڅ ورسره نۀ کېدو. هم دا کشمکش جاري ؤ چې د خان یو نوکر د باندې راووت. هغه سپی چغه کړو. سپي بازید پرېښودو، یو خوا ته ودرېدی او غپا ته یې زور ورکړو. نوکر د سپي پسې تیږه (ډبره) راواخسته، سپي چې دا ولیدو نو غلی شو. نوکر د بازید څخه پوښتنه وکړه چې، څوک یې چې دا وخت را روان یې؟ غل خو به نۀ یې؟

نا! زۀ غل نۀیم، ما ستا خان پېژني، تۀ ورشه خان ته ووایه چې یو څوک راغلی دی او ورته ووایه چې ډېر ضروري کار یې درسره دی، هله زر کوه. بازید په یوه ساه ورته وویل او د ستړیا څخه یې ساه لنډه لنډه کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ راځه هلته په مېلمستون کي کښېنه. زهٔ خان ته حال ور کوم.

دواړه د مېلمستون په خوا روان شو. بازيد يې په مېلمستون کي کښېناؤ. نوکر خان ته د حال ورکولو د پاره ولاړی. بازید ډېر پرېشان ؤ. خو يو يې خوا ته يې زړهٔ ډاډمن ؤ چي دی د خان و کور ته راورسېدی.

لږ ساعت پس نوکر راغی او به هم ورسره وې. او به يې د بازيد په مخ کي کېښودې او بازيد ته يې وويل چي لږ صبر وکړه خان راروان دی.

مننه ! د اوبو جام يې په سر پورته کړی، ټول جام يې په يوه ساه خلاص کړو.

لږ ساعت پس خان هم راغلو. دی ورولاړ شو او روغبړ يې ورسره وکړو. د خان د سترګو معلومېدو چي د خواړه خوبه راپورته شوی دی.

کله چي دواړه کښېنستل نو خان و بازيد ته د څراغ په رڼا کي په غور وکتل او پوښتنه يې څني وکړه چي؛

هلکه، تهٔ د خان جهان زوی بازید نهٔ يې ؟

هو خان جي، زهٔ بازيد يم، بازيد په ځواب کي ورته وويل.

خېر خو دی، دا وخت ؟ خان بيا پوښتنه ځني وکړه.

ولي خان جي دا وخت تاله څوک نهٔ شي راتلی؟ بازيد هم د سوال په انداز کي پوښتنه ځني وکړه.

راتلی شي، زما د کور ور و هر انسان ته د شپې او ورځي خلاص دی، تهٔ وايه تهٔ څنګه دا وخت راغلی يې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان جي زهٔ چي د کومي خبري د پاره دا وخت تا ته راغلی یم که د هغې خبري معلومات زما و پلار ته وشو نو ماته به هغه سزا راکړي چي د چا په وهم او ګمان کي به هم نهٔ وي.

څنګه خبره؟ څنګه سزا؟ څه ویل غواړې؟ او هان، ستا حال هم ماته راغلی دی.

خان جي تهٔ هغه خبري پرېږده، دا خبره تر هغې خبري ډېره ضروري ده. بازید په ځواب کي ورته وویل.

ښه! وایه څهٔ خبره ده؟ خان هم په تجسس کي شو.

خبره داده خان جي چي، زما پلار و انګرېزانو ته د دوستۍ لاس ورکړی دی. هغو زما پلار ته ډېر شیان او ډېري روپۍ ورکړي دي، او دا قول یې هم ورسره کړی دی چي کله چېري انګرېزانو کابل ونیوو نو جلال اباد به هم فتح کړي که څه هم په نیم جلال اباد د دوی قبضه ده. د جلال اباد د فتح کولو وروسته به هغوی د دې ټولي سیمي واک زما پلار ته ورکوي. هغوی دا هم ورته ویلي دي چي موږ به بیا تا ته د نوابۍ پټکی تړو. لکه چي په هندوستان کي یې و ډېرو خلګو ته تړلي دي او دویم دا چي زموږ په حکم به د ازادۍ غوښتونکو مخ نیوی کوئ. په هغو کي به انتشار جوړوئ. د دې کار د پاره د ملا زمري په نامه یو سړی له تېرو درو اوونیو راهیسي زموږ په مېلمستون کي ناست دی. دا سړی انګرېزانو زما پلار ته راستولی دی، زما پلار د دهٔ هره خبره مني، دا څو ورځي کېږي چي ستا بزګر سخي دې ملا زمري او زما پلار ته ډېر تګ راتګ کوي، نن شپه خو یې لور هم و ملا زمري ته ورکړه.

څهٔ! لور یې ورکړه؟ هغه ما شومه؟ د بازید خبري روانې وې چي خان زر دا خبره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو خان جي، هغه لور و ملا زمري ته ورکړه، هغه هم زما د پلار په خُله. بازید په ځواب کي ورته وویل.

ښه ! نو دا کیسه ده. آښه ته ځه دا راته ووایه چي تا دا خبري ماته ولي وکړې؟ خان پوښتنه ځني وکړه.

ما دا خبري په دې تاته وکړې چي ته یو وطن دوسته او دین دوسته انسان یې، زه هم ستا رنګه فکر لرم خو زما پلار زما د فکر خلاف دی، هغه زه په کوټه کي بندي کړی وم، ما ځان په خواری تر تا رارسولی دی، خان جي ستا بزګر سخي، زما پلار او ملا زمری دا ټول ستا خلاف دي، او د انګرېزانو ډوډۍ خواره دي، ته زما یقین وکړه زه رښتیا وایم. بازید خان ته په ملتجي لهجه کي وویل.

سمه ده، ته اوس څه کول غواړې؟ بېرته کورته ځې که دلته پاته کېږې؟ خان پوښتنه ځني وکړه.

خان جي زما پلار به اوس خبر شوی وي او یا به سهار ته خبرشي، هغه به خلک راپسې کړي وي، زه به ځان په دې خاوره ورکوم. بازید په ځواب کي ورته وویل.

ته دا سي وکړه چي یو څو ورځي دلته پاتې شه، چي کله حالات صحیح شو نو بیا به سوچ په کوو، او هان کېدای شي په دې هکله ستا ضرورت پېښ شي. خان ورته وویل.

خان جي زه تا ته تکلیف نه درکوم، زه ستا هر قسم مرستې ته تیار یم، که وخت راغی نو د خپل پلار خلاف هم درېږم، ما خپلي غاړي خلاصي کړې، اوس زه د هیچانه نه وېرېږم، څه چي کېږي هغه دي او شي. بازید په ځواب کي ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر، ته یو څو ورځي صبر وکړه، هر څه به خدای خیر کړي، دا راته ووایه چې ډوډی دي خوړلې ده که نه ؟

هو خوړلې مي ده. با زید په ځواب کي ورته وویل.

ټهیک دی، ته ارام وکړه، سهار به خبري کوو.

خان د دې خبري سره ولاړ شو او د مېلمستون د کوټې نه راووتو. هلته یې نوکر ته غږ کړو چي؛

هلکه! ورشه یوه توشکه (نیالي) بړستن (تلتک) او بالښت مېلمه له یوسه او اوبه هم ورته کښېږده، ستړی دی چي ارام وکړي. د دې خبري سره سم خان د خپلي کوټې خوا ته روان شو. کله چي کوټې ته ورسېدو نو د کوټې و مخ ته پښتنه ولاړه وه. خان چي پښتنه ولیده نو یې ورته وویل چي؛

پښتنې بچې! ته دلته څه کوې چي ویښه یې ؟

څوک راغلی دي ؟ زه د اختري په غږ راویښه شوم، او دا یم تر اوسه دلته ولاړه یم، خیر خو دی؟ پښتنې پوښتنه ځني وکړه.

هو خېر دی، د خان جهان زوی بازید راغلی دی.

بازید ؟ هغه دا وخت دلته څه غواړي ؟

هغه یوه ډېره مهمه خبره راوړې ده، د ډېرو خلکو له مخه یې پرده لېري کړې ده.

څنګه پرده ؟

بچیه! ته ورشه ویده شه، سهار به ټوله کیسه درته وکړم. خان د دې خبري سره سم خپلي کوټې ته ننوتو.

پښتنه هم په سوچو کي ولوېده. هغه د خپلي کوټې خوا ته روان شوه، کوټې ته ننوته، د کوټې په منځ کي کټ پروت ؤ په هغه پرېوته او په سوچو یې را مخه کړه، بازید به نو څه خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړي وي ؟ د چـا د مـخ نـه يـې پـړده لېـري کـړې ده؟ پـه دې سـوچو سوچو کي خوب ورته راغی او ويده شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

سهار وختي د خان جهان کورودانی پر خان ناڅاپه غږ وکړو،

آ سړیه، کور دي خراب شو، بازید نشته، د دې خبري سره سمه په ژړا شوه.

څهٔ، بازید نشته، خان جهان د دې خبري سره سم جست راوغورځېدو او د کوټې نه د بر په تازیله ابلي کوټې ته ولاړی چېري چي دهٔ بازید بندي کړی ؤ.

د کوټې دروازه خلاصه ولاړه وه، دننه هیڅوک هم نهٔ ؤ، دی بېرته راووت او خپلي کورودانی ته یې غږونه کړو.

ګل بشرې، ګلبشرې، آګل بشرې .......

د خان غږ په ټول کور کي لکه ټکه داسي اوربدل کېده. ګل بشره هم زر زر راغله او د خان مخ ته ودرېده.

ګل بشرې تا ټولي کوټې وکتلې ؟ خان د ګل بشرې څخه په داسي انداز کي پوښتنه وکړه لکه دی چي په ځان نهٔ پوهېږي.

هو سړیه، ما ټولي کوټې وکتلې، هیڅ درک یې نشته، زهٔ به څه کوم، زما کور کریاب شو، هائي زما زوی، د دې خبرو سره سمه په چغو سر شوه. ټول کور یې خپل په چغو خبر کړو. داسي چغي یې وهلې لکه خدای مهٔ کړه زوی چي یې مړ شوی وي.

چغي مهٔ وهه، زهٔ دایم پسې ځم، خلک هم پسې استوم، یو ځای نه ځای به په لاس راشي، څهٔ مړ خو نهٔ دی. خان په غصه کي و ګل بشرې ته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ګل بشره چېرې د دۀ په خبرو کلا رېده. د هغې ځوان زوی ورک ؤ.

خان هم زر د کوره ووتې او سیدها ولاړی و مېلمستون ته. هلته یې و ملا زمري ته دا کیسه وکړه چې بازید غورځېدلی دی، اوس به څۀ کېږي ؟

د ملا زمري د مخ بڼه هم په دې خبري والوته خو زر یې ځان سنبال کړو او دا یې نۀ کړه ظاهره چې دی هم پرېشانه شو.

څۀ به کېږي خانه، هیڅ هم نۀ، تۀ راشه دلته کښېنه، خدای به هر څه خیر کړي. ملا زمري د تسلی په انداز کې ورته وویل.

یاره ملا صاحب تۀ نۀ پوهېږې. هغه به ټول حال کلي ته وواېي، زموږ جوړ کار به راخراب کړي. خان و ملا ته په پرېشانۍ کي وویل.

خانه د هغه د خبرو څوک اعتبار کوي ؟ هان دا لا کېدای شي چې بر کلي ته تللی وي، تا څوک په کلي کي د کتلو د پاره لېږلي دي؟

هو، درې څلور کسان مې اوس دستي ولېږل.

نو بیا د هغو تر راتګ انتظار وکړه. ملا زمري ورته وویل.

ستا په خیال چېري تللی شي؟

زۀ څه پیری نۀ یم چې د روښنیم، دا دی خلک تللي دي رابشي، حال به راوړي، تۀ څه فکر کوې، وایم لږ انتظار وکړه، انتظار. ملا زمري د نصیحت په توګه ورته وویل.

غرمه شوه، مانښام شو، د مانښام پسې ماخوستن شو او اخر کار سهار شو، د بازید هیڅ یو حال نۀ شو معلوم. د بازید مور ګل بشره د سحار راهیسې دوه واره بې سوده شوې وه. خوراک خو لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږده د اوبو یو څاڅکی یې هم تر حلقه نۀ وَ تېر کړی. د کلي، ګاونډ ښځي په راټولي وې خو هیڅ سود یې نۀ وتو.

خان خلک زیات کړل، هغۀ خلک یې را وغوښتل چې پل معلوموي، خو هغوی چې به د کور و شا ته ولاړل چېري چې بازید د دېوال څخه اوښتی وَ نو د پټو په وجه به هیڅ یو پل نۀ معلومېدو. اخر ټول ستړي شول. خان جهان ته یې تسلي ورکړه او ځني ولاړل.

خان جهان کله مېلمستون او کله کور ته و کورودانی ته تلی راتلی.

داسي نۀ وه چې خان جهان په زوی پسې خفه وَ او یا د کورودانی په وجه د زوی په لټون دومره سرګردانه وَ. بلکې داسي وه چې د دۀ هغه ټول پټ رازونه ښکاره کېدل کوم چې دۀ د ملا زمري سره په ګډه د علاقې او د تحریک ازادي غوښتونکو په خلاف تیار کړي وو. بازید په ډېرو خبرو خبر وَ او د پلار د دې کارو خلاف وَ. ځکه دۀ بازید په خپل کور کي بندي کړی وَ هغه هم د ملا زمري په خُله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

دغـهٔ ورځ پـه کومـه چـي خـان جهـان د بازيـد د مونـدلو د پـاره خلـګ اسـتولي وو، بازيـد د بهادر خـان پـه مېلمسـتون کـي کـلار ناسـت ؤ. زړهٔ يـې ډېـر خوشـحاله ؤ چـي دی د غلامـۍ او بنـديځ ځخـه خـلاص شـو او دا وخـت ازاد ؤ. دهٔ د ځـان سـره دا ويـل چـي دا ازادي هـم د خـدای ځـومره لـوی نعمـت ده، هغـه زمـا د بنـديځ شـپې، ځـومره ترخـې او پـه تيـارو کـي وې، مـا خپـل پـه مرضـۍ مـړی هـم نـهٔ شـوله خوړلی،نـهٔ د کـور پـه انګـړ کـي پـه خلاصـه پښـه ګرځېـدای شـوم. اوس مـي مـخ خـلاص دی اوس هـري هغـه لاري تـه خـلاص يـم چـي زهٔ يـې ارزو لـرم.د ازادۍ لار، د ګټـي لار، د مينـي لار، د ديـدن لار، خيـر اوس بـه يـې ووينـم، دا کلـی خـو د هغـه دی.دا کـور دهٔ تـه جنـت ښـکارېدی، ولـي بـه نـهٔ ښـکارېدی دا خـو د هغـه چـا کـور ؤ د چـا د پـاره چـي دهٔ خپـل کـور او کلـی پـرې ايښـی ؤ. دهٔ دا خبـري د ځـان سـره کولې چي خان بهادر کوټې ته راغی.

کـوټې تـه د ننوتـو سـره يـې سـم و بازيـد تـه سـلام وکـړ. بازيـد هـم خپل د ځايه ور ولاړ شو او د سلام ځواب يې ورکړو.

کښـېنه، کښـېنه، ښـه نـو ځنګـه وه شـپه ځـه تکليـف خـو نـهٔ ؤ؟ خان د کښېنستو سره سم دا پوښتنه وکړه.

نـا بالکـل نـا! د ډېـره مـوده پـس مـي ښـه خـوب کـړی دی. بازيـد په ځواب کي ورته وويل.

ښه خبره ده، چای دي وکړې؟

هو خان جي اوس مي وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـه، آ ښـه دا راتـه ووايـه چې واقعـي سـخي د خـان جهـان او د ملا زمري ملګري دی؟ زما ټوله شپه په دې خبره کي سودا وه.

ماتـه معلومـه وه چـې تـهٔ زمـا پـه خبـره يقـين نـهٔ کـوې، او يقـين بـه دي څنګـه وشـي، زهٔ سـتا د دښـمن زوی يـم، د دښـمن پـه زوی اعتبـار کـول د کوم ځای عقلمندي ده،

نـهٔ داسـي خبـره نـهٔ ده. تـهٔ د پـلار رنګـه نـهٔ يـې. زهٔ تـا ښـهٔ پېژنم. تـهٔ د دې وطـن بچـی يـې، د دې خـاورې پيـدا يـې. خـان پـه جـواب کـي ورتـه وويل.

نـو بيـا خـان جي تـهٔ داسـي وکـړه چـې د سخي و کـور تـه يـو څـوک ور واسـتوه. د هغـه پـه کـور کـي نيـوي قالينـان، توشـکي (نيـالي)، زنانـه او مردانـه نيـوي جـامې او د کـور نيـوي څيزونـه زمـا د خبـرو د صـداقت د پـاره کـافي دي، او دويمـه دا چـې ماخوسـتن سـخي خپلـه لـور و مـلا زمـري تـه ورکـړه. کېدای شي چې د هغـه پـه کـور کـي داسـي مـاحول وي چي تاسو ځني اندازه ولګوی. بازيد په ځواب کي ورته وويل.

څهٔ، سخي خپله لور و ملا زمري ته ورکړه؟

هو خان جي.

دا څـهٔ بـد بخت سـړی دی. څـهٔ ورپېښـه ده، ولـي داسـي کـوي. پـه سـخي مـا هـمېش بروسـه کـړې ده، هغـه پـه تېـر جنـګ کـي هـم راسـره وُ، دی څنګـه مـوږ تـه دهوکـه راکـولای شـي، زمـا يقـين نـهٔ کېـږي. خان ورته وويل.

زهٔ بـه يـوه بلـه خبـره هـم درتـه وکـړم، چـي دي شـک پـه يقـين بـدل شـي. يـوه ورځ ستاسـو د کلـي مـلا سـخي تـه ورغلـی وُ او پوښـتنه يـې ځنـي کـړې وه چـې پـه کلـي کـي بـه څـو ځوانـان د جنـګ د پـاره تيـار شـي. نـو دهٔ پـه ځـواب کـي ورتـه ويلـي وُ چـې تـهٔ خـو باچـا سـړی يـې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزانو غوندي طوفان سره څوک جنګېدلای شي. خبري ډېري شوي وې. مګر دی تاسو ته نۀ راغی. دا ټول مجلس بیا دۀ و ملا زمري او زما پلار ته وکړی. ما دا مجلس واورېدو. تۀ خپل د ملا صاحب څخه پوښتنه کوی شې. بازید ورته وویل.

ښه، نو دا کیسه ده، ماته اخوندزاده صاحب هم نۀ دي ویلي، خیر هغه اوس لږ ساعت پس راځي، ستا په مخ کي به زۀ پوښتنه ځني وکړم، تۀ کښېنه زۀ لږ کار لرم، بیا چي اخوندزاده صاحب راشي نو به زۀ هم راشم........خان دد ي خبري سره سم ولاړ شو.

سمه ده خان جي. بازید په ځواب کي ورته وویل.

خان د مېلمستون نه خپل کور ته راغی. پښتنه یي راوغوښته او ځان سره یي څنګ کي په کټ کښېنوله او ورته یې ویل چي؛

بچیه! ما تا ته ماخوستن ویلي ؤ چي زۀ بیا سهار ټوله کیسه درته کوم نو راشه چي اوس یې درته وکړم.

بچیه! انګرېزان بیا دې وطن ته په سپکه ستر ګه ګوري. هغوی په موږ کي خپل جاسوسان، دلالان د خان او د ملا په شکل کي ایله کړي دي. د بازید پلار خان جهان او د هغه کره مېلمه ملا، ملا زمری هم د انګرېزانو ډوډی خواره دي. په دې کیسه موږ له وخته خبر ؤ. موږ دا خبره پټه کړې وه. د هغې ورځي ستا خبره چي د سخي په کور کي رنګارنګ څیزونه دي او ماخوستن د بازید راتګ او د سخي په هکله دا ویل چي سخي هم د خان جهان او ملا زمري ملګری دی زما شک ته نوره وده ورکړه. او بله خبره دا چي سخي خپله لور و ملا زمري ته برایي شپه پټه ورکړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـان، ګـل مینـه یـې ورکـړه؟ پښـتنې یـو دم پـه حېرانګـی کـې پوښتنه ځني وکړه.

هو ، هغه یې ورکړې ده، ماته دا خبره بازید وکړه.

نو بازید تاته دا خبري ولي وکړې؟

بازیـد د پـلار د کارنـامو نـه خبـر دی، هغـه د پـلار رنګـه وطـن دښـمن، دیـن دښـمن او ضـمیر فروشـه نـهٔ دی، هغـه پـه تېـر جنـګ کـې هـم د مـورې سـره راسـره ؤ. خـدای خبـر چـي سـخي د خـان جهـان سـره اړیکـي کلـه ښـې کـړې؟ هغـه بـه هـر وخـت د خـان جهـان خـلاف خبـري کـولې چـي دا بـې ننګـه دی، دا وطـن دښـمن دی، دا ضمیرفروشـه دی، نـن دی خپلـه د هغـوی پـه صـف کـي ولاړ دی او پاتـه شـو بازیـد نـو مـا معلومـات وکـړی، هغـه واقعـي لـه کـوره تښـتېدلی دی، پـلار یـې خلـک پسـې اچـولي دي خـو زهٔ یـې پټ سـاتم. تـهٔ هـم لـږ خیـال کـوه چـي څـوک درڅخـه خبـر نـهٔ شـي او بلـه دا چـي تـهٔ د سـخي کـور تـه ورشـه او معلومـات وکـړه چـي څـه کیسـه روانـه ده، ماتـه بـه زر حـال راکوې، ښه بچیه ؟

تـهٔ بـې غمـه اوسـه خـان لالـه، زهٔ اوس ورځـم او تاتـه ټـول حـال راوړم. پښتنې په مینه ځواب ورکړو.

خــان د هغــه ځایــه ولاړشــو او مېلمســتون تــه ولاړی. پښـــتنې ټکری په سر کړو او د ګل میني د کور په خوا روانه شوه.

کلـه چـي د ګـل مینـي و کـور تـه ورسـېده نـو یـې پـه کـور کـي چوپـه چوپتیـا محسوسـه کـړه. د ګـل مینـي دوی کـور داسـي معلومېـدو لکـه چـي هیڅـوک هـم نـهٔ وي پکـي . دې ګـل مینـي تـه غږونـه وکـړو خـو چـا ځـواب ورنـهٔ کـړو. دا د ګـل مینـي و کـوټې تـه ولاړه هلتـه پـه دروازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـي يـې د ګـل مينـي د مـور نـازکو خالـه غـږ واورېدو. هغـې ګـل مينـي ته وويل چي؛

ګـوره خيـال کـوه چـي پښـتنه درنـه خبـره نـهٔ شـي، ځـان سـم کړه،او ښـکي پـاکي کـړه، زرکـوه شـاباس. پښـتنې دا خبـره واورېـده، پـه دروازه کـي يـې و ګـل مينـي تـه غـږ کـړو. د ګـل مينـي مـور د کـوټې څخه ورغږ کړو چي؛

راځـه پښـتنې بچـې. پښـتنه هـم کـوټې تـه ورننوتـه، چـي کتـل يې ګل مينه په کټ ناسته ژاړي.

پښـتنې د ګـل مينـي د مـور سـره سـتړې مـهٔ شـې، خـواره مـهٔ شـې وکړه. هغې هم دا په مينه ښکل کړه او ورته يې وويل چي؛

پښتنې بچې! تهٔ دا پوه کړه، زهٔ يې ستړې کړم.

ولـي خيـر خـو دی، دا ولـي ژاړي؟ پښـتنه د ګـل مينـي پـه څنـګ کـي کښېنسته.

داسـي خبـره هـم نـهٔ ده زويـه، مرکـه وراغلـې ده، پـه هغـه ژاړي. د ګل مينې مور نازکو ورته وويل.

مرکــه؟ دا خــو د خوشــحالۍ خبــره ده. اې کــم عقلــي! مــهٔ ژاړه، شـکر اوباسـه چـي پـه عـزت سـره دي څـوک خپلـوي. پښـتنې پـه نـاز باندي و ګل مينې ته وويل.

مــوريــې زر ولاړه شــوه ويــل يــې زهٔ ځــم چــای د راوړم، تــهٔ دا لــږ پوه کړه، ښه زويه.

تــهٔ بــې فکــره شــه، دا خــو لا پرېــږده د دې پــلار بــه يــې لا منــي. پښتنې په خندا کي ورته وويل.

کلـه چـي د ګـل مينـي مـور د کـوټې څخـه ووتلـه نو پښـتنې زر و ګل مينې ته وويل چي، ګل مينې زر حال راکوه چي څهٔ کيسه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ یې د پلار په عمر سړي ته ورکړم، له ما یې پوښتنه هم نهٔ ده کړې. ګل میني په ژړا ورته وویل.

چاته یې ورکړې؟ څوک دي هغه خلګ؟

نهٔ یم خبره، خو بابا ویل چې ډېر ښه انسان دی.

تهٔ واقعي نهٔ یې خبره؟

هو زهٔ رښتیا درته وایم، خو دومره پوهه شوم چې هغه سړی له ما په عمر کې ډېر لوی دی، زما د پلار د عمر دی.

او که زهٔ دي خبره کړم چې تهٔ یې وچا ته ورکړې یې نو بیا؟ پښتنې په رازدارۍ کې ورته وویل.

څوک دی؟

ملا زمری.

ملا زمری؟ هغه چې د امۍ د درملني د پاره دلته راغلی ؤ؟

هو هغه. پښتنې بیا په رازدارۍ کې ورته وویل.

تهٔ څنګه خبره شوې؟ تاته چا وویل؟

تهٔ ما پرېږده، دا راته ووایه چې ستا دغه سړی خوښ دی که نا؟

زهٔ یې په بلا وهم، هغه خو سم ځناور ښکاري، نا خورکۍ، زهٔ هغه هیڅ کله هم نهٔ شم قبلوی.

نو بیا به څهٔ کوې؟

پښتنې زهٔ به زار وخورم، د دې کوره به وتښتم، خو د هغه ملا سره وادهٔ نهٔ کوم، تهٔ امۍ ته ووایه چې هغه ملا له ما ډېر مشر دی، هغه سم سړی نهٔ دی، تهٔ ورته ووایه چې هغه بابا پوه کړي چې د دې رشتې څخه انکار وکړي.

زهٔ هیڅ هم نهٔ شم کولای، که ما تاته هغه خبره وکړه کومه چې ستا د بابا په هکله ده نو تهٔ به زما یقین ونهٔ کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه خبره ؟ ته یې ماته وکړه زه ستا په هره خبره یقین کوم.

ستا پلار، خان جهان او دا ملا زمري دا درې سره د انګرېزانو ملګري دي، ملا زمري انګرېزانو دې علاقې ته رالېږلی دی، هغه د خان جهان سره ملګری دی، هغو ستا پلار او دا رنګه ډېر خلک پخپل دام کې راګېر کړي دي، ستا سو په کور کې چې کوم نیوي څیزونه دي دا ټول ملا زمري ستا پلار ته ورکړي دي، ستا پلار او س زموږ مېلمستون ته نه راځي، هغه د خان جهان مېلمستون ته ځي، اوس پوه شوې ؟ پښتنې په یوه ساه د رازدارۍ په انداز کې ټول حقائق ورته بیان کړو.

که دا خبره وي نو زه د دې پلار لور نه یم، کوم چې د دې علاقې د دښمن ملګری دی. ګل مینې خپلې اوښکې پاکې کړې او دا خبره یې وکړه.

د دې علاقې نه، د ټول وطن دښمن، ته دا سې وکړه چې د مور او پلار په مخ کې غېږه مه کوه، ځان کوڼ وا چوه، زه به ستا د پاره یوه لاره جوړه کړم. پښتنې په ځواب کې ورته وویله.

زه دا نه شم کوی، دوی زما د ژوند فېصله کړې ده، ته ماته لاره راوښیه، زه په هره لار درسره ځم. ګل مینه بیا په ژړا شوه.

د ښځې زات هم عجیبه وي چې د دې د فائدې خبره وي نو خوشحاله وي او چې لږ یې د طبعیت څه چپه وي نو ژړا د دې لوی هتیار وي. دا ژړا د هر سخت زړه د نرمولو د پاره لویه وسله وي. ګل مینې هم دا لاره خپله کړه او په ژړا سر شوه.

د پښتنې زړه هم ډېر په خوږ شو او ورته یې وویل چې؛

ګل مینې ته مه ژاړه، زه ځم و خان لالا ته دا خبره کوم، بیا سبا راځم او تاته وایم چې څه کول پکار دي. پوه شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ کښېنه، چای خو وکړه. ګل میني ورته وویل.

نا، زهٔ ځم، نور کارونه هم لرم، سبا راځم، تهٔ اوس خپلي اوښکي پاکي کړه، تر سبا زما انتظار وکړه. دا خبري دوی کولې چي د ګل میني مور نازکو خاله راننوته. د هغې په لاس کي د چای ډکي پیالې وې.

خاله زهٔ ځم، تاسو خپلي چای وکړی. پښتنې په ولاړېدو کي دا ورته وویل.

وی، ما دومره خواري وایستله، تهٔ دا یوه پیاله وکړه بیا ځې که نهٔ ځې.

سمه ده خاله، ګل مینه مو چاته ورکړه؟ پښتنې ځان ناګوله (ناخبره) واچوئ او دا پوښتنه یې ځني وکړه.

د دې د پلار د لري خپلوان دي، و هغو ته مو ورکړه.

ښه، ډېره ښه خبره ده، خیر اوس به ګل مینه هم نهٔ ژاړي، ما دا یوه کړه چي د پلار او مور خیال وساته، اوس به مو انشاءالله تنګ نهٔ کړي. پښتنې ورته وویل.

هایي زویه، د هر چا لور او خور ودېږي، لور او خور خو یې د بل د کور، که دوی وژاړي او که نهٔ، ودېږي خو به خامخا، دا زهٔ او ستا مور نهٔ یو را ود شوي؟ د ګل میني مور ورته وویل.

هو بالکل، لور او خور خو د بل د کور وي او ګل مینه خو بختوره ده چي ستا رنګه مور لري، زما حال ته وګوره، پلار مي هم پلار دی هم مور، خو زهٔ هغه ته د زړهٔ حال نهٔ شم ویلای، کوم چي یوه لور یې و مور ته وایي. پښتنې په ځواب کي ورته وویل.

زویه! ستا دي هم الله ښه ځای نصیب خلاص کړي، تر څو به د پلار په کور پرته یې. نازکو خاله خپله هوښیاري ښکاره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـس تـهٔ دعـا کـوه، چـې مـا دې الله د پـلار د سـوري محرومـه نـهٔ کړي.

آښــه زهٔ اوس ځــم، چــای مــې هــم وکــړې، ډېــر نا وختــه شــو. پښتنې په ولاړېدو کې ورته وویل.

ځه زویه په مخه دې ښه، کله کله د غسي چکر را وهه.

انشـا, الله، اوس د ګـل مینـې تـر وادهٔ هـره ورځ را ځـم تـر څـو چـې مـې ګـل مینـه ود کـړې نـهٔ یـې. پښـتنه د دې خبـري سـره سـمه روانـه شـوه، کلـه چـې پښـتنه د سـخي د کـوره راروانـه شـوه نـو پـه لار کـې سـخي پـه مخـه ورغـی. دې سـخي تـه سـتړې مشـې ورکـړه. هغـه هـم خواره مهٔ شې ورته وویل. پښتنې په ګیله کې ورته وویل چې؛

سـخي مامـا! دومـره لویـه خوشـحالي او مـور دې هېـر کـړي یو؟ ولي مور بیا دومره زر پردي شو؟

نـهٔ بچیـه، داسـي کیسـه نـهٔ ده، تـر اوسـه مـې لا نـهٔ ده ورکـړې، صـرف هـو مـې ورتـه کـړې ده چـې مـور سـوچ پـه کـوو. زهٔ، د ګـل مینـې مـور او خپلـوان بـه مشـوره پـه کـوو بیـا بـه د هـو او نـا خبـره کېږي. سخي په ځواب کې ورته وویل.

ښـه نـو تـر اوسـه دې لا نـهٔ ده ورکـړې، څـوک دې هغـه خلـګ؟ پښتنې په خوږ ځي لاس ورکېښودی.

بچیـه تـهٔ یـې نـهٔ پېژنـې، زمـا د لـري خپلـوان دي، پـه جـلال ابـاد کې اوسي.

خان لاله یې هم نهٔ پېژني؟ پښتنې بیا پوښتنه ځني وکړه.

هـو، خـان جي یـې هـم نـهٔ پېژنـي، تـهٔ ولاړه ولـي یـې را ځـه کورتـه. سخي یو دم خبره بدله کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ اوس دا يم ستا سو د کوره را روانه يم، ډېره ځنډېدلې يم، سبا سو که بل سبا، انشاالله ضرور راځم، هغه هم تر هغو چي ما ګل مينه نۀيي رخصته کړې. پښتنې په خندا ورته وويل.

نو ځه بچيه، خدای دي مل شه، خو بچيه في الحال د ګل مينې د رشتې ذکر چا سره مۀ کوه، کله چي دا کيسه ترسره شوه نو به بيا ټول کلی خبر وو، ښه بچيه. سخي په ملتجي لهجه کي ورته وويل.

زۀ پوه شوم، سخي ماما تۀ بې غمه ووسه، زۀ خان لالا نۀ خبروم تۀ خو لا خلک ښيې. پښتنې په مسکا کي ورته وويل.

ابا ده ووسې، نو ځه بچيه په مخه دي ښه، په خان لالا سلام وايه، ورته وايه يوه ورځ درځم ملاقات ته.

سمه ده سخي ماما، د خدای په امان......

پښتنه د رخصت اخستو پس د کور خوا ته روانه شوه او سخي د خپل کور خوا ته روان شو.

پښتنه زر زر کور ته راغله، د مينځې څخه يې د خان پوښتنه وکړه چي چېري دی، هغې ورته وويل چي هغه په مېلمستون کي د مېلمنو سره دی، دې زر يو نوکر چي سپين ږيری ؤ او نوم يې اختر ؤ ورغږ کړو او ورته يې وويل چي خان لالا ته غږ کړه چي غواړي دي، ورته وايه چي زر راشه.

اختر مېلمستون ته ورغی، هلته د خان سره بازيد، علي ګل اکا او جانو اکا ناست وو. دوی د اخوندزاده صاحب په انتظار ؤ. خان چي دا واورېدل چي کورته دي غواړي نو زر راولاړ شو. علي ګل اکا ته يې ويل چي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ زر راځـــم. خـــان کورتـــه راغـــی او د پښــتنې و کـــوټې تـــه ورغی. غاړې یې تازه کړې پښتنې په غږ کړو چي راځه خان لاله.
خـان هـم کـوټې تـه ورننوتـو، دواړه پـه یـوه کـټ کښېنسـتو. پښتنې د سخي د کور روداد داسي بیان کړو.
خـان لالـه زهٔ چـي ورغلـم نـو پـه کـور کـي چپـه چپتیـا وه، ډېـر غږونـه مـي ګـل میني او نـازکو خالـه تـه وکـړې خـو هیچـا هـم ځـواب نـهٔ کـړو را، اخـر زهٔ د ګـل مینـي و کـوټې تـه ورغلم، څنګـه چـي دروازې تـه ورسېدم نـو د ګـل میني مـور نـازکو خالـه و ګـل میني تـه ویـل چـي اوښکي دي پـاکي کـړه، خیـال کـوه چـي پښـتنې تـه حـال ونـهٔ وایـې، پـه دا سـاعت زهٔ کـوټې تـه ورننـوتم، د ګـل مینـي مـور ښـه روغبـړ راسـره وکـړی، ګـل مینـه پـه کـټ ناسته ژړل یـې، مـور یـې ماتـه ویـل چـي تـهٔ دا پـوه کـړه، زمـا یـې زړهٔ را وخـوړی، د ګـل میني مـور چـي د چـای د پـاره د کـوټې څخـه ووتـه نـو مـا د ګـل مینـي څـه پوښـتنه وکـړه چـي څـهٔ کیسه ده ؟
هغـې راتـه ویـل چـي زهٔ بابـا ورکـړم، هغـه هـم دومـره لـوی سـړي تـه چـي زمـا د پـلار پـه عمـر دی، مـا پوښـتنه ځني وکـړه چـي څـوک دي ؟
دې راتـه ویـل چـي زهٔ یـې نـهٔ پېـژنم، خـو صـرف دومـره خبـره یـم چي زهٔ یې د پلار په عمر سړي ته ورکړم.
ما چي هغې ته وویل که زهٔ تا ته هغه سړی در وښیم نو بیا ؟
دا حېرانه شوه چي تهٔ چا خبره کړې یې ؟
نو ما ورته وویل چي تهٔ هغه پرېږده.
دې راته ویل چي څوک دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ما ورته وويل چې ملا زمری، هغه چې ستا د مور و درملني ته راغلی ؤ.

نو دا حېرانه پاتې شوه، ويل يې چې هغه خو ما ليدلی دی، هغه خو زما تر پلاره هم مشر دی.

ما ورته ويل چې مشر خو لا پرېږده هغه د انګرېزانو ډوډۍ خوردی، خان جهان هم د انګرېزانو ډوډۍ خوردی، هغوی ستا پلار د روپو او د غټ نوم ورکولو په دام کي راګېر کړی دی.

دې ويل چې اوس خو بېخي دا سړی نهٔ کوم، اوس چې مې حلالوي لا يې هم نهٔ کوم.

ما ورته ويل چې تهٔ تا دي مهٔ کوه، زهٔ سبا راځم او تا ته لار ښيم، دا کيسه وه د سخي ماما په کور کي. ښېښتنې ټولي خبري و خان ته وکړې، خان هم سوچ کي شو چې په دې سخي څهٔ شوي دي؟ سم سړی ؤ ځان يې د بلا په خُله کي ورکړو.

بچيه، دا جينۍ د دې ملا له دامه ساتل غواړي. ګنې دا ملا به د دې جينۍ او د سخي د کوره ډېري ناروا ګټې ترلاسه کړي، تهٔ چې سبا ځې نو يو وار له ما سره ووينه، زهٔ تا ته يوه لاره په لاس درکوم. خان ښېښتنې ته وويل.

سمه ده، تهٔ چې هر څه وايې هغه به کېږي. ښېښتنې په ځواب کي ورته وويل.

خان و لاړ شو د کوټې څخه ووتی او سيدها د مېلمستون په خوا ولاړی. د مېلمستون په کوټه کي اخوندزاده صاحب هم راغلی ناست ؤ. د سلام و دعا نه پس مجلس شروع شو. جانو اکا د دهٔ د راتلو څخه مخ کي رخصت شوی ؤ. خان اخوندزاده صاحب ته وويل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخوندزاده صاحب، ته کله و سخي ته د مجاهدینو په هکله ورغلی یې ؟

هو، یوه ورځ ورغلم، ما داګپه تاته ونهٔ کړه ولي چې موقع په لاس نهٔ راتله، زهٔ یوه ورځ ورغلم نو دی په پټهو کي ؤ، ما چې کله د ځوانانو په هکله د دهٔ څه پوښتنه وکړه نو دهٔ په ځواب کې راته وویل چې، تهٔ هم باچا سړی یې، د انګرېز رنګه طوفان سره څوک جنګېدلای شي، زما او د دهٔ په منځ کې ډېري خبري وشوې، اخر ما دا ورته وویل چې تهٔ یوه ورځ د خان و کوټې ته راشه، دهٔ په ځواب کې راته وویل چې کله هم زهٔ فارغ شم نو به ضرور درشم، هغه ورځ ده او دا نن ورځ، بیا مي په سترګو نهٔ دی لیدلی. اخوندزاده صاحب ښه په تفصیل سره ورته وویل.

اخوندزاده صاحب دا بازید خان دی، د خان جهان زوی، خان د بازید خوا ته اشاره وکړه.

زهٔ یې پېژنم، اخوندزاده صاحب په ځواب کې ورته وویل.

بازید خان د کوره تښتېدلی دی، ماته یې پناه راوړې ده، دهٔ ته په کور کي د سر خطره وه، دهٔ هغه ټول حال چې د ملا زمري، خان جهان او د سخي په منځ کې شریک ؤ ماته یې وویلو. سخي د څو پیسو او د کور د څیزونو په لالچ کي خپل ضمیر خرڅ کړو، د دې ثبوت دا دی چې دهٔ برایې خپله لور هم و منافق ملا زمري ته ورکړه چې د انګرېزانو ډوډۍ خوري. دوی لګیادي په علاقه کي خپل خلک تیاروي، دلته موږ ته دا خبر دی چې انګرېز خپله یوه فوځي دسته د دې کلي،خدای مهٔ کړه د بربادۍ د پاره تیاره کړې ده. دوی د دې دستې استوګن ځای او د خوراک پوره پوره بندوبست کړی دی، د تېر وار رنګه دوی بیا کوزکلی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېز ته سپاري، بازيد خان ډېر مهم معلومات راوړي دي، بايد چي له دې معلومات و څخه ګټه تر لاسه کړو او د را روان وخت پېش بيني وکړو. خان ورته وويل.

هغه خو ټهيک ده، دا راته ووايه چي د سخي سره څۀ پکار دي ؟ علي ګل اکا سوال ځني وکړه.

سخي به راغواړو، د هغه څخه به دا پوښتنه کوو چي وروره ولي ؟ ولي دي د دوزخ لاره خپله کړه ؟ کېداى شي چي د اخوندزاده، ستا او زما خبره څه اثر پرې وکړي او دى بېرته توبه اوباسي، سمي لاري ته راشي. خان په ځواب کي ورته وويل.

سمه ده، زۀ اوس اوس ورځم او سخي راولم، نن به دا کيسه ختمو و. علي ګل اکا ولاړ شو او دا خبره يې وکړه.

هو ورشه، موږ درته ناست يو ، که يې هر څه پلمه کوله، د لاسه يې ونيسه او راىې وله، خيال کوه چي درنه ورک نۀ شي..... اخوندزاده ورته وويل.

تۀ بې غمه اوسه وروره، لږ ساعت صبر وکړه زۀ يې درته لاس تړلي راولم که نۀ؟ علي ګل اکا د دې خبري سره سم د کوټې ووتی.

خان، اخوندزاده صاحب او بازيد په کوټه کي پاته شول، هلته علي ګل اکا لکړه په لاس کي په کراره کراره د خان د پټو خوا ته روان شو ، چېري چي سخي د دۀ د خياله کېداى شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

سخي خپل په کور کي د خپلي کورواني سره دعوه وه. سخي ورته ويل چي، هيڅوک به هم نهٔ خبروې او نهٔ به يې راغواړې، کوروداني يې ورته ويل چي که څوک راغواړې او که نهٔ زما خور به خامخا رائحي، زهٔ ګورم څوک زمونږ ښادي په غم رالړي.

ګل مينه د کور په يوه کوټه کي ناسته ژړل يې، حالانکه پښتني دې ته داد ورکړی ؤ چي يو نه يو بندوبست به وکړي، خو بيا هم زنانه زړهٔ دی، څېري صبر بېدا ای شي، د مور او پلار يې دغه دعوه شروع وه چي د کور دروازه چي د لرګو څخه جوړه وه وټکېده، سخي خپلي ښځي ته وويل چي؛

چپ شه،په دروازه کي څوک ولاړ دی، پام کوه چي څوک دي غږ وانهٔ وري.

دروازه بيا وټکېده، سخي د کوره په غږ کړو چي درغلم، څوک يې چي دروازه دي ماته کړه، سخي د دې خبري سره د دروازې خوا ته روان شو، دروازه يې خلاصه کړه او د کور د باندي ورووتي.

د باندي د خان جهان نوکر ولاړ ؤ. د سلام و دعا پس هغه سخي ته وويل چي خان دي غواړي، هغه ويل چي يو وار زر راشه، ډېر ضروري کار دی.

دهٔ په ځواب کي ورته وويل چي زهٔ لږ ساعت پس درځم، ته اوس ولاړ شه، داسي نهٔ چي يو څوک دي ووينې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خان نوکر بېرته ولاړی، سخي کورته بېرته ننوتو، څنګه چې دی په انګړ کې روان شو بیا دروازه وټکېده، دهٔ د ځان سره وویل چې یو خو دی دی چې په زوره مې بدنامه وي او پرناره یې کړه چې؛

وروره درته اومې ویل چې درځم. دهٔ لا دا خبره نهٔ وه پوره کړې چې دروازه بیا وټکېده، سخي په غصه کې د دروازې خوا ته روان شو، څنګه چې یې دروازه خلاصه کړه نو مخامخ علي ګل اکا ورته ولاړ ؤ.

علي ګل اکا پر غږ کړو چې کله دي راته وویل چې درځم ؟

سخي ډېر خړ شو، په شرمندګۍ کې یې ورته وویل چې تهٔ ؟

علي ګل اکا خدای دي راوله، دواړو د یو بل سره روغبړ وکړ،سخي ورته وویل چې راځه ولي ولاړ یې ؟

نا ، ناوخته دی، درځه، ډېر ضروري کار مي درسره دی.

ضروري کار ؟

تهٔ درځه خبري به هلته کوو.

نا ، ما خو لږ پوه کړه چې کیسه څه ده ؟

وایم تهٔ درځه په کیسه به دي سر خلاص شي او خبري به هم ډېري واورې.

علي ګل اکا بخښنه غواړم زهٔ ځم ځمکو ته، بېخي ډېر کار دی او تهٔ ښه خبر یې چې زهٔ ورته یوازي یم.

تهٔ درځه ځمکي نهٔ تښتي، که څه داسي مسئله راغله نو زهٔ به پخپله و خان ته ستا په ځای ځواب ورکړم اوس تهٔ راځه ډېر ضروري کار دی، بیا موقع په لاس نهٔ راځي.

ښه، زهٔ به یو وار کورته ورشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ بس راځه، د کور د تلو وخت هم نهٔ لرو، د دروازې څخه غږ کړه چې د علي ګل اکا سره ولاړم.

دهٔ هم د علي ګل اکا خبره ومنله، او د دروازې څخه يې غږ وکړو چې زهٔ يو څهٔ کار لرم بېرته زر ارځم، دهٔ په کسته د علي ګل اکا نوم وانهٔ خيست، ولي چې هلته يې د خان جهان و نوکر ته ويلي ؤ چې زهٔ لږ ساعت پس درځم. سخي په زړهٔ زړهٔ کي د ځان سره فکر کاوی چې څهٔ کيسه ده؟ علي ګل اکا ما چېري او چا له بيايي؟

علي ګل اکا او سخي بزګر دواړه د خان د کور په خوا روان شول، لږ ساعت پس دوی دواړه د خان و مېلمستون ته ورسېدو، کله چې دوی کوټې ته ننوتو نو سخي هک پک پاتې شو، هغه په دې چې هلته بازيد ناست ؤ، دهٔ د سلام نه مخ کي پر بازيد غږ کړو چې؛

تهٔ ؟ تهٔ دلته څه کوې ؟ هغه د پښتنو متل دی چې د جرګې نابلده لېوه وي، په سخي هم هغه کانه وشوه. بازيد، خان او اخوندزاده درې سره ورولاړ شول، روغبړ يې ورسره وکړ، دهٔ ته يې دا محسوسه هم نهٔ کړه چې موږ په تا خبر يو.

سخي و خان ته مخامخ کښېنستي، ټولو فرداً فرداً پوښتنه ځني وکړه، خان و سخي ته په مسکا کي وويل چې؛

سخي جانه د لور د کوزدې دي مبارک شه،زهٔ اوس د پښتني د خُلې خبر شوم.

خير مبارک، سخي په ځان نهٔ پوهېدی چې خان څهٔ ورته وايي. هان دی په ځان کي غل ضرور ؤ. خير دهٔ هم زړهٔ وکړی او و خان ته يې وويل چې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



بازیـد دلتــه څـهٔ غـواړي؟ دی خـو د هغــه سـړي زوی دی څـوک چــي د انګرېزانــو ملګـری دی، دهٔ تــه اجـازه چـا ورکــړې ده چــي دې کلـي تــه راشــي. درې سـره ناسـت سـړیو د دهٔ خبـري اورېـدې، هیڅـا هـم د خُلـې غـږ نـهٔ باسـه، کلـه چـي دی سـتړی شـو نـو خـان پـه غـږ کـړو چي؛

سخي جانه نور څه هم وایې که دغه بس دي؟

سـخي پـه ځـان کـي خجالـت شـو او د ځـان سـره یـې دا فکـر وکـړ چـي، زهٔ دومـره ګـرم ګـرم کېـږم او دا خلـګ زمـا پـه خبـره بـاک هـم نـهٔ راوړي.

اخوندزاده صاحب په غږ کړو چي؛

سـخي جانـه دغـه خبـري تـه خـو مـوږ تـهٔ راغوښـتی یـې،دا هلـک زمـوږ پـه کلـي کـي د شـپې ګرځېـدی، د کلـي خلګـو ونیـوی او دلتـه یــې راوســتی، د دهٔ پــلار د انګرېزانــو ملګــری دی، نــو دی بــه هــم خامخـا د پـلار ملګـري کـوي، نـو تـهٔ څـه پکـي وایـې چـي د انګرېزانـو د ملګري سره څهٔ سلوک په کار دی ؟

زهٔ خــو وایــم چــي ســر ځنــي پــرې کــړی، ســخي پــه غصــه کــي ځواب ورکړ او بازید ته یې په قهر وکتل.

یعنـــي ســـتا د خبـــري مطلـــب دا دی چـــي د انګرېزانـــو د هـــر ملګـــري څخـــه ســـر پرېکـــول پکـــار دي؟ اخونـــدزاده صـــاحب بیـــا پوښتنه ځني وکړه.

هـو بالکـل، دا د دیـن او وطـن دښـمنان دي، دغـه سـزا هـم ورتـه کمـه ده، سخي په جذباتي انداز کي ورته وویل.

نـو بیـا خـو اول سـتا سـر پرېکـول غـواړي. علـي ګـل اکـا پـه مـنځ کي دا خبره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سخي د مخ بڼه بالکل غائبه شوه، حلق يې وچ شو، ژبانګوې بنده شوه، مخ يې تک زيړ شو او رډ بډ يې و خان ته وکتل.

اخوندزاده په غږ کړو چي؛

سخي جانه ولې چپ شوې؟ خُله دي ولې ګونګۍ شوه، د دې خبري ځواب لرې که نا؟

خان هم په غږ کړو چي؛

اې بدبخته، تا ته دا څه کمي وه؟ زما په ځمکو کي لکه ورور سم را شريک وې، تر ننه پوري مي د يو څيز حساب نهٔ دی درسره کړی، بڼه وطن دوسته او دين دوسته وې، بيا هغه کومه مجبوري وه چي تهٔ يې و دې ګناه ته تيار کړې؟

د سخي د سترګو ناڅاپه اوښکي راروانې شوې او په ژړا کي يې و خان ته وويل چي؛

خانه ما معاف کړه، تاسو ټول ما معاف کړئ، زهٔ په ځان نهٔ پوهېدم، د دې هلک پلار ماته زرغون بازار راښکاره کړی.

ولي تهٔ ماشوم وې چي د دهٔ د پلار په خبرو کي راغلې؟

اخوندزاده صاحب په ښېښم ورته وويل.

بس څه درته ووايم، زهٔ ډېر خطا وتم، او س زهٔ دو مره پکې راګير شوی يم چي هيڅ لار د خلاصون نهٔ لرم. سخي په ژړا کي ورته وويل.

هيڅ هم نهٔ دي شوي، تهٔ توبه وباسه، الله به هر څه خير کړي.

نا اخوندزاده صاحب، او س هيڅ نهٔ شي کېداى، ما د بېرته راتلو ټولي لاري بندي کړې، ما د دولت په لالچ کي دومره لوى ګام واخست چي څوک يې تصور هم نهٔ شي کولاى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـا هـيڅ يـوه لاره نـهٔ ده بنـده کـړې، تـهٔ صـرف توبـه وباسـه او زمـوږ سره بېرتـه هغـهٔ رنګـه همکـار شـه کـوم چـي لـه مخـه وې، خداى به هر څه خير کړي. علي ګل اکا په ځواب کي ورته وويل.

علـي ګـل اکـا زهٔ تـا څنګـه پـوه کـړم، مـا خپلـه نـازولې ماشـومه لـور و مـلا زمـري تـه ورکـړه. سـخي پـه ډېره مايوسـه لهجـه کـي ځـواب ورکړو.

ګـوره سـخي کـه تـهٔ پـه رښتيا سره توبـه وباسـې نـو مـوږ سـتا و هـر قسم کومک ته تيار يو. خان ورته وويل.

سـخي مامـا، تـهٔ زمـا پـلار نـهٔ پېژنـې، هغـه د نـوابي د پـاره خپـل زوى بنـدي کـړ، هغـه د څـو روپـو پـه خـاطريـې د دې علاقـي د سـاده پښـتنو د سباوون سـودا د انګرېز سره وکـړه، هغـه پـه هغـو انسـانانو کـي شـمار دى کـوم چـي د نـوم او مرتبـې د پـاره د خپـل اولـس او ديـن دښـمنان شـوي دي، زهٔ يـې ډېر ښـه پېژنم، تاتـه چـي يـې څـومره مراعـات درکـړي دي دغسـي يـې و نـورو خلکـو تـه هـم ورکـړي دي، تـهٔ پـه خبـره ځـان پـوه کـړه، تـر اوسـه هيڅ نـهٔ دي شـوي، راشـه بېرتـه د خپـل قـام او ديـن د نـاموس د پـاره پـه دې تحريـک کـي شـريک شـه، تـهٔ ماتـه نـهٔ ګـورې؟ مـا هـر څـه پرېښـودل. مـور، پـلار، ځمکـي، جائيـداد هرڅـه، صـرف پـه دې خـاطر چـي د وطـن او د ديـن مينـه زمـا پـه رګـو کـي غـوټې وهـي. بازيد خان ورته وويل.

سـمه ده، زهٔ بـه توبـه وباسـم، بېرتـه بـه تاسـو تـه راشـم، خـو زمـا لور؟

د هغـې تـهٔ فکـر مـهٔ کـوه، تـهٔ دومـره وکـړه چـي خـان جهـان پـه ځـان مهٔ پوهه وه. خان ورته وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علي ګل اکا تـر راتلـو لـه مخـه خـان جهـان سـړی رالېږلـی ؤ چـي يـو وار زر راشـه، نـو اوس تاسـو فېصـله وکـړئ چـي ورشم کـه نـهٔ ؟

ورشـه، ضـرور ورشـه، خـو دا مـهٔ پـه ظـاهروه چـي تـا و مـوږ تـه تـول حـال وويلـو، اوس بـه د دوی دام د دوی پـه پښـو کـي وي. خـان په ځواب کي ورته وويل.

خـان جـي مـا معـاف کـړه، مـا د اخـرت پـه اسائشـو د دنيـا و اسائشـو تـه تـرجيح ورکـړه، سـتا سـره مـا ډېـر بـد کـړي دي، تـهٔ مـا معاف کړه. سخي د دې خبري سره سم ييا په ژړا شو.

ژړا د سـړو نـهٔ د ښـځو کـار دی، زمـا پـه زړهٔ کـي اوس هـم سـتا د پـاره ډېـر عـزت دی، دا د خـدای ډېـر لـوی فضـل دی چـي تـا پـر وخـت توبـه و ايسـتله. اوس ورشـه، او هـان ! ډېـر خيـال کـوه چـي د بازيـد پـه هکلـه دي د خُلـې څخـه څـه ونـوزي، ځـهٔ شـاباس چـي مـوږ سـتا پـه انتظار يو. خان په مسکا کي ورته وويل.

سـخي هـم خپلـي اوښـکي پـاکي کـړې، د تولـو څخـه يـې رخصـت راواخستو او د کوټې څخه راووتو.

کلـه چـي دی د مېلمسـون څخـه راروان شـو نـو زړهٔ يـې خوشـحال خوشـحال ؤ، د خـدای شـکرونه يـې ادا کـول چـي الله د څـومره لويـه ګناه څخه دي راوګرځولم، واقعي تهٔ د باچهانو باچا يې.

پـه دغـه سـوچو او فکـرو کـي و کـوز کلـي تـه ورسـېدی. سـيدها د خـان جهـان و مېلمسـتون تـه ولاړی. هلتـه د مېلمسـتون پـه کوټـه کـي مـلا زمـری، خـان جهـان او يـو بـل سـړی چـي دهٔ لـه مخـه نـهٔ ؤ لېدلی ناست ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهٔ د ټولـو سـره روغبـړ وکـړی، مـلا زمـري دی خپـل پـه څنـګ کـي کښېـناؤ، د حـال احـوال نـه وروسـتو يـې پوښـتنه ځني وکـړه چـي د کومه ځايه راروان يې ؟

دهٔ په ځواب کي ورته وويل چي د بهادرخان د کوره.

ښه ! هلته دي څهٔ کول ؟ ملازمري بيا سوال ځني وکړی.

زهٔ د هغـه د ځمکـو بزګـريـم، د ځمکـو د حسـاب کتـاب د پـاره يـې غوښتی وم. سخي په ځواب کي ورته وويل.

څـه داسـي خبـره خـو بـه دي نـهٔ وي کـړې چـي سبا و مـوږ ټولـو تـه مسئله جوړه شي ؟

ولـي زهٔ لېـونی خـو نـهٔ يـم چـي دغـه خبـري بـه ورتـه کـوم، زهٔ هـم ستاسـو ملګـری يـم، ماتـه هـم مسـئلې جوړېـدای شـي او بيـا بهادرخـان او جهـان خـان دواړه دښـمنان دي، خـان جهـان چـي لـه مـا سـره ښـه کـړي دي هغـه بهادرخـان پـه ټـول ژونـد لـه ماسـره نـهٔ دي کـړي، مـلا صـاحب تـه بـې غمـه اوسـه. سـخي پـه ځـواب کـي ورتـه وويـل او داسـي انـدازيـې خپـل کـړ چـي د هيچـا هـم سـر نـهٔ شـو پـه خلاص.

ښـه خبـره ده، سـخي جانـه دې خبـري تـه مـي تـهٔ راغوښـتی يـې چـي سبا ماښـام تـهٔ ځـان تيـار کـړه. مـلا زمـری او دغـه مېلمـه کـوم چـي د جـلال ابـاد څخـه راغلـی دی سـتا کـره درځـي او تـهٔ بـه و ملازمـري تـه خپـل امانـت پـه لاس ورکـوې. خـان پـه داسـي لهجـه کـي ورتـه وويـل لکه چي دا خلګ بس په روانېدو وي.

خـان جـي، لـه ماسـره خـو د څلـورمي شـپې قـول شـوی ؤ. دا د سبا شپې کيسه څه بې ځايه نهٔ ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ بې ځایه نهٔ ده، خبره دا ده چې بل سبا له خیره ملا زمری جلال اباد ته روان دی، بیا بېرته دی د درو میاشتو پس راځي، هلته د دهٔ ډېر ضروري کارونه دي، دی څلورمي شپې ته نهٔ شي ایسارېدای. خان جهان په ځواب کي ورته وویل.

خان جي، ماته مو ډېره ګرانه کړه.

هیڅ ګرانه نهٔ ده سخي جانه، بس تهٔ د سبا ماخوستن تیاري ونیسه. ملا زمري په غبرګ کړو.

هاځه سمه ده، څنګه چې ستاسو خوښه وي. سخي په یوه سړه اسوېلۍ کي ورته وویل.

هان دا واخله، دا دي لونګۍ ده، ملا زمري په دسمال کي څه ورته ونیول.

دا څهٔ دي؟ سخي دسمال ته لاس کړو او دا سوال یې ځني وکړ.

دا یو څو د سرو پاؤلیان دي پکار به درشي او که دي نور څه حاجت شو نو خان ته صرف اشاره وکړه دی به زما پر ځای دغسي لونګیاني درکوي. ملا زمري په خندا کي ورته وویل.

زهٔ در څخه ځم ځمکو ته هلته ډېر کار لرم، سبا ماخوستن زهٔ ستاسو انتظار کوم. سخي ولاړ شو او دا خبره یې وکړه.

انشاءالله، په مخه دي ښه.

سخي د خان جهان د کوره سیدها د برکلي په خوا روان شو. دهٔ ته دا احساس وشو چې واقعي دا رنګه خلک د وطن او دین دښمنان دي. څومره دولت ورسره دی. دا د کومه خوا ورته راځي؟ یو زموږ اخوندزاده صاحب دی چې د ماښام د ډوډۍ پوري حیران دی او بل دا ملا زمری دی چې لمن یې د سرو ډکه ده. په دغه سوچو کي خپل کلي ته راورسېدی. سیدها د بهادرخان و مېلمستون ته ولاړی. هلته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېلمستون په کوټه کې بهادرخان، بازيد، علي ګل اکا او اخوندزاده د دهٔ په انتظار وو.

د سلام دعا نه پس يې دسمال و خان ته ور وغورځوو.

خان پوښتنه ځني وکړه چي دا څهٔ دي؟

دهٔ په ځواب کې ورته وويل چي، پخپله يې وګوره.

خان چي دسمال خلاص کړو نو حيران پاتې شو، دا دو مره سرهٔ؟ دا دي له کومه کړل؟

دا راته ملا زمري راکړل، هغه هم په لونګۍ کي.

لونګۍ کي؟ په لونګۍ کي سرهٔ؟ دا مي اول وار وليدل چي په لونګۍ کي سرهٔ ورکول کېږي.

خان جهان زهٔ د دې د پاره غوښتی وم چي ما خو به چاته حال نهٔ يي ويلی او د دې د پاره چي دوی سبا ما خوستن راځي او زما لور وړي. سخي په ځواب کي ورته وويل.

نو تا څهٔ ځواب ورکړی؟ اخوندزاده صاحب پوښتنه ځني وکړه.

اخوندزاده صاحب، ما ورته وويل چي الله مو راوله.

دا دي ډېر ښه ورته ويلي دي، ستاد تلو نه پس موږ په دې هکله لږ خبره وخېړله او س به يې له تا سره هم شريکه کړو.

څنګه خبره؟

خبره دا ده چي..............................

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ملا صاحب په دې نوي جامو کې سم هلک ښکارې، د څلورم وادهٔ دې مبارک شه.

د خان جهان په مېلمستون کې ناست کس و ملا زمري ته په خندا وويل.

خيال کوه دلبر جانه چې د سخي او د خان جهان په مخ کې دا خبره ونهٔ کړې، هغوی ته ما ويلي دي چې دا زما اول وادهٔ دی.

ملا زمري په دې کس چې دلبر نومېدو غبرګړو.

ياره زمريه! ستاغوندې شاطره (چالاکه) ما په خپل ژوند نهٔ دی ليدلی، تهٔ څنګه دا تېرې خلک تر ويالې اړوې په دې زما عقل ما ته ځواب راکړي، واقعي چې په خپل کار کې ايمانداريې، دلبر ورته وويل.

دلبر جانه! د انسان لوی ضرورت نس او نفس مړېده دي، که د دې فکر درسره ؤ نو هره هغه لار چې د عام انسان په سترګو بده ښکاري تا ته به ښه ښکاري، او که د دې دواړو څه دې ډډه وکړه او د دې خلاف دې مجاهده پيل کړه، نس دې په ولږه او نفس دې سوړ وساتی نو بيا تهٔ د وخت بزرګ يې، او بزرګي زما په وس نهٔ ده پوره.

ملا زمري د لونګۍ په ترلو کې په خندا خندا دا خبره ورته وکړه.

زهٔ ستا په خبره پوه شوم، آښه دا راته ووايه چې د ناوې د راوړلو پس کوم ګام دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



څۀ ګام، سیدها بـه خپـل وتـاک تـه ځـو، دلتـه نـور پـاتې کېـدل خطرنـاک دي، ولـي چـې د خـان جهـان زوی بازیـد غـائب دی، کـه هغـه پـه مـوږ بـر کلـی خبـر کـړو نـو پـه دې کـوز کلـي کـي بـه هـم مـوږ محفوظ نۀ یو. ملا په ځواب کي ورته وویل.

ملا ! دا د سخي د لور تاته چا وویل ؟

هیڅا هم نۀ دي راته ویلي، ما هغه یوه شپه ولیده او خوبنه مي شوه.

چېري دي ولیده ؟

د سخي په کور کي .

د سخي په کور کي ؟ تا هلته څۀ کول ؟

د سـخي کورودانـه ناروغـه وه، زۀ د سـخي سـره د هغـه و کـور تـه ولاړم، څـه دم مـم مـي پـه وکـړ بیـا مـي یـو څـو ځابنـتونه ورکـړل، پـه اصـل کـي زۀ و بر کلـي تـه پـه دې خـاطر تللـی وم چـي دا کلـی وویـنم، مـا د بهادرخـان کـور هـم ولیـدو، ډېـر غـټ دی داسـي یـې جـوړ کړی دی لکـه یـوه جنګـي کـلا، یـاره دلبـره دا خلـک هـم عجبـه بـې عقلـه دي، دا هـم نـۀ ګـوري چـي دا څنګـه مـلا دی؟ پـه ځابنـتو کـي یـې څـۀ لیکلـي دي ؟ پـه دم کـي یـې څـه راباندي وویـل ؟ و مـلا تـه پـه دومـره عـزت او احتـرام ګـوري لکـه د خپـل کـور بنیـادم تـه، د دوی زنـاني، پـه کومـو چـي دوی ننـګ او غیـرت کـوي، چاتـه یـې د تهکـري پلـو هـم نـۀ ښـکاره کـوي د مـلا سـره یـې کښېنوي، نـو بیـا دا زمـا رنګـه عـالم فاضـل، انګرېـزي مـلا پـه پېښ شـي او سـم ورسـره پـه کـور کـي ځـان شـریک کـړي. مـلا زمـري دا اخري خبره په طنزیه لهجه کي وکړه چي دلبر هم په وخندل.

دا خبـري شـروع وې چـي خـان جهـان کـوټې تـه راغـی. د سـلام دعـا پـس یـې و مـلا زمـري تـه وویـل چـي، مـلا زر ځـه او زر راځـه، هلته به په ګپو نۀ کښېني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـهٔ بـې غمـه اوسـه خانـه، مـوږ څـه ماشـومان يـو چـې پـه هـيڅ نـهٔ پوهېږو ؟

چـې ماشـومان نـهٔ ياسـت نـو بيـا تـر اوسـه دلتـه څـهٔ کـوئ؟ ځـئ ورشـئ او خپـل امانـت تـر لاسـه کـړئ. او هـان ، خيـال کـوئ چـې ډوډۍ هلتـه ونـهٔ خـورئ، د ډوډۍ بندوبسـت مـا دلتـه کـړی دی او بلـه خبـره دا هـم ده چـې داسـي نـهٔ وي چـې سـخي يـا بـل څـوک تاسـو تـه هلتـه پـه ډوډۍ کـي څـه څيـز درکـړي او تاسـو تـر مـا نـهٔ بلکـې تـر خدايه ورسېږی.

خانـه دا دي ډېـره ښـه خبـره وکـړه،دې تـه زمـوږ پـام هـم نـهٔ ؤ، درځـه مـلا جانـه چـې ناوختـه شـو ، لاره هـم اوږده ده. دلبـر و خـان تـه د خبري کولو پس په ولاړېدو کي و ملا زمري ته وويل.

مـلا زمـری هـم ولاړ شـو ، خپلـه لـونګۍ يـې سـمه کـړه او د دلبـر سـره د کـوټې نـه او بيـا د مېلمسـتون نـه ووتـو ، او سـيدها مـخ پـه بـر کلـي روان شو.

دا وخــت د ماخوســتن اولــه برخــه شــروع وه، ســپوږمۍ هــم د شپاړســمي شــپې جلــوه راښــکاره کــړې وه، دوی دواړه د پټــو پــه پولـو ښـه پـه خنـدا خنـدا روان وو ،کلـه کلـه بـه يـې يـو د بـل سـره ټـوکي هـم وکـړې، اخـر دوی د سـخي و کـور تـه ورسـېدو ........ د سـخي کـور د کلـي څـه لـږ لېـري ؤ ،دا کـور د پټـو پـه منـځ کـي ؤ ، شـاوخوا يـې تـک شـنه پټـي ؤ چـي د شـپې تـور ښـکاره کېـدل، د خـان بهـادر کـور بيـا د کلـي پـه ابـل سـر کـي ؤ چـي د سـخي د کـوره نـهٔ معلومېـدو ، سـخي د دوی پـه انتظـار کـي د کـور څـه دبانـدي ولاړ ؤ ، سـخي سـوچ کاوه که ملا زمری نهٔ راغی نو بيا به څهٔ کېږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه فکر کي ۇ چي په دوو سايو يې نظر ولګېد وکومي چي د دۀ په خوا راروانې وې،دواړي سايې د دۀ په خوا په کراره کراره راروانې وې، دۀ ته وام ولوېدو، خو اخر يې په غږ کړو چي څوک ياست ؟

په هغو دواړو کسو کي يو په غږ کړو چي ، موږ يو .

د سخي زړۀ ډاډه من شو ، دواړو کسانو ته مخته ورغی او يوه کس ته يې په ګيله وويل چي، ملا صاحب ډېر ځنډ مو وکړی.

هغه کس په غږ کړو چي، ډېره تازيله دي نۀ ده؟ اول خو دي ورځي غوښتې اوس د ځنډ خبري کوې ؟ ملا زمري د روغبړ پس په ځواب کي ورته وويل.

نا هغه خبره نۀ ده، تاسو راځئ دننه کورته مجلس کوو .

دري سره کسان سيدها د سخي وکورته ننوتو ، د کورو دروازې ته مخامخ دوې کوټي وې، او د دروازې سره يوه ورکوټې کوټه وه. دا ورکوټې کوټه د سخي د مېلمنو کوټه وه. سخي دوی دواړه په دې ورکوټي کوټې کي کښېنول او دی د اوبو د پاره د کور د کوټو خوا ته روان شو .

په سقر ( دوزخ ) کي يې حوره پټه کړې وه سخي، او ما دا حوره راپيدا کړه، اوس له خيره به يې د دې سقر نه بهشت ( جنت ) ته بيايم. ملا زمري د ډيوې په رڼا کي و کوټې ته شا وخوا وکتل او دا خبره يې وکړه.

ملا ماته خو دا کوټه د غوا غوجله معلومېږي، څو مره بدبوداره ده، ستا خبره ټهيک ده چي دا سقر دی. دلبر په پوزه څادر ونيوو او دا خبره يې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر لږ ساعت یې برداشت کړه، مازي خپله حوره زهٔ تر لاسه کړم، بیا به په ژوند دې سقر ته مخ راوانه ړوم.

سخي د کوټې د ورهٔ سره پټ ولاړ دا خبري اورېدې، په زړهٔ کې یې ځان ملامتولو، چي څومره غلط کار ته دي لاس اچولی ؤ، خان ټهیک ویلې چې د انګرېز په ډوډی خواره بهروسه کول خپل ځان ته دوزخ کتل دی، لږ ساعت پس څلورکسان چي مخونه یې پټ کړي وو او صرف سترګي یې ښکاره کېدې و کوټې ته ناببره راننوتو. د دوو په لاس کي توپکان او د یوه په لاس کي توره او د یوه په لاس کي رسۍ وه.

یو توپک والا په ملا او د هغه په ملګري په زوره غږ وکړو چي، درېش! د ځایه ونشورئ. هلکه لاسونه تر شا ور وتړه.

یو کس د چا سره چې رسۍ وه هغه په یوه رسۍ د دواړو لاسونه تر ملا داسي ور وتړل چي دواړه څنګ په څنګ ودرېدل، او د رسۍ یو سر یې خپل په لاسو کي ټینګ ونیوو.

د رروان یې کړه، کله چي هغه د رسۍ واله کس دوی روانول نو ملا زمري ناره کړه چي؛

تاسو څوک یاست؟ موږ مو ولي وتړلو؟ موږ خو د سخي مېلمانه یو، تاسو لکه چي خطاوتي یاست؟

تهٔ موږ ته غلط او صحیح مهٔ راښیه، موږ تر تا ښه پوهېږو چي غلط څهٔ دي او صحیح څهٔ، د رروان یې کړه، د چا چي توره په لاس کي وه هغه کس دا خبره وکړه.

دواړه یې د غویو رنګه روان کړل، د کوره ووتل او سیدها د کلي د ابل سر په خوا روان شول، په لاره کي هیڅوک هم نهٔ ؤ. حتی چي په دې شپه سپو هم نهٔ غپل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ګل مینه او د ګل مینې مور نازکو هم په دغه شپه په کومه چې ملا زمری او دلبر اغوا شو د پښتنې سره د خان په کور کې مېلمنې وې. د نازکو خاله دا ګومانۀ چې دا ډوډۍ پښتنې د ګل مینې د وادۀ په خوشحالۍ کې کړې ده. ولې چې ګل مینه بل سبا ماخوستن ودېده. دا په هیڅ یوه کیسه نۀ وه خبره، که څوک خبرۀ نو هغه پښتنه او ګل مینه وې. بهادرخان سهار وختې لا و پښتنې ته ټوله کیسه کړې وه. هغې بیا ګل مینې ته هغه وخت وویلې کوم وخت چې دا د ډوډۍ د ست د پاره ورغلې وه او ګل مینه یې په اعتماد کې اخستې وه. دا خبره دې د نازکو خاله نه په دې پټه کړه چې پر هغې اعتبار نۀ ؤ.

د ګل مینې مور په نازو لورته وکتل او پښتنې ته یې په ځواب کې وویل چې زویه! د ګل مینې خو به خود ارمان پوره شي خو خدای دې ستا هم نېک ځای نصیب خلاص کړي.

خاله! ګل مینه ډېره بختوره ده، خدای دې هري پېغلې ته دا بخت ورنصیب کړي. پښتنې په داسې انداز ورته وویل چې پرته له ګل مینې نازکو خاله په دې خبري نۀ شوه پوه. ګل مینې و پښتنې ته وکتل او پښتنې و ګل مینې ته وخندل. دغه خبري شروع وې چې د بهادرخان غږ راغی، پښتنه زر ور ولاړ شوه، د ګل مینې مور ته یې وویل چې خاله زۀ زر راځم خان لا له غږ راته کوي.

پښتنه د کوټې څه راووته، خان د کوټې څه لېږ لیري ولاړ ؤ. پښتنه ورغله او د پلار په مخ کې ودرېده. خان ورته وویل چې زویه! مېلمانه ډېر شو، د ډوډۍ بندوبست شته او که نۀ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنه په دې خبره پوه شوه او په خوشحالۍ کې يې و خان ته غاړه ورکړه.

ماته يقين ؤ چې تهٔ به دا کار ضرور کوې.

او ماته دا يقين نهٔ ؤ چې دا کار به دومره په اسانۍ او زر کېږي. خان د پښتنې په سر لاس کېښودی او په خندا يې دا خبره ورته وکړه.

اوس مخ ته څهٔ کول پکار دي ؟ پښتنه د خان د سينې څه لېري شوه او دا پوښتنه يې ځني وکړه.

اوس به تهٔ د سخي کورودانه داسې قانع کوې چې کوم سړي چې ګل مينه غوښتې وه هغه وتښتېدی. هغه د انګرېزانو جاسوس ؤ او په هغه مجاهدين خبر شول. د مجاهدينو څه بچ کېدو د پاره هغه وتښتېدی او سخي ته يې حال رالېږلی دی چې زهٔ ستاسو لور نهٔ شم کولای، پوه شوې ؟

سمه ده زما سر په خلاص شو.

هان که ضرورت شو نو زهٔ به سخي درته راولېږم، ما هغه پوه کړی دی.

خان د دې خبرې سره سم د مېلمستون خوا ته ولاړی او پښتنه د کوټې خوا ته ولاړه.

سخي ماما راغلی ؤ او خان لاله ته يې عجيبه خبره کړې ده،

څنګه خبره ؟

هغه ويل چې کوم سړي ته چې تاسو ګل مينه ورکړې ده هغه د انګرېزانو ملګری ؤ، اوس مجاهدين په خبر شوي دي، هغه چې کله خبر شو نو وتښتېدی او سخي ماما ته يې حال راليږلی دی چې زهٔ ستا لور نهٔ شم کولای. زما د خوا درپاته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هــائي زوی دي و مــره، دو مــره لويــه دهو كــه، او س بــه زۀ څــۀ كوم، د ګل ميني مور په ژړا شوه.

خالــه ! تــاخو دا ويــل چــي دا ســړی د ســخي ماما د لېـري خپـل دی نــو ســخي ماما تــه دا نــۀ وه معلو مــه چــي دی د انګرېزانــو ملګـری دی ؟

هـائي زويـه، د چـا پـر تنـدي ليكلـي دي چـي دا ښـه دی كـه بـد، او پاته شوه د خپلوي خبره نو زويه هغه دروا غ وه.

نـو بيـا دا څـو ک ۇ ؟ دا چـا درښـو دلی ۇ چـي تاسـو د ګـل غونـدي لور ور و بخښله ؟

زويـه ! دا سـړی يـو وار زمـوږ كـره راغلـی ۇ، هغـه هـم هغـه وخـت چـي زۀ ناروغــه وم، دۀ ماتــه څــه ځاښــتونه راكـړو، د هغــې څــه الله ماتـه شـفاء راكـړه، د دۀ و شـرافت تـه چـي مـا وكتـل نـو ډېـر ښـه انسـان راتـه ښـكاره شـو، بيـا يـوه شـپه د ګـل مينـي پـلار راتـه وويـل چـي مـا ګـل مينه و دغـه سړي تـه وركړه، كـه څـه هـم د دې سړي عمر لږ زيـات ۇ، مـا هـو ورتــه وكـړه چـي ښـه دي كـړي دي سـړی شـريف دی، عـالم دی، د لــور بــه مــو دواړه لاســونه پــه غــوړو كــي وي، دا خبـره ګــل مينـي واورېـده او پــه چغـو شـوه چـي زۀ يـې نـۀ كـوم، دا دی نـن د ګـل مينــي د زړۀ ارمــان پــوره شــو. د نــازكو خالــه د ســترګو اوښــكي رواني وې او دا خبري يې ورته كولې.

خيـر هـر څـه چـي وشـو پـه دې كـي هـم دخـداى يـو مصـلحت ۇ، دخـداى پـه كـارو څـوک پـو هېږي، تـۀ اوښـكي پـاكي كـړه زۀ ځـم ډوډۍ را اخلــم. پښــتنه د دې خبــري ســره ســمه ولاړه شــوه، ولاړه ډوډۍ يـــې راواخســـته، درې ســـره زنانـــاۀ ډوډۍ وخـــوړه، د ګـــل مينـي مـور لــږ وخـوړه ويـل يـې خـوا تـه مـي نـۀ كېږي. ګـل مينـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحاله وه چې خدای د لوی افت څخه بچ کړه. د ډوډۍ وروسته نازکو خاله و پښتنې ته وویل چې، ته یو څوک خو ورواستوه چې د ګل مینې و پلار ته غږ کړي او موږ کور ته بوځي. پښتنې ډېر ورته وویل چې نن شپه پاتې شی. خو نازکو خاله نهٔ ورسره منله. اخر پښتنې د ګل مینې په هکله ورته وویل چې ګل مینه خو راپرېږده اوس خو هغه دی وادهٔ هم پاته شو، سبا سهار به یې زهٔ خپله درولم، اول خو نازکو خاله نهٔ منله خو وروسته یې و منله. پښتنې هم و سخي ماما ته حال ولېږلو. لږ ساعت پس سخي ماما او نازکو خاله خپل کورته ولاړو او ګل مینه د پښتنې سره د هغوی په کور کې پاته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

د ماخوستن د واقعي خوفناکه عکس لا د ملا زمري په دماغ قابض ؤ. هغه حیران ؤ چي دا څوک خلک وو ؟ دا څه غواړي ؟ او سخي؟ سخي هم په هغه وخت ورک شو، دا خو به سخي نهٔ وي کړي ؟ یا دا کار خو به بهادرخان نهٔ وي کړی؟ یا بهادرخان دا نهٔ شي کولای، سخي زموږ ملګری دی، هغه ماته دهوکه نهٔ شي راکولای، ولي که هغه ماته دهوکه راکړي نو د هغه حال خو هم له موږ سره دی. په دغه سوچو کي وو چي دلبر په غږ کړو چي ملا زمریه! دا په کوم دام کي راګیر شو ؟

زهٔ پخپله په دغه فکر کي یم چي دا څوک کېدای شي ؟

که خفه کېږې نهٔ نو یوه خبره درته وکړم .

څنګه خبره ؟

هغه دا چي کېدای شي چي دا کار خان جهان کړی وي.

خان جهان؟ هغه به یې ولي کوي ؟ ماته دا کار د بازید ښکاري.

د بازید ؟

هو بازید ، هغهٔ زموږ په ټولو کارو خبر ؤ، کېدای شي چي هغه د کلي څه زموږ ښار کړی وي.

کېدای شي، خو یوه خبره بله هم ده، په موږ یو خان جهان او بل سخي خبر وو.

خیر تهٔ لږ صبر وکړه، معلوم به شي چي څوک دي او څهٔ غواړي؟ د دوی خبري شروع وې چي یو کس د کوټې و دروازې ته راغی. د کوټې دروازه چي د دباندې څه بنده وه خلاصه کړه. دې کس مخ پټ کړی ؤ. دهٔ دوی ته وچه ډوډۍ او سوړ کتغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړی. د دوی په مخ کي یې کښېښودی او ورته یې وویل چي دا وخوري.

موږ دا نهٔ خورو.

ستاسو خوښه ده، ما درته ایښي دي که خوري او که نهٔ. زهٔ وروسته راځم او دا وړم.

تهٔ موږ ته دا ووایه چي موږ مو په څه ګناه کي دلته راوړي یو ؟ او تهٔ خبر یې چي موږ څوک یو ؟

زهٔ ښه خبریم چي تاسو د چا ډوډی خواره یاست او په دې هم ښه خبریم چي تاسو یې دلته ولي راوړي یاست. راغلي کس ورته وویل.

تاسو څوک یاست ؟

ډېر زر به درته معلوم شي چي موږ څوک یو.

د دې خبري سره هغه کس چي دوی ته یې ډوډی راوړې وه ووت.

دلبر ډوډی ځان ته نږدې کړه خو نابیره ملا زمري په غبږ کړو چي، خیال کوه چي وې نهٔ خورې، دا د دښمن چال دی، په دې کتغ کي څه کېدای شي.

دلبر زر ډوډی لېري کړه او ملا زمري ته یې رډ رډ وکتل.

ماخوستن چي کله دوی یې اغوا کړو نو د بهادرخان د کور بجائې یې د علي ګل اکا په کور کي په یوه کوټه کي بندي کړو. هغه په دې چي د بازید د خُلې چي ملا زمري د بهادر خان کور لیدلې دی. د دوی اول چال کامیابه شوی ؤ. اوس یې نو دویم چال ته د حقیقت جامه ورپه غاړه کوله. هغه داسي چي سخي یې د خان جهان و کور ته ولېږی. هغه د خان جهان په مېلمستون کي چغي وهلې چي تاخو ویل چي دا دومره ښه سړی دی. دا داسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا داسي، زۀ ټوله شپه ورته په انتظار وم، د دوی هیڅ درک هم نۀ شو معلوم، زما لور دومره خوښي ده چې دۀ و موږ ته په دومره ټېټه سترګه وکتل او خان جهان ورته قسمونه خوړل چې دوی ستا کور ته درغلو، زۀ هم د ماخوستن راهیسې پرېشانه یم چې دا څۀ شول.

خان جي زما دخیاله چې دوی و موږ ته دهوکه راکړه، څۀ پکي وایې ؟

په څه به دهوکه راکوي ؟ هر څۀ دۀ و موږ ته راکړو. قالینونه، سامانونه، روپۍ، سرۀ زر، سپین زر، زموږ هر خواهش یې را پوره کړو، نو په څه به دوی موږ ته دهوکه راکوي ؟

ولې دا موږ لږ ښه ورسره کړي دي ؟ ټول خلک مو د دۀ د فکر ملګري کړو. دی مو د دې علاقې باچا کړو. دی له موږه نور څۀ غواړي؟

یاره ستا د خیاله بهادرخان یا بازید خو به دا خلک نۀ وي ورک کړي؟

د دوی په تګ زۀ او تۀ خبر ؤ. هغو ته څنګه اطلاع کېدای شي ؟

خیر معلوم به شي، تا ته که څه معلومات تر لاسه شول نو زر تر زره یې تر ما راورسوه، ښه.

سمه ده خان جي.

د دې خبرو وروسته سخي د خان جهان څخه اجازه واخسته او سیدها راغی د بهادرخان و مېلمستون ته. ټوله کیسه یې خپلو ملګرو ته وکړه چې په دې خلکو به څۀ کوو ؟

خان ورته وویل چې یو څو ورځې صبر وکړه د حاجي غلام اکا زوی موږ جلال اباد ته لېږلی دی کله چې هغه راشي نو د دوی فېصله

(c) ketabton.com: The Digital Library



به هم وکړو. انشاءالله په علي ګل اکا به دوی بوج نهٔ شي، که څنګه علي ګل اکا ؟

بهادرخانه تهٔ خو د یو څو ورځو وایې. که کال هم پکې ووزي نو به هم غږ نهٔ وباسم او نهٔ به تاته ګیله وکړم.

په دغه خبرو پر دوی باندي غرمه شوه. د غرمې ډوډۍ ټولو د خان سره وخوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

هغه وخت او هغه ورځ راغله د کومي د معلوماتو د پاره چي دوی د حاجي غلام اکا زوی جلال اباد ته لېږلی ؤ.

د انګرېزانو پنځه بټالينه (فوځي دستې) د دوی پر کلي راغلل. د بهادرخان برکلی یې د درو خواو نه ونیوو. بهادرخان د کلي زلمي، سپین ږیري چاچي د جنګ وس درلود هغه یې ټول راغونډ کړي وو. دی نه ؤ خبر چي انګرېزانو د دۀ په لښکر کي خپل خلګ پرېښي دي.

خان د کلي د ملا اخوندزاده صاحب سره کور په کور په جرګو وو. انګرېزانو لا جنګ نه ؤ پيل کړی. هغو دوه واره خان ته د دوستۍ پیام رالېږلی ؤ. لاکن خان هر وار دوی ځواب کړي وو. د علي ګل اکا پر کور یې پېره هم کښېنولې وه او دا یې ورته ویلي ؤ چي، که لږ هم ملا زمري او د هغه ملګري چالاکي ښکاره کړه نو زر تر زره یې ختمویٔ.

د حاجي غلام اکا زوی تر اخره نۀ راغی. چا به ویل چي هغه نیول شوی دی، چا به ویل چي هغه د انګرېزانو سره ملګری شوی دی، چا څۀ، چا څۀ خو بهادرخان ته د دې حملې اطلاع د یو خط په ذريعه شوې وه بس په دې خط کي دا کمي وه چي په دې کي د حملې ورځ نۀ وه لیکل شوې. په دې دۀ په ملا زمري ډېر وس تمام کړو خو هغه خُله نۀ سپړله.

انګرېزانو درېیم ځل بیا د دوستۍ او مراعاتو پیامو خان ته راولېږی. دې ځلي خان و راغلو قاصدانو ته صفا وویل چي که ما بیا تاسو په دې علاقه کي ولیدای نو قسم مي دي په خدای وي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنونه به مو سپو ته او سرونه به مو کارغانو ته واچوم. قاصدان پوه شول چې د خان سره یوه لار هم نۀ کېږي. دوی نا امیده بېرته لاړل. د دوی د تلو نه وروسته خان یو خط د وزیر اکبر خان په نامۀ کابل ته ولېږلو. له بده مرغه هغه خط تر وزیر اکبر خان پورې نۀ ورسېدو او په لاره کې ونیول شو. قاصد ووژل شو، او خط د انګرېز سامراج و دربار ته ولېږل شو.

خدای خبر چې خان ته څنګه اطلاع راغله چې قاصد او خط دواړه نیول شوي دي. دۀ خپل ملګري په کومو چې د دۀ پوره پوره اعتماد وو راغونډ کړل. سهار په سپېدو کې پر انګرېز سامراج د برید کولو پرېکړه وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

پښتنې د ټپیانو د پاره له وخته لا بندوبست کړی ؤ. دې دوې ورځې مخکې د کلي تکړه ښځې او یو څو پېغلانې چې ګل مینه هم پکې وه تیاري کړې وې. د جنګ ورځ ډېره توده وه. دې واره ټپیان ډېر وو. پښتنه د نورو ښځو سره داسې مصروفه وه لکه د دې خپل سکه ورونه چې وي. ورونه به یې ولې نهٔ وو، دوی د وطن په ناموس او استقلال قربانېدل، ټپیان کېدل، دا خو د ورونو کار وي چې د وطن په ناموس او د وطن د سیاه سرو د عزت د پاره خپل سرونه په لاس کې واخلي.

دې د یوه ټپي د سر و ټپ ته مرهم پټۍ کوله چې یو نقاب پوش ټپي یې راوړی. دې ګل مینې ته غږ کړو چې هله ګل مینې دا وګوره. ګل مینې هغه زر زر د نورو ښځو په کومک یو پې خوا ته پرې باسی. د ټپي سترګي وچې پر پښتنې ولاړوي، ټپي و ګل مینې ته په زګېروي وویل چې، تهٔ........ پښتنه......... راوغواړه.........زهٔ و هغې ته.......... یوه خبره.......... کوم.

ګل مینې ته د دې ټپي غږ لږ شناخته غوندې معلوم شو. دا زر و پښتنې ته ورغله او هغه یې راوغوښته.

پښتنه هم راغله، د ټپي مخ اوس هم په نقاب کې ؤ، خو اخري سلګۍ یې شروع وې، څنګه چې پښتنه ورنږدې شوه نو ټپي زر د پښتنې لاس ټینګ کړو ،پښتنه هم په څنګ کې ورته کښېنسته، دهٔ لاس بېرته ور پرېښودو ،ټپي په سلګو وو........ ډېر په تکلیف ؤ.......... پښتنې همت وکړ او د ټپي د مخ نقاب یې وغوښتل چې لېرې کړي، لاس یې د مخ په خوا وروړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو، کله چي يې نقاب ته لاس ور سېد و نو په ټپي کي نابېره ساه راغله، سترګي يې خلاصي کړې او د پښتنې لاس يې بيا ټينګ کړو، پښتنې په حيرانګي کي يو وار خپل لاس ته او بيا د ټپي و لاس ته وکتل او په ډېر درد يې ورته وويل چي، ډېر په تکليف کي يې ؟ زهٔ به ستا زخمونه ومينځم او بيا به پټۍ په ولګوم.

ټپي په انکاري انداز کي سر وښوروی او سريې و يوې خوا ته وغورځېدی، پښتنې بيا د نقاب خوا ته لاس کړو، خو دې ځل........ ټپي........ هيڅ حرکت ونهٔ کړ....... هغه به ولي حرکت کوو........ د هغه حرکت او تکليف د تل د پاره ختم شو.......... پښتنې نقاب ځني لېري کړ......... او د نقاب د لېري کېدو سره د پښتنې سترګي رڼي د نقاب پوش چي دا وخت يې نقاب په مخ نهٔ ؤ، ونيولې.......... د پښتنې د سترګو غټي غټي اوښکي را رواني شوې............ ژبانګوي يې بنده شوه........ او د يو سوړ وجود غوندي يوې خوا ته ولوېده.

ګل ميني چي دا وليدل چي پښتنه وغورځېده نو زر يې ورته رامنډه کړه. هغه يې خپلي غېږې ته راپورته کړه او چغي يې شروع کړې.

پښتنې، پښتنې، ماته وګوره، پښتنې سترګي خلاصي کړه، پښتنې تهٔ ولي خبري نهٔ کوې، څهٔ در وشو، پښتنې، پښتنې. ګل ميني د پښتنې په خُله کي اوبه ور توی کړې، خو اوبه د حلقه څه لاندي نهٔ تېرېدې. ګل ميني چي هغه ټپي چي اوس په دې فاني دنيا کي نهٔ ؤ سترګي ولګېدې نو د ګل ميني سترګي هم رڼي راوختې، د دې په مخ کي د بهادرخان سوړ وجود پروت ؤ، د هغه بهادرخان چي د دې کلي په ننګ کي يې سر شيندلی ؤ، د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطن د ازادۍ په لار کې قربان شوي ؤ، په سپېڅلي دين قربان شوي ؤ، دهٔ و هغو خلګو ته چې هغوی د دې مقدسې لارې خبر نهٔ وو لار ور وښودله، د ګټې لار......د ننګ لار.........د غيرت لار........ د جنت لار........ د ازادۍ لار......... د سرلوړۍ لار.

په دا سبا ورځ د بې شمېره خلګو په اوښکو کې بهادرخان خاورو ته وسپارل شو. اخوندزاده په اديره کې و خلګو ته د ننګ او غيرت درس ورکړو. د پرون په جنګ کې د بهادرخان سره سره دېرش (۳۰) مجاهدينو د شهادت جام نوش کړو. د انګرېزانو له خوا يواويا (۷۱) کسان جهنم ته رسېدلي وو. دوارو خوا ته ټپيان بې شمېره وو.

د جنګ سنګر بيا هغسې تود شو. د اديرې نه وروستو دوی بيا هغسې په ميدان کې د ننګ چغه پورته کړه. خو د لښکر لاروی نهٔ ؤ. لښکر بې له مشره تيت وپرک شو. مشران د قامي غدارانو له لاسه شهيدان کېدل. انګرېزانو خپل زرخريد پښتانهٔ د بر کلي په لښکر کې شامل کړل. هغوی اول اخوندزاده صاحب او بيا يې علي ګل اکا شهيد کړو. دغسې جانو اکا حاجي غلام اکا او نور مشران يې له مخه وباسل. اوس په لښکر کې داسې څوک نهٔ ؤ چې مخ کشي يې کړې وائې. پرته له بازيد خانه ........ خو هغه ورک ؤ....... چېرې ورک ؤ...... چا ته نهٔ ؤ معلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

پــه ادیــره کــي چپــه چپــايي وه، پنځــه قبرونــه تــازه تېــره ورځ ســهار جــوړ کــړل شــوي وو، د يــوه قبــر و ســر تــه يــو کــس څــادر پــه ســر ناســت ؤ، دې کــس ژړل، ډېــر پــه کــراره غــږ يــې ژړل، داســي يــې ژړل کــه يــې څــوک څنــګ تــه موجــود وای نــو بــه يــې غــږ نــهٔ اورېــدو. دهٔ ژړل، پــه ژړا او په سلګو کي ګويا شو.

خانــه دا ټــول زمــا لــه لاســه، ټــول زمــا لــه لاســه، کــه مــا د دوی ملګــري نــهٔ وای کــړې نــو نــن بــه تــهٔ پــه دې تــورو خــاورو کــي نــهٔ وای پــروت، خانــه زهٔ ســتا مجــرم يــم، مــا لــه تاســره، لــه دې قامــه ســره، لــه دې وطــن ســره او د ديــن مبــين ســره ډېــر بــد کــړي دي، زهٔ د دې قــام، د وطن او د دين دښمن يم.

دهٔ د غــه خبــري د ځــان ســره کــولې چــي يــوه کــس د دهٔ پــه اوږه لاس کېښــودی. دهٔ زر هغــه لاس ونيــوو او پســې زر راولاړ شــو. چــي وې کتــل نــو يــو کــس او يــوه زنانــه چــي پــه چــادري (برقــه) کــي وه د دهٔ شــا تــه ولاړ وو. دا لاس د زنانــه ســره راغلــي ســړي ؤ. ســړي هــم پــه مــخ څــادر اچــولی ؤ. دهٔ زر پوښــتنه ځنــي وکــړه چــي، څــوک ياســت تاســو ؟

سخي ماما، زهٔ يم........ بازيد

تهٔ ؟ تهٔ دلته څهٔ کوې او دا ښځه څوک ده ؟

ســخي مامــا مــوږ د خــان د قبــر و زيــارت تــه راغلــي يــو او دا ښــځه د خان لور پښتنه ده.

پښــتنه ؟ ســخي پــه حيرانګــی کــي و زنــاني تــه وکتــل چــي دا وخت هم په چادري کي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو، پښتنه.

د لږ ساعت خاموشي پس پښتنې خپل د مخ څخه چادري آخوا کړه او سخي ته ګويا شوه.

سخي ماما، د ټول کلي ځوانان شهيدان شول، په کلي د انګرېزانو قبضه ده، خان جهان او يو انګرېز فوځي افسر زموږ پر کور قبضه کړې ده، بازيد په ډېره خطره کي زۀ د کلي راوباسلم، ستا کور ودانه او ګل مينه خپل په کور کي دي، خان جهان ستا سره سره د خپلو ورکو ملګرو په لټون کي د ټول کلي هر کور وکتو، د پردې او د ټکري هيڅ خيال يې نۀ وساتو، د پښتنې خبري شروع وې چي بازيد په منځ کي خبره وکړه.

سخي ماما، له موږ سره وخت کم دی، موږ له دې کلي زر تر زره ځان ايستل غواړو، ښه شو چي تۀ مو وليدې، که تۀ خپل ګناهونه پاکول غواړې نو زر تر زره هغه دوه کسان کوم چي د علي ګل اکا په کور کي موږ پټ کړي دي ختم کړه، او س موږ ته اجازه راکړه په موږ ډېر ناوخته دی.

که زما ګناهونه په دې کار پاکېدلای شي نو پوه شه چي زما ګناه پاکه شوه. سخي په ځواب کي ورته وويل او په سوچ کي شو.

هر څه چي کوې تۀ ښه پوهېږې، موږ درنه لاړو او هان زموږ د تلو هيچا ته هم مۀ وايه، ستا به په موږ ډېر لوی احسان وي. پښتنې ورته وويل.

بې غمه اوسه بچيه، ځئ په مخه مو ښه شه. اوس نو زۀ هم د خير د کار تلوار کوم. سخي د دې خبري کولو سره سم د کلي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا روان شو. پښتنه او بازيد دواړه د خان و قبرته ودرېدو. پښتنې چي کله د دعا د پاره لاسونه پورته کړو نو په ژړا شوه.

د بازيد هم د سترګو اوښکي راغلې، دعا ختمه شوه، دوی دواړه يوې خوا ته روان شول، کله په پټو کي، کله په شاړه کي، کله يا د نارنجو په باغ کي ،روان وو، روان وو او بس روان وو، په تلو تلو کي پر سهار شو، پښتنې په بازيد غږ کړو چي؛

ودرېږه، لږ دمه وکړم، پښو مي کار پرېښودو ،د دې خبري سره پښتنه په ځمکه کښېنسته، بازيد هم لږ لېري په ځمکه کښېنستو.

ما څو واره فکر وکړ چي تا ته به وايم خو بيا به مي اراده بدله کړه. بازيد ورته وويل.

زه پلار ډېره سخته اموخته کړې يم خو نه پوهېږم چي ولي مي نن پښو کار پرېښودو.

تا د پرون راهيسې هيڅ نه دي خوړلي، لږ مخ کي د کوچيانو مېنې دي، هلته به ځان ورسوو، کېدای شي چي هلته پناه او ډوډۍ پيدا کړو. بازيد په ځواب کي ورته وويل.

اوس نو رڼا له ختيځي خوا په ښکاره کېدو شوه، دوی هم خپل مزل په مخه کړو، يو ځای ورته د اوبه يخه چينه په مخه راغله، پښتنې او بازيد په هغه چينه اوبه اوڅښلې، د لږ دمې وروسته بيا دوی وو او مزل، ښه ډېر چي لاړل نو د کوچيانو کېږدۍ ښکاره شوې، د کېږديو لوګي يوه خوند وره ننداره جوړه کړې وه، د رمې غږ د دوی تر غوږو شو، چي لږ نور مخ ته لاړل نو د رمې سره روان شپانه دوی وليدل، هغه په غږ کړو چي اې! څوک ياست ؟ دا وخت چېري ځې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بازید په غږ کړو چي ستا مېلمانه یو.

خدای مو راوله، شپانۀ و دوی ته ورنږدې شو او د بازید سره یې روغبړ وکړو. بازید چي ولیدل چي شپانۀ د پوخ عمر سړی دی او په خبره سر هم خلاصوي نو یې ورته وویل چي، وروره اول خو دي نوم راوښایه؟

زما نوم تراب خان دی خو خلګ تورکی راته وایي.

توراب خانه، موږ له ډېره لېري راغلي یو، ټوله شپه مو په پښو سفر کړی دی، له پرون راهیسې مو هیڅ نۀ دي خوړلي.

دا خو دومره خبره نۀ ده، راځه وروره چي کوچ او د تناره توده مړی ډرباندي وخورم.

دوی د شپانۀ سره روان شول، لږ لېري د شپانۀ دوې کیږدۍ ولاړي وې، شپانۀ په خپلي کورودانی غږ کړو چي و ښځي! مېلمانه راسره دي اوري! مېلمه ته په دا بلي کیږدۍ کي ځای تیار کړه او دا د مېلمه سره زنانه د ځان سره کښېنوه او زر زر د کوچو او تودې مړۍ بندوبست وکړه، دوی ستړي دي.

هغه کوچۍ هم دا سي بېداره وه چي په یوه دقیقه کي یې ځای تیار کړو، بازید په په یوه کیږدۍ کي د تراب کوچي سره او پښتنه په دا بلي کیږدۍ کي د تراب د کورودانی سره کښېنسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

پـه هغـه ماخوستن پـه کـوم چـي سـخي ، بازيـد او پښـتني پـه اديـره کـي سـره وليـدل نـو سـخي سـيدها د علـي ګـل اکـا و کـور تـه ولاړی، د علي ګـل اکـا کـور د کلـي څخـه لېـري ؤ ، هغـه د غـرۀ پـه بېخ کـي ځـان لـه کـور جـوړ کړی ؤ او پـه دې تـول جنـګ کـي د يـوې خـوا څـه هـم څـوک و هغــه خــوا تــه نــۀ ؤ تللــي، دا د ســخي خوشــبختي وه کــه د ملازمــري بـد بختي چي هيڅ يـو هـم د دوو وروځـو پـه جنـګ کـي هغـې خـوا تـه نـۀ ؤ راغلـی، سـخي ځـان وررورسـوو، د کـور و دروازې تـه دوه کسـان تـوري پـه لاس ولاړ وو، سـخي و دواړو کسـانو تـه سـلام ورواچـوو، هغـو هـم پـه ځـواب کـي وعلـيکم ورتـه وويـل، سـخي پوښـتنه ځنـي وکـړه چـي څوک خو به نۀ يي راغلي ؟

نا نۀ دي راغلي. يو کس ځواب ورکړو.

هغه کسان خو به تښتېدلي نۀ وي ؟

نـا ، مـوږ دلتـه د څـۀ د پـاره ولاړيـو. دويـم کـس پـه ځـواب کـي ورتـه وويل.

ښه خبره ده.

مـوږ دا کسـان نـن ختمـول او يـوې خـوا تـه تلـو او هـان، پـرون درې کســه د کــوز کلــي دې خــوا تــه راغلــي وو او د دغــو دوو کســانو پوښـتنه يـې کولـه، مـوږ ورتـه وويـل چـي دلتـه يـو انګرېـز فـوځي افسر ارام کوي تاسو له دې ځايه ولاړشئ، هغوی هم زر ولاړو.

درځـئ چـي د دې کسـانو کيسـه ختمـه کـړو ، هسـي هـم پـه ځمکـه او اولــس دا بــوج دي. ســخي ورتــه وويــل او د کــور پــه دروازه ننوتی، هغه دوه کسه هم ورپسې ننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ هم دغه ویل چې جنګ ختم شو نو دوی د څه د پاره ژوندي دي. په هغو کې یو کس و سخي ته وویل.

دا جنګ تر قیامته نه شي ختمېدای، ته د تهه خانې ( زېرخانه ) دروازه خلاصه کړه، ولې چې یو بل کار هم شته هغه به هم تر سره کوو. سخي بېرته په ځواب کې و هغه کس ته وویل.

د کور په کوټه کې یوه ښکلې قالینه اواره وه. دوی دا قالینه لېرې کړه نو لاندې د تهه خانې ( زېرخانه ) لار وه. دوی درې سره د تهه خانې په پایو ( ځینو ) کښته تهه خانې ته روان شول. د پایو په اخر کې هلته یوه مضبوطه دروازه وه. دوی دا دروازه په یو مخصوصه چابي خلاصه کړه. دننه توره تیاره وه چې خپل د لاس ګوتې هم نه معلومېدې، سخي په دروازه کې ودرېدی او نور دوه کسان دننه ورغلو، یو کس د ډیوې رڼا جوړه کړه، په تهه خانه کې دوه کسان چې لاس او پښې یې تړل شوي وې پراته وو، دوی په هغو کې یو کس راپورته کړو او د سخي و مخې ته یې راوستو، سخي چې دې بندي ته وکتل نو هغه د ملازمري ملګری دلبر ؤ. دۀ ځوانانو ته وویل چې ختم یې کړئ، هغو هم سم د لاسه د کټارو (خنجرو) وارونه په سینه او نس کې وکړ، دلبر لږ چغه وکړه خو ډېر زر سوړ شو.

ملازمري چې دا ولیدل نو یې چغې شروع کړې چې، ما مۀ وژنئ، ما هیڅ نۀ دي کړي، زۀ بل وار دا کار نۀ کوم، سخي په شکي انداز کې پوښتنه ځینې وکړه چې دا راته ووایه چې ته یې څوک؟ له کومه راغلی یې؟ چا راستولی یې؟ ملا زمري په بد حواسی کې ورته وویل چې اې وروره زۀ نۀ پښتون یم او نۀ مسلمان، زۀ خو، زۀ خو یو انګرېز یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېز؟ دا څـهٔ وایـي، تـهٔ انګرېـزیـې، سـتا پښتـو، سـتا مسلماني، هغـه سـتا لمونځونـه، سـتا تاویزونـه، څانښتونه هغـه ټـول دروغ وو؟

هـو، هغـه ټـول دروغ وو، کـه مـا نـهٔ وژنـئ نـو زهٔ تاسـو تـه ټـول حـال وایم.

حـال کـه وایـې او کـه نـهٔ، مـرې خـو بـه. سـخي پـه قهـر کـي ورتـه وویل.

نـو سـمه ده زمـا کـار هـم دلتـه پـوره شـو، مـا هـم پـه تاسـو کـي داسي تخم پاشلی دی چي پـه پېړیـو پېړیـو بـه یـې زمـا انګرېز سـرکار مېـوه خـوري، زمـا رنګـه بـې شـمېره ملایـان پـه دې هېـواد کـي خپلـه دنـده تـر سـره کـوي، ستاسـو رنګـه بـې شـعوره، بـې علمـه خلـګ هغـه نهٔ شي پېژندلای............

سـخي پـه ځوانـانو غـږ کـړو چـي، ځُلـه یـې وربنـده کـړئ د دې منـافق، هغـوی هـم لکـه زمریـان پـه ملا زمـري یـې حملـه وکـړه، د مـلا زمـري پـه وجـود کـي یـو ځـای هـم روغ پـاتې نـهٔ شـو، سـخي لـه ډېـره قهـره د مـلا زمـري سـترګي ورو ایسـتلې، د ملا زمـري سـوړ وجـود د دهٔ پـه مـخ کـي پـروت ؤ، د دې کـاره چـي دوی فـارغ شـول نـو سـیدها د بهادرخـان د کـور پـه خـوا روان شـول، ولـي چـي هلتـه دا وخـت خـان جهان استوګ ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

پښتنې چې کله کوچ او د تناره تودو دوډۍ وخوړه نو سر وربانده ي درونه شو، سترګي يې پټې پټې کېدې، دې هم ويوې خوا ته ډډه ووهله او ويده شوه.

هلته په ابله کیږدۍ کي د بازید هم دغه حال ؤ، کوچي تراب اجازه ځني واخسته چي زه ځم، رمه مي ډېره لېري ولاړه، ده هغه ته اجازه ورکړه او خپله پرېوتو.

لږ ساعت چي دوی دواړه په خواږه خوب ویده وو نو لس یا دوولس کسان وسله وال چې په اسانو سپاره وو دې کیږدیو ته راغلل. غږ یې وکړ چي څوک شته او که نه؟

خو د کیږدیو څخه چا ځواب ورنه کړو، ولي چي د کوچي تراب کورودانه دا وخت د بوټو پسې تللې وه.

وسله وال راشي د کیږديو خُلو ته ودرېږي، يو وسله وال و هغي کیږدۍ ته ورشي چې په کومه کي بازید ویده وي، بازید ویښ وي، هغه ځان په خوب اچولی وي، څادر یې په مخ وي، وسله وال راشي او غږ په او کړي چي، وروره، هو کوچي وروره، بازید غږ نه باسي، د زړه درزا يې وارپه وار تېزېږي، هلته پښتنه هم راویښه شوې وي، هغه هم په خوف کي وي، دغه وسله وال په آنورو غږ کړي چي، زما د خیاله دا کوچي مړ دی، هيڅ غږ نه باسي.

ته یې لږ وښوروه. د وسله والو مشر ورته ووایي.

سمدي، وسله وال د دې خبري سره سم کیږدۍ ته ننوزي، هغه په توره د بازید څادر لېري کړي، څنګه چي د بازید د مخه څادر لېري شي نو دا وسله وال شا ته وغورځي او چغه کړي، مدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـه دی، پیـدا شـو ، دغـه دی، ټـول وسـله وال د اسـونو څخـه را کـوز شي او د کيږدۍ شاوخوا ودرېږي.

يـو وسـله وال چـي د دوی مشـر معلومېـدو غـږ کـړو چـي، ظالمـه ټولـه علاقـه مـو دړیسـې وکتـه او تـهٔ دلتـه پټ یـې، بازیـد هـم راپورتـه شـي او پـه کیـږدۍ کـي ودرېـږي. هلکـو وې تـړئ او پـه اس يـې واچـوئ. څلـور کسـان راشـي بازیـد وتـړي او پـه اس یـې واچـوي، هلتـه د ابلـي کیـږدۍ څـه پښـتنه پـه منـډه راووزي، څنګـه چـه بازیـد ووينـي چـي لاس او پښـې يـې تړلـي پـه اس چپـه پـروت دی نـو چغـي کړي . ظالمانو دی مو ولي تړلی دی، دهٔ څهٔ کړي دي ؟

دا څوک ده ؟ د وسله والو مشر پوښتنه وکړه.

پښـتني تـهٔ ولاړه شـه، زمـا غـم مـهٔ کـوه، دوی پـه مـا هـیڅ نـهٔ شـي کـولای، پښـتني څـهٔ درتـه وایـم، ولاړه شـه، ځـهٔ ولاړه شـه. بازیـد پښتني ته چغي شروع کړې.

هــان...... پښــتنه....... د بهــادر خــان لــور....... دا خــو زمـوږ هېـره وه، ګـوره څنګـه یـې ځـان پخپلـه پـه لاس راکـړو ، ملګـرو د دې لاسـونه تـر شـا ور وتـړئ او پـه اس یـې کښـېنوئ، در روان یـې کړئ چي ډېر لوی لوی ښکارونه په لاس راغلي دي.

يــو وســله وال د پښــتني لاســونه ور وتــړي او پــه اس یــې کښـېنوي، هغـه کـس د بـل ملګـري سـره پـه اس کښـېني، دا ورکـوټې قافله بېرته د بر کلي په خوا روانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

سخي او د هغه ملګري د شپې په نيمايي کې د خان بهادر وکور ته ورسېږي. هلته او س خان جهان او دوه انګرېز فوځي افسران استوګن دي. دوی د کور و دروازې ته ورسېږي، هلته دوه کسان د وسلې سره ولاړ وي، هغه چې دوی ووينې نو غږ په وکړي چې، څوک ياست ؟

سخي غږ په وکړي چې زه يم، سخي د خان ملګری. دوی درې سره ملګري دغه دوه کسان په چل مړه کړي او کورته ننوزي، په کور کې انګرېزان سپاهيان پر کوټو پيرا کوي، هغوی چې وګوري چې درې کسان په کور را ننوتلي دي نو هغوی بې له پوښتنې زر د توپکو خُلې د دوی په خوا کړي، د توپک په مرميو د درې سرا وو سينې سوری سوری کړي، د ډزو (ټکانو) په غږ انګرېز فوځي افسران او خان جهان راويښ شي، دوی زر د کوټې څخه د باندې راووزي، چې وګوري په انګړ کې د درو کسانو په وينو لړلي ساړه وجودونه پراته وي، خان جهان ته يو مړی شناخته ښکاره شي خو دی غږ نه شي باسی چې زه دا پېژنم.

د درې سرا وو کسانو ساړه وجودونه د کلي په اخر کې وغورځول شي، سهار شي، پسې غرمه شي او د غرمې پسې ماسپښين شي، په بر کلي کې اوازه جوړه شي چې د خان جهان باغي زوی او د بهادر خان لور پښتنه يې نيولي دي، کلی ټول راشي د بهادر خان د کور و مخ ته ودرېږي، دوی دواړه دا وخت په کور کې دننه وي، خان جهان خپل زوی وبلي خوني ته بېولی وي او پښتنه په بله کوټه کې يکې يوازي ناسته ژاړي. دا هغهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټه وي کومه چي د جنګ له مخه د دې وي. دا نن په خپله کوټه کي يوه بنديوانه وي.

خان جهان خپل زوی ډېر پوه کړي، هر رنګه لالچ ورکړي، خو بازيد هيڅ يوه خبره هم نهٔ مني، بازيد په چغو کي ورته وايي چي؛

تهٔ د دې قام دښمن يې، تهٔ د دين دښمن يې، تهٔ د دې وطن دښمن يې، تهٔ د هغهٔ انسان قاتل يې چا چي په دې کلي، علاقې او وطن سر ورکړو. يو هغهٔ ؤ چي د وطن په مينه کي سرخرو شو او يو تهٔ يې چي ضمير ايمان ټول دي په وطن دښمن خرڅ کړو، زهٔ ستا زوی نهٔ يم، زهٔ د هغهٔ سړي زوی يم څوک چي د دې کلي په ننګ کي خاورو ته ولاړی.

بچيه! تهٔ زما په خبره ولي سر نهٔ خلاصوې، که ما ستا سفارش نهٔ وای کړی نو دوی به تهٔ له وخته لا خاورو ته سپارلی وې او يا به يې د سخي غوندي په ډېران غورځولی وې. تهٔ لږ سوچ وکړه، دا جاګير دا اسائشونه ټول ستا دي. ما چي څهٔ هم کړي دي ستا د پاره مي کړي دي. خان په دردمنه لهجه کي ورته وويل.

تهٔ څوک يې ؟ زهٔ تا نهٔ پېژنم، راوغواړه ستا باداران او ورته ووايه چي ما په دار کړي، زهٔ غلامي نهٔ منم، زهٔ مور ازاد زېږولی يم او تر مرګه به ازاد يم. ستا غوندي د انګرېز ډوډۍ خور نهٔ. بازيد د جذباتو څخه ډکه لهجه کي ورته وويل.

سمه ده، زهٔ تا ته تر سهاره وخت درکوم، بيا زهٔ ستا ذمه واره نهٔ شم جوړېدلای، تهٔ ښه سوچ په وکړه. خان جهان د دې خبري

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سم د کوټې څخه ووت. دوه کسان راغلو او بازید یې و بلې کوټې ته بوتلی چېرې چې نور قامي مجاهدین بندیان ول.

هلته په بندي خانه کې د دهٔ د پېژند ګلو یو ځوان چې په زخمي حالت کې یې نیولی ؤ. د هغه نوم شراف الدین ؤ خو خلګو به شینو ورته ویلو. ماخوستن شینو د بازید سره ډېر مجلس وکړ، بازید هم ټول حال ورته وویل.

بازید خانه! زما په فکر کي عجیبه خبره راغله، خدای خبر چې تهٔ به یې راسره ومنې که نهٔ ؟

څنګه خبره ؟

ګوره بازیده! تهٔ د دې زندانه وتی شې، زهٔ نهٔ شم وتی، تهٔ داسې وکړه چې پلار ته ووایه چې زهٔ توبه ګار یم، تهٔ چې څنګه وایې هغسې به کېږي. ستا پلار به تا له دې زندانه خلاص کړي. تهٔ پښتنه یو رنګه تر لاسه کړه او د دې علاقې څخه ځان وباسه. کوشش وکړه چې ځان کابل ته ورسوې. هلته ډېر داسې ملګري شته چې د بهادرخان لاله نوم ورواخلې نو دوی به تاسو ته پناه درکړي.

یاره دا دهوکه نهٔ ده ؟

څنګه دهوکه ؟ د بهادرخان لاله لور ستا په اسره ده، د هغې عزت بچکول اوس ستا ذمه واري ده، ګنې په اخرت کي به ستا ګرېوان او د خان لاس وي، هغه ستا څومره مرسته وکړه او یو تهٔ یې چې دومره نهٔ شې کولای؟

ټهیک دی شینو، زهٔ به دغسې کوم او هم دا اوس به یې کوم، تهٔ ورته ګوره چې زهٔ څه کوم. بازید دا خبره وکړه او د دروازې خوا ته ولاړ شو. په دروازه کې یې څو واره غږ کړو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان جهان ته وایه چي ستا زوی دي غواړي. ښه ساعت پس، خان جهان پخپله راغی. بازید ورته وویل چي پلاره! زهٔ له تا معافي غواړم. بهادرخان زما مازغه راخراب کړي ؤ، زهٔ یې ستا خلاف کړی وم، د خپل پلار خلاف. اوس ماته معلوم شو چي پلار پلار وي، پلاره ما معاف کړه. بازید په ژړا شو. خان جهان چي دا ولیدل چي زوی مي بېرته خپل شو نو یې په غېږ کي ونیوو او ورته یې وویل چي هیڅ خبره نهٔ ده , دیر آید ،درست آید. راځه تا به ډوډی هم نهٔ وي خوړلې، د سهار راهیسې مي وږی ساتلی یې. دواړه د یوې بلي کوټې خوا ته ولاړو. د بندي خاني دروازه بېرته بنده کړل شوه او دننه په بندي خانه کي شینو و خدای ته په زاری ؤ چي اې خدایه! تهٔ د پښتني خورکی ابرو خوندي کړې، تهٔ بازید تهٔ دومره طاقت ورکړې چي د پښتني د سر سوری جوړ شي، هغه د دې ظالمانو د لاسه خلاصه کړي. ربه! تهٔ یې مدد وکړې، تهٔ یې حافظ او ناصر شې. په دغه دعاګانو کي په ژړا شو او تر ډېره یې ژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

پښتنه په کوټه کې لـه ډېره وخته یوازې بې وسه ناسته وه. د شپې په دویم پړاؤ کې انګرېز فوځي افسر د شرابو په نشه کې ډوب کوټې ته ځنګېدلی راغی. پښتنې چې د دې وحشي سترګو ته وکتل نو خوف زده شوه. انګرېز فوځي چې پښتنې ته وکتل نو په انګلېسي ژبه کې یې بې اختیاره له خُلې ووتل،

Wow, Beautiful Girl

پښتنې ځان سره راټول کړو، فوځي په کراره کراره ورنږدې کېدو او په انګلېسي ژبه کې یې ورته وویل چې،

Common Girl I am Your Lover

لېري شه له ما کافره، لېري شه. پښتنې په ژړا کې په چغو دې انګرېز ته وویل.

انګرېز فوځي بیا ورنږدې شو، پښتنې په کوټه کې شاوخوا منډې شروع کړې، فوځي به کله ونیوله او کله به یې له کسته پرېښودله چې ښه ستړې شي نو بیا به ورسره ګورم.

په دغه منډو منډو کې پښتنه ډېره ستړې شوه او یوې خوا ته په یوه کونج کې په ژړا کښېناسته، هغه هم داسې لکه چې د یوې لویې بلا څخه ځان پټول غواړي، انګرېز بیا په کراره کراره ورنږدې کېدو او په خُله یې په انګلیسي کې دا الفاظ وو،

Now you can’t run, hahahahaha

ناببره دروازه خلاصه شوه، یو نقاب پوش تُوره په لاس کې کوټې ته رادننوتو، هغه چې دا ولیدل نو یې پر انګرېز د تُورې وارونه پیل کړو، په دقیقه کې یې د انګرېز له تنه سر جلا کړو او پښتنې ته یې غږ کړو چې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځـه وخـت نشـته. پښـتنه هـم زر ولاړه شـوه او د نقـاب پـوش سـره د کوټې ووته. نقاب پوش و پښتنې ته وويل چي؛

د دې کـور هـره لار تاتـه معلومـه ده، تـهٔ لـه مخـه شـه او د وتلـو يـوه داسـي لار چـي د چـا شـک نـهٔ وي بانـدي درځـه. پښـتنې هـم و نقـاب پوش ته وويل چي؛

راځـه زمـا د عـزت محافظـه، نـور کـار زمـا دی. د دې خبـري سـره پښـتنه لـه مخـه او نقـاب پـوش ورپسـې د يـوې کنـډوالې خـوا تـه روان شـول. د کنـډوالې دېوالونـه تـر نيمـايي پـوري غورځېـدلي وو. دواړه تـر دې دېوالـه واوښـتل. د لـږ مـزل کولـو پـس د لاري چـپ پـه يـوه بـاغ ورګډ شول. نقاب پوش ورته ويل چي؛

پکـار دا ؤ چـي مـوږ يـو اس تـر لاسـه کـړی وای نـو بـه زر د دې علاقې وتلي وای.

بازيـد خانـه نـور مـخ مـهٔ پټـوه، زهٔ دې د بيـا ليـدو نـه نااميـده شوې وم. پښتنې بازيد وپېژندو.

بازيـد هـم خپـل نقـاب لـه مخـه لېـري کـړو. دوی ډېـر تېـز تېـز روان وو. اخـر بـاغ ختـم شـو او يـوه شـاړه شـروع شـوه. خـو دوی تـه دا وخـت ډېـره خطـره وه. يـو خـو د سـپوږمۍ رڼـا ډېـره زياتـه وه او بـل انګرېـز فـوځي ځـه معمـولي کـس نـهٔ ؤ، هغـه د فـوځ مشـر ؤ، اوس نـو ټـول فـوځ پـه حرکـت کـي راغلـی وو. ځلـور خـوا تـه د دوی پسـې ځـار شروع شوی ؤ.

پښـتنې! لـه ډېـره وختـه مـي پـه زړهٔ کـي يـوه خبـره پټـه سـاتلي ده، خو د خان لاله د بېري مي د خُلې نهٔ ده راباسلې....

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ پـوهېږم چـي تـۀ څـه ویـل غـواړې، زمـا هـم دغـه حـال دی کـوم چـي سـتا دی. پښـتنې پـه تېزتېـز تلـو کـي ځـواب ورکـړو او د زړۀ خبره يې و څُلې ته راوسته.

بازیـد خانـه! پښـتنه اوس سـتا ده، کـه پـه اور کـي يـې اچـوې او که ټول عمر خوشحالي ورکوې دا اوس ستا اختیار دی.

زمـا پـه ژونـد بـه پـه تـا، تـود بـاد هـم نـۀ ولګېـږي، مـا کـه هـر څـه وبایلـل، خـان لالـه، اخونـدزاده صـاحب، علـي ګـل اکـا، مـور، يـو غـدار پـلار، علاقـه، کلـی، خـو مـا، مـا خپلـه مینـه وګټلـه. بازیـد پـه ځـواب کـي ورته وویل.

مینــــه ډېـــره غټــــه قربـــاني غــــواړي او تــــا هغــــه قربـــاني ورکړه.پښـتنې دغـه خبـره کولـه چـي د شـا دخـوا ناڅاپـه د توپکـو د مرمیـو بـاران شـو. پښـتنې چغـي کـړې، بازیـد دا د لاسـه ځخـه ټینګـه کـړه او پـه منـډه شـو، خـو د اسـانو د پښـو دربـی وار پـه وار رانـزدې کېـدو، ډزي (ټکـان) هـم زیـات شـوې، دوی دواړو منـډه وهلـه، ناڅاپـه د پښـتنې پښـه پـه یـوه تیـږه (ډبـره) ولګېـده او پښـتنه پـړ مـخ وغورځېده.

د غورځېدو سره يې لاس مات شو، خو بازید بېرته پورته کړه.

همـت وکـړه پښـتنې! دا کـافران پـه مـوږ هـیڅ نـۀ شـي کـولای. پښـتنه پـه ژړا وه، هغـې پـه ژړا کـي و بازیـد تـه وویـل چـي....... زمـا لاس..... زمـا مـلا ..... وی، زمـا لاس خـو ګرسـره کـار پرېښـوی. بازیـد دا چېـري دومـره پرېښـودی شـوه، دۀ د پښـتنې لاس ټینـګ ونیـوو دا یـې راپورتـه کـړه او بیـا پـه منـډه شـو، هلتـه د فوځیـانو اسـونه ډېـر رانـزدې شـوي وو، دلتـه د دوی د پښـو طاقـت دوی تـه ورو ورو ځواب ورکولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخـر سـپاهيان را ورسـېدل، ګېـر چـاپېره تـر دوی را تـاؤ شـول. پښـتنه بـې سـوده شـوه او وغورځېـده. بازيـد چـي د پښـتنې تـر مـلا لاس را تـاؤ کـړو نـو يـې لاس لونـد شـو ،دۀ چـي لاس بېرتـه زر را اوباسـی نـو لاس يـې پـه وينـو سـورؤ. دۀ چغـي کـړې چـي........ پښـتنې....... پـه تـا کـي مرمـۍ لګېـدلې وه او تـا ماتـه غـبږ هـم نـۀ کـــوو...... پښـــتنې ....... پښـــتنې ســـترګي خلاصـــي کـړه........... ځـواب راکـړه........ تـۀ چـپ ولـي يـې....... پښـتنې څـه خـو ووايـه....... بازيـد پـه داسي چغـو شـو لکـه ماشـوم چـي د خپـل ګـران څيـز پسـې هغـه هـم چـي ورک شـوی وي ژاړي........ پښـتنې هـيڅ ځـواب نـۀ ورکـوو.......... پښـتنه اوس د ځـواب نـۀ وه.......... هغـه ولاړه خپـل خـان لالـه لـه......... خپلـي مـور نـازولي مـور لـه......... هغـې خپـل ښائسـت...... پيغلتـوب پـر وطـن قربـان کـړ........د پـلار شـمله يـې ټيټـه نـۀ کـړه....... بلکـې د پـلار شـمله يـې دنګـه کـړه....... د پښـتنې پـه مـخ مسـکا وه......... خـدای خبـر چـي دا مسـکا د څـۀ وه ؟ پـه دې خو بـه نـۀ وه چي دا پر وطـن قربان شوه ؟ او يا پـه دې خـو بـه نـۀ وه چي د دې سور وجود دا وخت د خپل مئين په غېږ کي ؤ.

بازيـد پـه ژړا ځـان بـې حالـه کـړی ؤ. يـو انګرېـز فـوځي و بـل انګرېز فوځي ته امر وکړ چي،

Shoot him

هغـه ظـالم هـم حکـم پـه ځـای کـړو، بازيـد يـې دوې مرمـۍ يـوه پـه سـر او يـوه پـه مـلا وويشـتو، بازيـد هـم ډېـر زر د پښـتنې سره يـو ځـای شـو. د بازيـد پـه مـخ هـم مسـکا وه......... يـو انګرېـز فـوځي د اس څخـه راکـوز شـو او دواړه يـې وکتـل چـي ژونـدي خـو بـه نـۀ وي. چـي يقين يې وشو نو خپل افسر ته يې وويل چي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



Sir, they will gone

انګرېز بېرته په خپل اس کښېنستی، افسر په ټولو غږ کړو چي،

Let’s go, we finish our work

د پښتني په وينو رنګ سور وجود په ځمکه پروت ؤ او د بازيد په وينو رنګ سور وجود نيم په ځمکه او سر يې د پښتني په سينه پروت ؤ. دواړه په مسکا وو........... دواړه په ابدي خوب ويده شوي وو.

سهار د کوچيانو يوې کوشنۍ قافلې دوی دواړه خاورو ته وسپارلو......

هلته په بر کلي کي يو سړی د بهادرخان د کور په مخ کي په دار ځوړند ؤ.

د دې سړي ګناه دا وه چي دې سړي خپل زوی له بندي خاني څخه خلاص کړی ؤ او بيا د دهٔ زوی يو انګرېز افسر قتل کړو....... لحاظه دی په دار کړل شو. بر کلی د انګرېزانو په ډېر محفوظه کلا (هېډکوارټر) کي بدل شو. د نور وطن د نيولو دپاره اوس نو انګرېزانو نوي نوي منصوبې پيل کړې. دا وار دوی د خانانو او ملايانو سره سره د وطن وکدارانو ته لاس واچوو.

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**